نوے اضافه شوے ایډیشن
مع تصدیقات قدیم وجدید

# المُهَنَّد عَلَی المُفَنَّد

یعنی

## عقائدِ علماءِ اہلِ السنّت والجماعت دیوبند

تالیف
فخر المحدثین حضرت مولانا خلیل احمد
سهارنپوری قدس الله سره العزیز

او ورسره
عقائد اهل النسة والجماعة

ضمیمه د
حضرت مولانا مفتی سید عبدالشکور ترمذی
نوی او قدیمه تصدیقات

زیر اہتمام
کفایت اللہ ارمانی
0344-9995990

مکتبہ اعزازیہ
محلہ جنگی پشاور

# المهند على المفند

یعنی

# عقائد اهل سنت دیوبند

تألیف

**فخر المحدثین حضرت مولانا خلیل احمد**

سهارنپوری قدس الله سره العزیز

او ورسره

**عقائد اهل السنة والجماعة**

ضمیمه د

حضرت مولانا مفتی **سید عبدالشکور** ترمذی

او نوی او قدیمه تصدیقات

ناشر

**مکتبه اعزازیه محله جنگی پېښور**

ټول حقوق په حق د ناشر کښي محفوظ دي

دکتاب نوم: المهند علی المفند عقائد اهل السنت علماء ديوبند
تأليف : مولانا خليل احمد سهانپوری
اضافه ضميمه : مولانا سيد عبد الشکور ترمذي
پښتو مترجم : مولانا حبيب الرحمن ( حبيبی)
بر ېښنايي کوونکی: عزت الله سلطانزی
ناشر: مکتبه عزازيه محله جنګی پيښور

باور کتابتون
دا کتاب د باور کتابتون څخه ښکته (ډانلوډ) شوی دی
Bawar.nt
www.facebook.com/Ezatullahsultanzai

**فهرست**



| مضمون | صفحه |
|---|---|
| [د دیوبند د علماؤ رحمهم الله تصدیقات] | ۹ |
| د دیوبند د لویو علماؤ دامت برکاتهم العالیه نوی تصدیقات | ۱۰ |
| د دیوبند د لوړو علماؤ مختصر تعریف | ۱۲ |
| جهادی ازادی | ۱۴ |
| د دارالعلوم دیوبند بنیاد | ۱۵ |
| یوه تکفیری فتنه | ۱۸ |
| د حسام الحرمین حقیقت | ۱۹ |
| المهند علی المفند نوی چاپ | ۲۰ |
| سوال(۱)،(۲) د سفر د کجاوی تړلو په متعلق سوال او د هغه جواب | ۳۰ |
| سوال(۳)،(۴) توسل په نبی ﷺ او په اولیاؤ او صالحین | ۴۰ |
| سوال(۵) په ژوند د جناب کریم ﷺ کښی ۔ | ۴۱ |
| سوال (٦) په قبر اطهر د جناب کریم ﷺ د دعا کولو طریقه | ۴۲ |
| سوال (۷) په جناب کریم ﷺ ډیر درود ویل او دلائل الخیرات ویل | ۴۵ |
| سوال (۸،۹،۱۰) د ائمه اربعه وو د تقلید حکم | ۴٦ |
| سوال (۱۱) د صوفیه کرامو سره مشغولیدل او د دوی په لاس بیعت کول او د دوی نه فیض حاصلول | ۴۸ |
| سوال(۱۲) خاص د وهابیانو په باره کښی حکم | ۴۹ |
| سوال (۱۳،۱۴) د استواء علی العرش مطلب | ۵۲ |

| | |
|---|---|
| سوال (۱۵) رسول الله ﷺ تر ټولو بهتر بلل | ۵۳ |
| سوال (١٦) د رسول الله ﷺ نه بعد بل چاته نبی ویل | ۵۴ |
| سوال (۱۷) رسول الله ﷺ خپل مشر ورور ګڼل (نعوذ بالله تعالیٰ من ذالك) | ۵۸ |
| سوال (۱۸) د ټول مخلوق جناب کریم ﷺ ته زیات علم ورکړی شویده | ٦٠ |
| سوال (۱۹) د شیطان لعین د علم په باره کښی دلائل قاطعه په یو عبارت باندی د شبه جواب | ٦٢ |
| سوال (۲۰) د ایمان د حفاظت په یو عبارت باندی د شبه جواب | ٦٦ |
| سوال (۲۱) د انحضرت ﷺ مشرف ولادت محبوب یا مستحب کیدل | ۷۰ |
| سوال (۲۲) د حضرت ګنګوهیؒ په یو عبارت د شبه جواب | ۷۴ |
| سوال (۲۳) په حضرت ګنګوهیؒ یو بهتان او د هغه جواب | ۷۸ |
| سوال (۲۴) د الله تعالیٰ په کلام کښی د کذب دوهم کولو والا هم کافر ده | ۸۳ |
| سوال (۲۵) د دروغو د امکان مطلب او د اهل السنت والجماعت په کتابونو کښی د همدی مسئلی حل | ۸۴ |
| سوال (٢٦) د قادیانیانو په باره د اهل سنت والجماعت عقیده | ۹۵ |
| تصدیق حضرت مولانا الحاج المولوی محمود حسن صاحب | ۹۸ |
| تحریر منیف حضرت مولانا الحاج میر احمد حسن صاحب امروهی | ۹۹ |
| تحریر حضرت مولانا الحاج المولوی عزیز الرحمن صاحب | ۱۰۱ |
| کلمات بابرکت حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب | ۱۰۲ |
| تصدیق حضرت مولانا الحاج الحافظ الشاه عبدالرحیم صاحب | ۱۰۲ |

| | |
|---|---|
| تسطیر حضرت مولانا الحاج الحکیم محمد حسن صاحب | ۱۰۳ |
| تحریر جناب مولانا الحاج المولوی قدرت اللہ صاحب | ۱۰۴ |
| تحریر حضرت مولانا الحاج المولوی حبیب الرحمن صاحب | ۱۰۴ |
| تحریر حضرت مولانا الحاج المولوی محمد احمد صاحب | ۱۰۵ |
| تحریر مولانا الحاج المولوی غلام رسول صاحب مدظلہ | ۱۰۵ |
| تحریر جناب مولانا المولوی محمد سہول صاحب | ۱۰۶ |
| تحریر مولانا المولوی عبدالصمد صاحب | ۱۰۷ |
| تحریر مولانا الحاج الحکیم محمد اسحاق نہتوری | ۱۰۹ |
| تحریر المولوی ریاض الدین صاحب اطال اللہ بقائہ | ۱۰۹ |
| تحریر جناب مولانا المولوی ضیاء الحق صاحب زید قضلہ العمیم | ۱۱۰ |
| تحریر جناب مولانا المولوی محمد قاسم صاحب زید فضلہ العمیم | ۱۱۰ |
| تحریر مولانا الحاج المولوی عاشق الهی صاحب | ۱۱۱ |
| تحریر جناب مولوی سراج احمد صاحب دام فیضہ | ۱۱۲ |
| تحریر جناب مولوی حکیم مصطفی نفعنااللہ لوجودہ وجودہ | ۱۱۳ |
| تحریر حضرت مولانا الحاج الحکیم محمد مسعود احمد صاحب | ۱۱۳ |
| تحریر جناب مولانا المولوی محمد یحیی صاحب | ۱۱۳ |
| تحریر جناب مولانا المولوی کفایت اللہ صاحب زاداللہ علمہ ورشدہ | ۱۱۵ |
| **هذه خلاصة تصديقات** | ۱۱۷ |
| السادة العلماء بمكة المكرمة زادهاالله تعالى شرفا وفضلا | ۱۱۷ |
| تقريظ حضرت مولانا الشيخ محمد عابد مفتي المالكية | ۱۲۵ |

| | |
|---|---|
| تقريظ حضرت مولانا محمد على بن حسين مالكى | ١٢٦ |
| خلاصة تصاديق علماء مدينة المنورة زادهاالله شرفا وتعظيما | ١٢٨ |
| **خلاصة التصديقات لسادة العلماء بمصر والجامع الازهر** | ١٣١ |
| د حماة شام د علماؤ كرامو تصديقات | ١٣٨ |
| عقائد اهل السنة والجماعة | ١٦٠ |
| عقائد علماء ديوبند | ١٦٥ |
| تصديقات اكابر علماء ديوبند بركاتهم | ١٨٢ |


★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

## ﴿ د ناشر عرض ﴾

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد! دغه کتاب (المهند علی المفند) د محترم فخر المحدثین قطب الواصلین حضرت مولانا خلیل احمد صاحب محدث سهارنپوری قدس الله سره یو مشهور تصنیف ده په دی تصنیف کښی بعضی متعصب او گمراه خلکو ته د هغه مکروه او فاسدو پروپیگنډو جواب هم ورکړې شوی دی د اهل سنت والجماعت مسلمه عقائد هم په کښی درج دی داسی عقائد چه د پوره امت مسلمه د پاره د قدیمه د منلو وړ دی او علماء دیوبند رحمهم الله هم د هغو عقائدو متحملین دی حق تعالیٰ شانه په علماؤ دیوبند باندی په اوسنی دور کښی یو خاص رحمت نازل کړی دی چه دوی په خپل دین مضبوط وو د افراط او تفریط د گرځو او غبارو نه برطرف وو ـ په دغه سلسله کښی د جمهورو علماؤ د مسلک وضاحت هم شویدې ـ نه دوی ته کله هم څه وهم او ویره نه ده محسوسه شوی نه د ملامت کیدلو د وهمه دَ دوی اواز تیټ شویدی دوی په هر دور کښی په صراط مستقیم باندی قدم ښوونکی وو دَ دوی دلته د عقائدو سختی او د حدیث د روایت په نظر د جمهورو مسلک کښی حفاظت فقه کښی قسما قسم او تصوف کښی سوزیدل او ویلی کیدل د دغه ښائسته مناسبت سره ملاویږی چه د کوم شی سره د دین دَیو شعبی حق تلفی نه کیږی او د دین هره خبره بر ملا او ښکاره او دشبهاتو نه لوړه په نظر کښی راشی ( رزقناالله اتباعهم ) دغه صراط مستقیم چه د قرآن او حدیث د نصوص او حالات او خوند سره عین مطابق ده او په دغه لاره باندی دغه علماء حقانیین قدم ښوونکی دی خو چه کله کله د افراط او تفریط د تاریکیو اثار ظاهر شی دغه کتاب کښی ئی علماؤ د هغو اثارو د وینځلو

طریقه واضح کړی ده مګر خادمانو د اهل سنت والجماعت خپل قول او فعل او تقریر او تحریر ئی د دغه ګرد او غبار نه صفا کړی دی د عامو مسلمانانو د پاره ئی د حق لاره واضحه کړی ده د دغه سلسلی یوه کړی دغه کتاب دی چه دغه ستاسو مخکښی حاضر دی د دغه نه تاته د اهل سنت والجماعت د عقائدو علم حاصلیږی د زیاتی فائدې لپاره ما د دغه کتاب (المهند علی المفند) په اخر کښی د مولانا مفتی عبدالشکور ترمذی صاحب (مدظلهم) رساله (عقائد اهل السنت والجماعت) شامله کړی ده چه په حقیقت کښی د المهند خلاصه ده او د دغه په اخر کښی د موجوده دور د علماء کرامو تصدیقات هم ثبت دی [ الله تعالیٰ دی په خپل فضل او کرم سره دَ علم او عمل په هر میدان او په سنت د رسول الله ﷺ استقامت راکړی د صحابه کرامو دَ لمن دَ ټینګ تکیه کولو توفیق دی راکړی په ایمان او حسن عمل دې رب العالمین خاتمه رانصیب کړی۔

آمین

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العٰلمین

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★

## ﴿د دیوبند د علماؤ رحمهم الله تصدیقات﴾

(۱)تصدیق: شیخ الهند حضرت مولانا محمود حسن صاحب نورالله مرقده
(۲) تصدیق: حضرت مولانا میراحمد حسن صاحب امروهوی قدس سره
(۳) تصدیق: حضرت مولانا مفتی عزیز الرحمن صاحب مفتی اعظم دارالعلوم دیوبند۔
(۴)تصدیق: حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی قدس سره۔
(۵)تصدیق: حضرت مولانا شاه عبدالرحیم صاحب رائی پوری قدس سره۔
(٦)تصدیق: حضرت مولانا حکیم محمد حسن صاحبؒ دیوبند۔
(۷)تصدیق: حضرت مولانا قدرت الله صاحب مدرسه مراد آبادؒ ۔
(۸)تصدیق: حضرت مولانا حبیب الرحمن صاحب دیوبندیؒ
(۹) تصدیق: حضرت مولانا محمود احمد صاحب قاسمیؒ مهتمم مدرسه دارالعلوم دیوبند۔
(۱۰) تصدیق : حضرت مولانا غلام رسول صاحبؒ دارالعلوم دیوبند۔
(۱۱)تصدیق: حضرت مولانا محمد سهول صاحبؒ دیوبند۔
(۱۲)تصدیق: حضرت مولانا عبدالصمد صاحبؒ دارالعلوم دیوبند۔
(۱۳)تصدیق: حضرت مولانا حکیم محمد اسحاق صاحبؒ نهوړی دهلیؒ۔
(۱۴)تصدیق: حضرت مولانا ریاض الدینؒ مدرسه عالیه میرٹهـ
(۱۵)تصدیق: حضرت مولانا کفایت الله صاحبؒ دهلی ۔
(۱٦، ۱۷)تصدیق:حضرت مولانا ضیاء الحق صاحب وحضرت مولانا محمد قاسم صاحب مدرسه دهلی ۔
(۱۸)تصدیق : حضرت مولانا عاشق الهی صاحب میرٹهیؒ ۔
(۱۹)تصدیق: حضرت مولانا سراج احمد صاحب مدرسه سردهنه میرٹهـ۔
(۲۰)تصدیق:حضرت مولانا قاری محمد اسحاق صاحب مدرسه اسلامیه میرٹهـ
(۲۱)حضرت مولانا حکیم محمد مصطفی صاحب بجنوریؒ۔
(۲۲)تصدیق: حضرت مولانا حکیم محمد مسعود احمد صاحب گنگوهیؒ
(۲۳)تصدیق: حضرت مولانا محمد یحیی صاحبؒ سهارنپوری۔
(۲۴)حضرت مولانا کفایت الله صاحبؒ سهارنپوری ۔

**﴿د دیوبند علماؤ دامت برکاتهم العالیه نوی تصدیقات﴾**

(۱) حضرت مولانا قاری محمد طیب صاحب، مهتمم دارالعلوم دیوبند۔
(۲) حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب مفتی اعظم پاکستان۔
(۳) حضرت مولانا ظفراحمد عثمانی صاحبؒ ٹنڈو واله یار۔
(۴) حضرت مولانا محمد یوسف (بنوریؒ) ۔ کراچی۔
(۵) حضرت مولانا خیرمحمد جالندهریؒ ملتان۔
(٦) حضرت مولانا مفتی جمیل احمد تهانوی مدظلهم لاهور۔
(۷) حضرت مولانا مفتی محمود صاحبؒ ملتان۔
(۸) حضرت مولانا مفتی عبدالله صاحب مدظلهم ۔ملتان۔
(۹) حضرت مولانا مفتی عبدالستار صاحب مدظلهم ۔ملتان۔
(۱۰) حضرت مولانا عبدالحق صاحب (مدظلم) . اکوڑه خټک ۔
(۱۱) حضرت مولانا محمد احمد تهانویؒ سکهر۔
(۱۲) حضرت مولانا عبدالحق نافع صاحب۔ مدظلهم محمدی شریف۔
(۱۳) حضرت مولانا عبدالله بهلوی صاحب مدظلهم شجاع اباد۔
(۱۴) حضرت مولانا محمدانور صاحب انوری مدظلهم فیصل اباد۔
(۱۵) حضرت مولانا شمس الحق صاحب افغانیؒ بهاولپور۔
(١٦) حضرت مولانا سید حامد میان مدظلهم لاهور۔
(۱۷) حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم کراچی۔
(۱۸) حضرت مولانا مفتی محمد فرید صاحب مدظلهم اکوڑه خټک۔
(۱۹) حضرت مولانا مفتی احمد سعید صاحب مدظلهم سرگودها۔
(۲۰) حضرت مولانا مفتی محمد وجیه صاحب مدظلهم ٹنڈواله یار۔
(۲۱) حضرت مولانا علی محمد صاحب مدظلهم کبیروالا۔
(۲۲) حضرت مولانا مفتی عبدالقادر صاحب مدظلهم کبیروالا۔

(۲۳)حضرت مولانا محمدشریف صاحب کشمیری مدظلهم ملتان۔

(۲۴)حضرت مولانا سیدصادق حسین صاحب مدظلهم جهنگ۔

(۲۵)حضرت مولانا عبدالحی صاحب مدظلهم شجاع اباد۔

(۲۶)حضرت مولانا محمد عبدالله صاحب رائپوری ساهیوال۔

(۲۷)حضرت مولانا محمد عبدالستار تونسوی صاحب مدظلهم ملتان۔

(۲۸)حضرت مولانا محمد شریف جالندهریؒ ۔ ملتان۔

(۲۹)حضرت مولانا نذیراحمد صاحب مدظلهم فیصل اباد۔

(۳۰)حضرت مولانا محمد ادریس صاحب میرتهی مدظلهم کراچی۔

(۳۱)حضرت مولانا محمد علی صاحب جالندهریؒ ملتان۔

(۳۲)حضرت مولانا محمد ایوب بنوری صاحب مدظلهم پشاور۔

(۳۳)حضرت مولانا فضل غنی صاحب مدظلهم بنون

(۳۴)حضرت مولانا فیض احمد صاحب مدظلهم ملتان۔

(۳۵)حضرت مولانا محمد سرفراز خان صفدر صاحب گوجرانواله۔

(۳۶)حضرت مولانا قاضی عبدالطیف صاحب مدظلهم جهلم۔

د مولوی احمد رضاخان صاحب د حسام الحرمین رساله جوابونه په خپله علماء کرامو د حرمینو شریفینو کړیدی په خپل قلم سره ۔

★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★

## ﴿د دیوبند د لویو علماؤ مختصر تعریف﴾

### حضرت مولانا قاضی مظہر حسین صاحب مدظلہ

امام ربانی حضرت مجدد الف ثانی شیخ احمد سرهندیؒ او د ده کاملینو خلفاؤ په یوولسمه صدی هجری کښې او په دوولسمه صدی کښې امام المحدثین حضرت شاه ولی الله محدث دهلویؒ او د دۀ خاندان والا وو چه سعادت نشان وو په متحده هندوستان کښې په توفیق د رب العالمین جل جلاله د علم وعرفان او شریعت وطریقت چراغونه روښانه کړو دَ دوی مبارکانو د هدایت انوارو د دیارلسمی صدی به اواخرو کښې د حضرت مجدد الف ثانیؒ او د حضرت شاه ولی الله محدث دهلویؒ کاملین وارثین حضرت مولانا محمد قاسم صاحب نانوتویؒ د دارالعلوم دیوبند بانی او مؤسس او قطب الارشاد حضرت مولانا رشید احمد صاحب گنگوهیؒ تمام عالم اسلام منور کړو همدغه دواړه د شریعت او طریقت جمعه کونکی وو د سرور کائنات محمد ﷺ محبت او اطاعت دَ دوی په زړونو او اجسامو باندې احاطه کونکی وو - دوی مبارکانو خپل زیات قیمتی عمر د توحید او سنت په اتصال او د شرک او بدعت په انفصال کښې صرف کړی وو مذهب د اهل سنت ته او حنفی مسلک ته دغو حضراتو په خپل دور کښې ډیر زیات قوت وررسولی وو د امام اعظم ابو حنیفهؒ د تقلید په اتباع کښې دوی اخری درجې ته رسیدلی وو د علوم ظاهره وو نه علاوه دوی په باطنی علومو کښې هم د یو خاص مقام خاوندان وو دغه دواړو حضراتو د امام الاولیاء قطب العارفین حضرت حاجی امدادالله صاحب چشتی مهاجر مکی قدس الله سره نه روحانی فیضان حاصل کړی وو او په مقامت د ولایت کښې دوی مبارکان داسی حالت ته رسیدلی وو چه حاجی صاحب محترم موصوف په خپل

تصنیف شوی کتاب ضیاء القلوب صفحه (٦٠) کښی داسی فرمائلی دی:
(نیز هرکس که از این فقیر محبت وعقیدت ارادت دارد (مولوی رشید احمد صاحب سلمه ومولوی محمد قاسم صاحب سلمه را که جامع جمیع کمالات ظاهری باطنی اند: بجائی من فقیر راقم اوراق بلکه بمدارج فوق ازمن شمارند اگر چه بظاهر معامله برعکس شد که اوشان بجائی من ومن بمقام او شان شدم وصحبت ایشان را غنیمت دانند که این چنین کسان درین زمانه نایاب واز خدمت بابرکت ایشان فیضیاب بوده باشند وطریق سلوک که درین رساله نوشته شد درنظر شان تحصیل نمایند انشاء الله تعالیٰ بی بهره نخواهند ماند الله تعالیٰ درعمر شان برکت دهاد: وازتمامی نعمائی عرفانی وکمالات قربت خود مشرف گرداناد وبحرمت النبی واله الامجاد)

**ترجمه** :- دغه رنګه هرڅوک که د همدغه فقیر نه دمحبت اوعقیدت اراده لری مولوی رشید احمدصاحب: سلمه: او محترم مولوی محمد قاسم صاحب: سلمه : لره دی مراجعه وکړی ځکه چه هغه جامع د ټولو کمالاتو د علوم ظاهری او باطنی وو دی: زما فقیر په ځای باندې نوشته کونکی دورقودی بلکه زمانه په درجو کښی اوچت شمیرل شویدی که څه هم اوس ظاهره معامله برعکس ده دوی مبارکان زما په ځای او زه دَ دوی په ځای شوم او مجلس دَ دوی ئی غنیمت بللی ده چه همداسی کسان په دغه زمانه کښی نه پیدا کیدونکی دی او د خدمت برکت والا دَ دوی نه فیضیاب شی او طریقه د سلوک چه په همدغه رساله کښی نوشته شوی ده په نظر دَ دوی کښی حاصله شوی ده - انشاء الله تعالیٰ بی برخی به نه شی پاتې الله تعالیٰ دې دَ دوی مبارکانو په عمر کښی برکت واچوی او په ټولو عرفانی نعمتونو او کمالاتو د قربت خپل دی مشرف وګرځوی په حرمت د سیدالانبیائاو په حرمت دَ ال مبارک دَ دۀ - (حضرت حاجی صاحب موصوف په چشتیه

طریقه کښې په خپل عصر کښې یو بینظیر بیمثاله هستی وه دَ دوی روحانی فیوضات او برکات په تمام عربو او عجمو کښې خواره شوی دی د امام الاولیاء موصوف حاجی صاحب دَ دوی په حق کښې د داسی شاهدی نه بعد نور د یو چا شاهدی او وینا ته د دوی په حق کښې څه ضرورت نشته۔

(ذلک فضل الله یؤتیه من یشآء) سنه (۱۸۵۷ ع)۔

## ﴿جهادی ازادی﴾

( د مغلیه شاهی )خاندان د زوال نه وروسته د اسلام بدترین او گمراه ترین دشمن انگریز چه په ټول هندوستان کښې ئی خپل ظالمانه او وحشانه حکومت راوستلی او قائم کړی وو په سنه (۵۷) ع کښې د حق او د ازادی خوښونکو علماؤ د انگریزی حکومت په خلاف یو زبردست د ازادی جنگ شروع کړو په دغه حریت طلبه جهادی غړ کښې د علماء اسلام قیادت او د مشر تابه جنډه د حاجی صاحب امدادالله په لاس کښې وه۔ دَ دیوبند عمده او برجسته علماؤ لکه حضرت مولانا گنگوهیؒ او حضرت مولانا نانوتویؒ او حضرت مولانا ضامن صاحبؒ او داسی نورو د دغه جهاد د کامیابیدلو د پاره خپل پوره پوره مجاهدانه کوششونه صرف کړو لیکن کامیاب نه شو په سنه (۱۸۵۷) کښې دغه د قیامت د ظهور په رقم حالات او هنگامو کښې د انگریز حکومت د دیارلس زرو (۱۳۰۰۰) نه زیات علماء اسلام پانسی او بعضو مجاهدینو ته ئی قسماقسم وحشیانه او ظالمانه سزاگانی ورکړی چه د بعضونو مونه دلته بیانیږی ( د بعضو مجاهدینو علماؤ اجسام (صورتونه) به ئی د خنزیر په غوړو باندی غوړ کړو او بعضی مبارکان به ئی ژوندی د خنزیر په پوست کښې واچول (اتش) اور به ئی ورباندی بلا وو د اور لمبی به ورباندی گرځیدلی مطلب دا ده چه دغه سفاک او مردار دشمن د ظم او ستم غرونه څیری کړل اهل ملک ته ئی عموما او اهل اسلام ته ئی خصوصا ډیر تاوان

ورساوو او کمزوری ئی کړل د ملک د سیاسی او مادی تسلط نه بعد د انګریزانو فاسده او ظالمانه مفکوره داسی وه چه د مسلمانانو د زړونو او دماغو نه به هم هغه اسلامی نقشی او دَ دیانت اثار به متاو او خراب کوو او هغه قرانی تعلیمات چه دَ دوی د کورسازش ده باید ختم شی لکه څنګه چه (لارډ میکالی) او دَ دهٔ تعلیمی کمیټی په خپل ریورټ کښی داسی لیکلی دی چه مونږ به یو داسی جماعت جوړه وو چه هغه زمونږ او زمونږ د کروړونو ملګرو په مابین کښی ترجمان وی دا به یو داسی جماعت وی چه د رنګ او وینی په لحاظ به هندوستانی وی او د طبعیت او د الفاظو د رایه او پوهنی په لحاظ به انګریز وی (تاریخ تعلیم هیجریاسو (صفحه ۱۰۵) مرحوم اکبر اله ابادی د دغه حقیقت بیان په دغه شعر کښی کړیده:

یوں قتل میں بچوں کی وہ بدنام نہ ہوتا
افسوس کہ فرعون کو کالج کی نہ سوجھی

## ﴿د دارالعلوم دیوبند بنیاد﴾

د انګریزی حکومت د قصدونو او د دوی د فرعونی اقتدار دهٔ نتائجو د وجه نه حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی صاحبؒ په خپل مقدس قوت سره اول ادراک کړیده په سنه (۱۸۵۷ ع) کښی د ناکامی د تلفیدلو او د اسلامی علومو او نظریاتو د تحفظ د پاره په دیوبند کښی د یودینی عربی مدرسی د اساس او بنیاد مؤسس شو په هغه وخت کښی د لوړ مقام والا د اولیاؤ الله وو دوعاګانی د مدرسی د حالة سره شاملی وی لکه چه د دغه عظیم الشانه مدرسی افتتاح په تاریخ (۱۵) د محرم الحرام د میاشتی په سنه ۱۲۸۳ هجر ی کښی چه مطابق د (۱۸٦۷) عیسوی سره ده په مسجد چهت کښی د انار تر مشهوری ونی لاندی وشوه د همدغه تاریخی درسګاه د تولو اولین معلم (استاد) حضرت علامه محمود صاحب او د تولو اول متعلم (طالب)

محمود الحسن صاحب دی دغه په وروستو کښې د شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحب اسیر مالټا تاریخی شخصیت په جهان کښې مشهور دی د الله تعالیٰ د نصرت او رحمت په وجه دغه دینی درسګاه په وروسته کښې د دارالعلوم په نامه سره د تمام عالم اسلام د پاره د علم او معارف سرچینه جوړه شوه د دغه د فیوضو او برکاتو نه تر أوس وخت پورې تمام عالم مستفید دی په (تاریخ دیوبند) کښې لیکلی دی چه حضرت مولانا رفیع الدین صاحب نقشبندیؒ د دارالعلوم دیوبند مهتمم دی په خوب کښې ئی د حضرت محمد ﷺ زیارت کاوو حضرت محمد ﷺ د مدرسی کوهی ته تشریف راوړو او د مدرسی کوهی ئی ولیدو چه د شودو نه ډک وو یو غټ جماعت لیدل کیدو د کوهی په غاړه چه غټ او کم لوښی ئی په لاس کښې وو او دځ کوثر ساقی محمد ﷺ ئی ولیدو چه دَ ټولو انسانانو برتن (لوښی) ئی وړډک کړل د دغه خوب معنی بزرګان علماء داسی کوی چه انشاء الله تعالیٰ د دغی مدرسی فیوضات او برکات به د چینیٔ په شکل جاری شی او د همدغې مدرسی نه به یو جهان اوبه شی لکه چه همدا اوس موجوده حال همداسی ده بعضی محققین داسی وائی چه په دغه دور کښې دارالعلوم د یو مجدد حیثیت لری او واقعه هم داسی ده چه د دغه دارالعلوم په واسطه سره د کتاب او سنت د علومو او معارفو فیضان او برکات په اطرافو د عالم کښې مشهوره او خورشویدی د دغه مثال او نظیر په دغه زمانه کښې وجود نلری که دارالعلوم دیوبند وجود نه لرلې په ټولو هندوستان کښې به د اهل السنت والجماعت د مذهب صرف او خاص نوم پاتې وو لیکن عمده او برجسته علماؤ دَ دارالعلوم دیوبند نوی اصلاحی کوششونه وکړل د شرک او الحاد تیاری ئی په رڼا بدلې کړې او د توحید او سنت انوار ئی په عالم کښې وشیندل د دارالعلوم دیوبند بانی حضرت

نانوتوی صاحب د دارالعلوم او نورو دینی مدارسو د پاره اته (۸) بنیادی اصول وضعه کړیدی تر دغه پوری د دارالعلوم دیوبند علمی او عرفانی ترقیات موقوف دی په سنه (۱۹۲۴) عیسوی کښې د تحریک خلافت په سلسله مشهور او مسلمان عالم مشر مولانا محمد علی صاحب دغه دیوبند ته تشریف راوړو او د هغه حضرت نانوتوی صاحب اته اصول ئې بیانول او په ډیر افسوس سره ئې ژړل او دا ئې ویل چه دغه اصول الهامی معلوم شویدی بلاشک او شبهه دارالعلوم په دغه صدی کښې بلامبالغه په زرهاوو محدثین، مفسرین او فقه علماء صوفیه: متکلمین عارف او مجاهد پیدا کړی دی د حجة الاسلام حضرت مولانا نانوتویؒ او د قطب الارشاد حضرت مولانا گنگوهیؒ په مفوضینو او ارشاد والا شاگردانو کښې د ټولو جامع کس او د انقلاب امام شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن مؤلف (اسیر مالټا) رحمه الله ده دغه د دارالعلوم اولین طالب ده د حضرت شیخ الهند صاحب په زرهاوو شاگردانو او مسترشدینو کښې شیخ العرب والعجم امیر المجاهدین حضرت مولانا سید حسین احمد صاحب مدنی د دارالعلوم دیوبند شیخ: د صوری او معنوی کمالاتو جامع حضرت علامه مولانا انور شاه صاحبؒ کشمیری د دیوبند محدث: مفتی اعظم سند العلماء حضرت مولانا کفایت الله صاحب دهلویؒ شیخ الحدیث مدرسه امنیه ډهلی شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیر احمد صاحب عثمانی: صاحب فتح الملهم شرح صحیح مسلم (المتوفی سنه ۱۳۶۹) هجری مطابق (۱۹۴۹) ع او عمده د حریت: داعی د انقلاب حضرت مولانا عبیدالله صاحب سنده.....دغه ممتاز اشخاص دی دَ دوی په ذریعې سره د دیوبندی مسلک په هره شعبه کښې زیات قوت پیدا شوی دی علاوه په دی چه حکیم الامت امام طریقت حضرت مولانا اشرف علی تهانویؒ هم په

دیوبند کښې د شیخ الهند نه د شاګردئ شرف حاصل کړې دی ـ دې مبارک د تفسیر بیان القرآن مصنف ده المتوفی سنه ۱۳٦۳ هجری او شیخ التفسیر : قطب زمان: د کشف او کرامت خاوند حضرت مولانا احمد علی صاحب لاهوریؒ په همدغه دارالعلوم دیوبند کښې فیض حاصل کړیده ډیرو داویلی دی چه د دیوبند شیخ الحدیث او د مدرسی صدر تر نن پوری جامع د ظاهر او باطن ده او دائی هم ویلی دی چه ۱۳ ځله ئی د حرمینو شریفینو زیارت نصیب شویده د جهان د ځمکې د مخ اولیاء الله چه سره راجمعه شی لیکن تر اوسه په دغه وخت کښې په دوی کښې داسی د حضرت مدنی رحمه الله په شان جامع بزرګ نشی پیدا کیدلای او علاوه په دی چه په مذکوره بزرګانو کښې شیخ المشائخ العارف باالله حضرت مولانا عبدالرحیم صاحب رائپوری او قطب دوران واصل بالله حضرت مولانا شاه عبدالقادر صاحب رائپوری هم د حضراتو دَ دیوبند نه فیض حاصل کړیده دَ دوی د ولایت د انوارو نه په زرونو زرونو کښې د معرفت الهی چراغونه روښانه شویدی او د شریعت امیر د ازادی مجاهد دامت خطیب حضرت مولانا سید عطاء الله شاه صاحب بخاریؒ د دهٔ مبارک جلال او جمال هم د اکابرینو دَ دیوبند نه روښانه ده دهٔ مبارک د زرونو انسانانو په زړونو کښې د ختم نبوت د عشق اور لګولی ده ) رحمهم الله تعالیٰ علیهم اجمعین )۔

﴿یوه تکفیری فتنه﴾

انګریزانو حریت طلبه مجاهدین او علماء د حق د خپل ځانونود پاره د تولو غټ او عمدهٔ دشمنان شمیرل په همدغه وخت کښې چه د دارالعلوم دیوبند او د دیوبند د اکابرینو علمی او دینی اثرات ډیر خواره او پراخه شوی وو د دغه سرچشمه اسلام د ختمولو د پاره انګریزانو مختلف تدبیرونه خوښ کړل یو تدبیر ئی همدا وو چی بعضی دنیاپرست او د خواهشاتو طالبین علماء او

پیران ئی واخستل او د دوی په ذریعه ئی د علماء دیوبند حضراتو باندی د وهابیت فتواوی او الزامونه کړل د دینه مخکښی هم حضرت شاه اسماعیل شهید باندی د وهابیت الزامونه لګول شوی وو خو هغه مبارک هم د الزام د ناکام جوړولو د پاره ډیری مجاهدانه قربانی ورکړی الله تعالیٰ عالم دی چه په څه اسبابو او عواملو سره چه د فرقه وهابیه مؤسس او بانی مولوی احمد رضا خان صاحب بریلوی د اکابرو علماء دیوبند په خلاف باندی خپل تکفیری کار پرمخ بیایی ۔

## ﴿ د حسام الحرمین حقیقت ﴾

مولوی احمد رضا خان بریلوی چه بیان ئی وشو مذکور په سنه (۱۳۲۳) هجری کښی د حج سفر اختیار کړو کله چه د حج نه فارغ شو د هغې نه بعد ئی په مکه معظه کښی یوه رساله ترتیب کړه په هغه کښی ئی د اکابرو علماؤ دیوبند د عباراتو لفظی او معنوی تحریف وکړو په خپله رساله کښی ئی درج کړو او تحریف ئی دا وو چه همدغه په محمدی شریعت کښی ډوب انسانانو باندی ئی دا تهمت ولګولو چه معاذالله دغو په خپلو کتابونو کښی الله تعالیٰ ته د پسخند خطاب کړیده او په خپلو کتابونو کښی ئی محمد ﷺ ته بنکنځل کړی دی رساله ئی په داسی طریقه سره جوړه کړه چه اول وار ئی د قادیانیه فرقه په عنوان سره چه هغه متنبی مرزا غلام احمد هغه کفری عبارات ئی په کښی درج کړو او د دغه نه بعد ئی داسی الفاظ په رساله کښی درج کړو دغه عمده او برجسته علماء دیوبند ئی په څو ډلو سره تقسیم کړل او داسی قبیح او دحقیقت نه لیری نومان ئی ورکړ یوه ډله ئی د وهابیه کذابیه په نامه او بله د وهابیه شیطانیه په نامه او داسی نور شنیع الفاظو باندی ئی موصوف کړل د پاره د دې چه هغه ناخبره خلکو ته دا په نظر ورکړی چه په هندوستان کښی یوه بله مستقله ډله د قادیانیه په

رقم پیدا شوی ده په دغه ساله کښې ئې علماء دیوبند هریو لکه حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی او قطب الارشاد حضرت مولانا رشید احمد صاحب گنگوهیؒ او فخر العارفین حضرت مولانا خلیل احمد صاحب محدث سهارنپوریؒ مصنف د بذل المجهود شرح ابوداؤد او حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی صاحب تهانویؒ د حضرت حاجی امداد الله مهاجر مکی خلیفه عبارتونه ئې رد او بدل کړل او په دغو محضراتو ئې د قطعی کفر فتویٰ صادره کړه او تر دغه وخته ئې دا لیکلی دی چه هر هغه څوک چه د اکابرین دیوبند په کفر کښې شک کوی هغه هم کافر ده احمد رضا خان په سعودی کښې د همدغه رساله ترتیب وکړ دَ حرمینو شریفینو د علماؤ د تصدیق د پاره ئې د قسماقسم وائسطو نه کار واخست چه دغه نااساسه کفری فتوی هغه علماء ورته تصدیق کړی دغه حضرات چونکه د علماؤ دیوبند او دَ دوی د تصانیفو نه پوره خبردار نه وو په دغه رساله کښې ئې د هغه درج شویو الفاظو نه پیش نظر وکړو خپل تصدیقات ئې په نوشته کړل او په دوی کښې چه کم هغه احتیاط والا علماء وو هغو داسې ولیکل چه که واقعی دغه دَ دیوبند د علماؤ عقائد همدغه رنګی وی نو دا فتوی صحی او قابل د قبول ده او که نه وی نو بیا نه د حج کولو نه او د لږ وخت انتظار نه وروسته مولوی احمد رضا خان صاحب دغه رساله (د حسام الحرمین) په نامه سره په هندوستان کښې په سنه (۱۳۲۵) هجری کښې چاپ کړه۔

## ﴿ المهند علی المفند ﴾

په دغه ورځو کښې شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدنیؒ په مدینه منوره کښې حضور درلودی او په مسجد نبوی کښې دَ دهٔ مبارک درس ډیر په بلندی سره روان وو لیکن د حسام الحرمین په سلسله او په دغه پټ سازش باندی ئې مکمل علم نه لرلو په اخر کښې د همدغه کفری سازش د

خبرداری نه وروسته حضرت مدنیؒ د حرمینو شریفینو هغه عمده علماء د حقیقت حال نه خبر کړل دغه د حرمینو شریفینو علماؤ د هغه نه وروسته ۲۵ سوالونه ولیکل او علماؤ دیوبند او علماؤ دیوبند ته ئی ورولیږل او د جواب طلب ئی ترینه وکړو په همدغه وخت کښې حضرت مولانا گنگوهیؒ او حضرت نانوتویؒ د اجل داعی ته لبیک ویلی وو د دغو سوالونو جوابونه فخر المحدثین حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوریؒ په ښه فصیح عربی ژبې سره ترتیب کړل او په دغه جوابونو باندی په هغه وخت کښې ټولو دَ دیوبند مشهورو علماؤ لکه شیخ الهند حضرت مولانا محمود الحسن صاحبؒ حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحبؒ اسوة الصلحاء حضرت مولانا شاه عبدالرحیم صاحب رائپوریؒ او بقیة السلف حضرت مولانا حافظ محمد احمد د دارالعلوم مهتمم ابن حجة الاسلام نانوتوی صاحب عارف کامل حضرت مولانا عزیز الرحمن صاحب مفتی اعظم دارالعلوم او مفتی اعظم حضرت مولانا مفتی کفایت الله صاحب دهلوی خپل تصدیقات پرې ولیکل د علماؤ دیوبند په تصدیقونو نه علاوه د حجاز: مصر او د شام او د نورو اسلامی هیوادونو هغه مقتدرو علماؤ او مشائخو دغه تصدیقات نور هم په خپل تصدیق سره مزین (ښائسته) کړل لکه څنګه چه دغه رساله په (۱۳۲۵) هجری سنه کښې مشهوره شوه په دغه رساله کښې دَ ذکر شویو سوالونو په روشنائی کښې د دیوبند د اکابرینو علماؤ د حق عقائدو وضاحت او تشریح کیږی په دغه سره د مخالفینو او معاندینو د تلبیس او ضدیت پرده چاک او د مابین نه ئې دَ دیوبند دَ بزرگانو علماؤ حقانه او حقیقی مسلک او طریقه ښه تره واضح کیږی گویا که (المهند على المفند) د اکابرین دیوبند یو داسی اتفاقی تاریخی لاس نیوی ده په دغه سره دیوبندی مسلک په پوره ډول سره محفوظ کیدلای شي۔

## ﴿نوی چاپ﴾

د عقائد علماؤ دیوبند په نامه سره دغه المهند په اردو ژبه سره په ډیرو وارونو لیکل شویده لیکن عربی متن سره د اردو ترجمه د اوسنی عصر پوری نه ده چاپ شوی د همدغه رقم کتاب علماء طلب کونکی وو الحمدللہ د همدغه تاریخی لاس نیوی د نوی چاپ او شائع کیدلو نیک بختی تنها او تنها اللہ تعالیٰ په پاکستان کښی محترم ملگری حضرت مولانا عبداللطیف جهلمی مجاز د حضرت مولانا لاهوری صاحبؒ ته ورنصیب کړو اللہ تعالیٰ دی دغه ناکام بنده او ټول مسلمانان د سلف صالحینو او محققینو د اهل السنت والجماعت اوډ دیوبند د اکابرینو په حق مسلک باندی قائم ولری امین بحرمة سید المرسلین الاحقر مظهر حسین غفرله مدنی جامع مسجد چکوال ضلع جهلم (۲۳) رمضان المبارک سنه ۱۳۸۲ هجری او دغه کتاب د عربی الفاظو سره په پښتو دغه اول ځل دی چه د مکتبه اعزازیه د طرفه نشر کیږی او ټول حقوق ئی د دوی سره محفوظ دی اللہ تعالیٰ دې د مسلمانانو د پاره سبب د نجات وګرځوی ـ امین امین بحرمة سید المرسلین ـ

الحمد للہ الذی یحق الحق بکلماته ویبطل الباطل بسطواته نصر المؤمنین وقال کان حقا علینا نصر المؤمنین وقطع کیدالخائنین فقطع دابر القوم الذین ظلموا والحمد للہ رب العلمین . والصلاة والسلام علی مفرق فرق الکفر والطغیان ومشتت جیوش بغاة القرین والشیطان وعلی اله وصحبه اشداء علی الکفار رحماءُ بینهم تراهم رکعا سجدا یبتغون فضلا من اللہ ورضوانا ما تعاقب النیران وتضاد الکفر والایمان ( اما بعد محترمو حضارو دغه یو څه بیتونه بنه په غور او دقیق نظر سره ملاحظه کړی ترڅو چه دا معلومه شی چه :

**احمد رضا بریلوی** : د اسلام او اهل اسلام سره څه نمونه سلوک کړیده او د دهٔ کوشش او سلوک په څه اندازه اسلام او اهل اسلام ته صدمه او درد

رسولی ده کوتاه او لنډه خبره دا ده چه اسلام د مخالفینو د لاسه رنګارنګ دردونه او صدمی په ډیر انداز سره لیدلی دی مګر خانصاحب دهٔ روافض په رقم د امت محمدی هغه مختار او منتخب خلکو نه نور خلک په نفرت کښی اچوی دغه روافضو د امت محمدی خلاصه حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمرؓ انتخاب کړو او دَ دوی په مقابل کښی به ئی ښکنځل او بد ویل او په دوی ئی د کفر الزام لګول شروع کړو په همدا رقم به ئی د نورو خلکو نفرت هم ترینه کاوو د داسی عمل نه به ئی کار اخستو دغه رقم خان صاحب هم دَیو داسی برګزیده او غوره جماعت په مقابل کښی کار شروع کړو چه هغه خاص د نمر او سپوږمی په شکل سره مثال لری دغه نمر او سپوږمی خان صاحب د خپل کور دود شمیری او د خپل کور په هغه ناکاره او مردار دود سره ئی خړپړ جوړوی ـ والله متم نوره ولو کره الکافرون الایه او : فارسی شاعر وائی :

چراغی راکه ایزد بر فروزد ☆ کسی کو تف زند ریشش بسوزد

تفصیل دِ دغه اجمال دا دی چه د خان صاحب په خاندان کښی خو د اول حالت نه دَ بدعت او ګمراهئ تخم شیندل شویده خو د ټولو خلاصه نن رضا خان صاحب جوړ شو په حقیقت کښی احمد رضاخان صاحب په ټول هندوستان کښی د حضرت شاه ولی الله صاحب دامت فخر او معجزه د معجزاتو د سید المرسلین علیه التحیة والتسلیم د خاندان سره او حضرت مولانا اسماعیل صاحب شهید مرحوم په اهل بدعت د بعضو کلماتو په وجه دغه بدعات شرک ته قریب او نزدی بللی وو دغه خاص او خالی دَ بدعت د خاوندانو د پاره وو نو د اسماعیل شهید او د هغه د ملګرو په مقابل کښی رضاخان صاحب لیکلی وو د حالیه او غیر حالیه وو قرائنو نه قطعه نظر ئی تهمتونه باندی لګولی وو او د (۷۰) وجهو او بلکه د غیر متناهی

وجهو نه ئی د کفر فیصله باندی کړی وه او دَ دوی کفر ئی قطعی ثابت کړی وو د فقهاؤ کرامو په نامه ئی فتواوی چهاپ کړی وی مګر د حضرت شاه صاحب د خاندان عظمت او دیانت ثابت وو او دغه کور د تمام نمریو مصداق وو او وروسته که چیرته یو بدبخته او یو ناخبره د حضرت شاه اسماعیل سره بدګمانه وو خو د نورو حضراتو مبارکو تقدس او عظمت ورسره وو په هغو کښی ئی هیڅ هم نه ویل دَ بدعت په مخ تلل کم شوو او خان صاحب چه څه غوښتل هغه په پوره ډول په لاس نه ورتلل د همدغه وجه نه خانصاحب پوره کامیاب نه شو۔ او څنګه چه په دغه زمانه کښی دَ بدعت تباه کونکی د حضرت شاه صاحب د خاندان جائز وارث او د شاګردانو مرشد حضرت مولانا محمد قاسم صاحب قدس سره العزیز نانوتوی حجة الله تعالیٰ فی الارض: او حضرت رشید الاسلام والمسلمین اية من ايات رب العلمین حضرت مولانا مولوی رشید احمد صاحب ګنګوهی قدس اسرار هم ته سپارل شوی وه او د مصطفوی سنتو د ساتنی هغه لوړه جنډه دَ دوی په مقدسو لاسونو کښی وه د همدغه عالیه مدرسه هغه عالی جوړښت دَ دوی په لاس کښی وو او مَثَلُ كَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِيْنٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا په رقم ئی پورته د اسمان سره خبری کولی په خپل استحکام کښی تر اوه (۷) څمکو پورې رسیدلی وه په هندوستان کښی نه وه بلکه په روم او شام او په عربو او عجمو کابل او قندهار بخارا چین او تبت او داسی په نوره دنیا کښی په ټولو ګوټونو کښی په نظر معلومیدله او د سنت نبوی عاشقان د دغه شین رنګه د منارو د لری نه دیدار کونکی او د شین رنګه څمکی نه دَ سنت نبوی خوشبوئی راتلله او د سترګو نظر وربانديږ لګوی دغه عاشقان د سنت دَ دیوبند په ګلیو کښی په نظر معلومیدل او د همدغه پاک محل دال او وچه ډوډی ئی: بریلوی عبادت

خانه تر پلاو او قورمه ښه بلله او ترجیح ئی ورکولو او دا د غیرت نعره به ئی کوله چه ستاد دغه باچاهی نه هم دغه زما د فقیری حالت ښه دی او دَ دنیا انسانانو همدغه حال شاهدان وو چه حوالیه من کل فج عمیق په کامله توګه سره په نظر راتلل په دغه حالت کښی خان صاحب مکمل متوجه وو چه د مابین نه ئی یوسی په حضرت شهید مظلوم باندی ئی په (۷۰) وجهو سره کفر ثابت کړې وو او تنها په شهید مرحوم نه بلکه په ټولو فقهاؤ باندی په اجماعی طور سره فیصله وه او فیصله ئی په خارجی تصدیق سره کوله او په حضراتو مبارکو ئی داسی تهمتونه لګول د حضرت مولانا مولوی محمد قاسم صاحب او حضرت مولانا مولوی **رشید احمد** صاحب قدس سره او حضرت مولانا مولوی خلیل احمد صاحب او حضرت مولانا مولوی **اشرف علی** صاحب دامت برکاتهم نومونه ئی لیکلی وو چه دغه قطعی کافران دی او دا ئی هم لیکلی وو چه د همدغو په کفر کښی که څوک شک او تردد کوی هغه هم قطعی کافر ده په حضرت مولانا نانوتوی ؒ ئی دا الزام لګولی وو چه دغه د ختم کولو د زمانی نه منکر ده او په حضرت مولانا ګنګوهی ؒ ئی داسی تهمت لګولی وو چه دی وائی په الله تعالیٰ باندی چه بالفعل دروغ جائز بولی هغه سنیان مسلمانان دی او په حضرت مولانا خلیل احمد صاحب ئی داسی دروغ او تهمت لګولی وو چه ده په قاطعه براهین کښی داسی تصریح کړی ده چه د شیطان لعین علم د رسول الله ﷺ ترعلم زیات وو او حضرت مولانا اشرف علی صاحب دامت برکاتهم باندی دا بهتان وو چه د حفظ الایمان په تصریح کښی وائی چه رسول الله ﷺ ته داسی اندازه علم حاصل وو چه داسی علم هر هلک او لیونی او څهارپای ته هم حاصل ده لیکن څنګه چه د خان صاحب علم او بهتری او دیانت د اعتبار قابل نه وو د دغه وجه نه ئی دغه مضمون په عربی عبارت

کتاب چه په نامه د المعتمد المستند کښې نوشته کړو په دغه د حرمينو شريفينو علماؤ هم تصديق وکړو د همدغه کتاب نوم ئې حسام الحرمين علی منحر الکفر والمين کيښودو او مشهوره ئې کړو په تمام هندوستان کښې دند پورته شو او دائې ويل چه وګورئ د حرمينو شريفينو علماؤ زمونږ د فلانی فلانی مخالف قطعي کفر کړيده اوس نو په همدغه کفر کښې څه شک پاتې شوی ده او حال دا ده چه دا بالکل خاص دروغ خبره ده او د السحاب المدرار او توضيح البيان د کتلو نه دا معلوميږي چه د خان صاحب د دغه مجرمانه او ظالمانه کارکولو نه بعد د مدينة المنوری بعضې علماء خبر شول بعد د هغې نه ئې دغه پنځه ويشت (۲۵) سوالونه د علماؤ ديوبند په خدمت کښې پيش کړل او دائې ويلکل چه ستاسو نظريه په همدغه سوالونو کښې څرنګې ده دغه خبره ښه صافه وليکی د پاره دَ دا خبری چه حق او باطل ښه واضح او معلوم شی او په جواب کښې فخر د علماؤ او متکلمينو حضرت مولانا مولوی خليل احمد صاحب د سهارنپور د مظاهر العلوم دَ مدرسې استاذ د همدغه سوالونو جوابونه وليکل او د حرمينو شريفينو د علماؤ په خدمت کښې ئې وړاندې کړل د حرمينو شريفينو علماؤ کرامو زادهماالله شرفا وتکريما او د مصر علماؤ او حلب او شام او مصر دمشق د همدغو تصديق او تصحيح وکړلو او دا ئې نوشته کړل چه دغه صحی عقائد دی د همدغه وجه نه نه چاته کافر ويل کيږی او نه بدعتی او نه د اهل السنت والجماعت نه څوک خارج بلل کيږی د اهل اسلام د خبرداری او اطلاع د پاره د حرمينو شريفينو د علماؤ او مصر وشام وحلب او دمشق تصديقات په شکل د رساله چه نامداره په المهند علی المفند مشهوره په التصديقات لدفع التلبيسات سره د ترجمه چه نامداره په ماځی الشفرتين علی خادع اهل الحرمين سره ده چاپ کړل

شوه د پاره دَ دي چه اهل اسلام د خان صاحب ايمانداری او دُ علماؤ ديوبند سره د خانصاحب ناحقه بغض او عناد په کامله توګه سره معلوم کړی او اهل ايمان والا ته دی معلومه وی چه خان صاحب په خپله رساله حسام الحرمين کښی ليکلی دی چه دغه طائفه ټول مرتدين دی د امت په اجماع سره د اسلام نه خارج دی او بيله کومه شک او ترديد سره په بزازيه او درر او غرر او فتاوی خيريه او مجمع الانهر او درمختار او په نورو معتمدو کتابونو کښی دَ داسی کافرانو په حق کښی داسی وائی چه دَ دوی په کفر او عذاب کښی شک کوی هغه هم کافر ده او بيا په صفحه ۴۳ کښئ ليکلی دی د حمد او صلاة نه بعد دا په نظر راځی چه دغه طائفه په ذکر د دغه سوال کښی واقع دی لکه غلام احمد قاديانی او رشيد احمد او دَ دغو تابعداران خلک خليل احمد امبتهی او اشرف علی او داسی نور نور دَ دغو په کفر کښی څه شک نشته او نه د شک کولو طاقت شته دَ دوی په کفر کښی شک کول او يا د داسی حال د خاوندانو په کفر ويلو کښی توقف او ځنډ کولو والا هم پخپله کافر ده انتهی او د حرمينو شريفينو او مصر او حلب او شام اودمشق علماؤ دغه ټول حضرات مسلمانان او دَ دوی ټول عقائد ئی د عقائدو د اهل السنت والجماعت سره برابر ليکلی دی دَ دوی تصحيح او تصديق ئی کړی ده اوس د دغه جناب د فتوی سره دغه تمام حضرات او ټول اهل عرب اوروم ودمشق ومصر وعراق ته ځنګه قطعی کافران وويل شی او دغه علماء دَ داسی کفر او عذاب خاوندان بولی چه دَ دوی په کفر او عذاب کښی شک والا هم کافر بولی معاذناالله العظيم ونعوذ بالله من الشيطن الرجيم ای مسلمانانو نظر وکړی دغه دَ خان صاحب د سنت سره محبت او دغه د خان صاحب حالت چه د اهل السنت والجماعت يو مسلمان هم په دنيا کښی نه پريږدی غټ غټ کافران دَ دنيا د همدغه اسلام په متاو او

خرابولو کښې مصروف دی اسلام د مابین نه وړی او جناب خان صاحب په دغه یوه فتوی سره ګواکه د ټولو مقصدونو وریوره کړل خو دَ مقدس اسلام متاوکول په دنیا کښې یو اسانه کار نه ده پو ځوک خپله خوله په دنیا کښې توره کړی او ضرر نشی توره ولای د اسلام نمر به د قیامته پوری هم تابان ځلیدونکی وی څنګه چه د مبتدعه فرقه د رئیس عالی جناب احمد رضا خان صاحب بریلوی د حسام الحرمین حقیقت واضح شو ښکاره شو چه خانصاحب داسی خرافات او د حقیقت نه لری شیان لیکلی وو دا خاص دروغ وو د هغه جمله نه دا وه چه علماء کرام دیوبند کافران او د هغو په کفر کښې شک کولو والا هم کافران دی او داسی نور نور په دغه رساله المهند علی المفند کښې دا واضح او ښه ښکاره معلومه ده چه د حرمینو شریفینو علماؤ زاد هما الله شرفا وتکریما حضرات علماء دَ دیوبند او دَ دوی عقائد صحی او د شریعت محمدی سره برابر بللی دی اوس باید دی ته مونږ وګورو چه خان صاحب د خپل قول نه رجوع کوی او که د علماؤ دیوبند سره سره ټول علماء د حرمینو شریفینو مصر حلب شام دمشق ټول کفار شمیری دغو ټولو دغه علماء دیوبند په حق او د شریعت سره برابر بللی دی او رد الحسام علی رؤس اللئام جوړ شو اوس مونږ دې ته ګورو چه د خان صاحب خومره ترکیب او کرامت ده چه علماء دیوبند کافران او علماء دَ حرمینو شریفینو او مصر حلب شام دمشق او نور نور مسلمانان جوړوی ۔ **حضرت مولانا خلیل احمد صاحب** مدفیوضهم اکثر علماء داسی تعبیروی چه یکتائی زمانه او اکثر داسی وائی چه اخی العزیز او داسی نور وائی چه شیخ د وقت او مقتدا د خلکو او ځوک وائی پیشوا د امت او مقتدا د خلکو لکه چه دغه الفاظ د تقریظونو او تصدیقونو د علماؤ نه د ناظرینو په نظر کښې ښه واضح راتللای شی انشاء الله تعالیٰ او په زبانی الفاظو سره دَ نوموړی

اومحترم عزت او وقار په زړونو د حرمينو د حضراتو کښې پيدا شو او په جوارح اندامونو باندې ئې دا خوشحالي معلومه شوه او د دهٔ ذکر يادول ئې کول په مصافحه (پښتنه په لاس) او معانقه (روغبړ کول په غيږ سره) باندې علاوه دَ دواړو جهانو د سردار حضرت محمد ﷺ په مسجد محترم مدينة الرسول کښې شلو ۲۰ شهزادګانو د مولانا خليل احمد صاحب په شاګردي سره فخر وکړو شاګردان ئې شول د ولي اللهي خاندان د سلسلو نه علاوه د صحاح سته وو اجازت ئې هم ترلاسه کړ ډير مسرور او د خوشحالي خاوند شو ( ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ).

الله تعالىٰ داسې احسانات باندې کړي دي دَ داسې جليله احساناتو ذکر کول ده کين کشو او حاسدانو بغض او عناد نور هم زيادت کوي دَ انصاف دَ ناظرينو د نظر کولو د پاره دغه رساله کافي ده د همدغه رساله اصل او مهر دستخط زمونږ سره محفوظ ده او چاپ ئې په عام طور سره د ناظرينو د پاره تحفه ده د دغه وجه نه عرض دا ده چه ټول اهل اسلام دې دغه رساله د المهند سره د هغه ترجمه په ښه اطمينان سره ملاحظه کړي چه دا ښه معلومه کړي چه د علماؤ ديوبند عقائد بالکل صحي د اهل السنت والجماعت سره موافق دي او ټول اهل حق علماء کرام د دوی سره موافق دي نه د خانصاحب سره نو اوس داسې خبره پاته نه شوه چه د اهل بدعاتو نوم د همدغه علماؤ طرف ته منسوب او يا د غير مقلد يا وهابي نوم ورکړشي د خان صاحب مکرونه او چلونه ښکاره شول او د ده تدابيرونو ته خاتمه ورکړل شوه والحمدلله علی ذالک خان صاحب خاص د حضراتو ده ديوبندأو د خادمانو د رسول الله ﷺ سره مخالفت او تضاد نه لري د دهٔ د اندازه نه دا ثابته شوی ده چه د نفس اسلام سره دشمني لري که چيرته د جناب توان او طاقت ورسيږي په ټول جهان کښې به خپل کار په مخ روان کړي مګر الله تعالىٰ ده خپل دغه روښانه دين حافظ ده داسې مثال لري چه ځوک اسمان ته لاړي تو کړي هغه واپس د دهٔ مرۍ ته راځي او هغه ځوک چه د همدغه روښانه شريعت سپکاوی او رخنه اندازي کوی هغه به پخپله مخ تور او

خوار وذلیل به وی چونکه دغه رساله د المهند یو تمهید ده په دغه کښی د اختصار لحاظ شویده د کفایت په اندازه سره درج شویده او هغه صاحبان چه د همدغه بحث درازواله غواړی او تفصیل ئی مطلب وی هغه دی تشیید الایمان بالسنة والقرآن ملاحظه کړی په هغه کښی د خان صاحب عناد او بغض په تفصیل سره شته او نوری رساله د خانصاحب په رد کښی لیکل شوی دی په تفصیل سره دی مطالعه کړی هغه رساله دغه دی (اسکات المعتدی) قاصمة الظهر) الطین للازب) السهیل علی الجعیل) الختم علی لسان الخصم).

بسم اللہ الرحمن الرحیم

## نحمده ونصلی علی رسوله الکریم

ایها العلماء الکرام و الجهابذة العظام قد نسب الی ساحتکم الکریمة اناس عقائد الوهابیة قالوا باوراق ورسائل لانعرف معانیها لاختلاف اللسان فنرجوان تخبرونا بحقیقة الحال ومرادات المقال ونحن نسئلکم عن امور اشتهر فیها خلاف الوهابیة عن اهل السنة والجماعة.

**ترجمه** :- (ای علماء کرامو او عزتمندو سردارانو په تحقیق سره نسبت کړیده ستاسو عزتمند طرفته د وهابی عقیده بعضو کسانو په داسی رسائلو او اوراقو کښی چه مونږ په معنی د هغو د جهته د اختلافه د ژبی نه پوهیږو نو مونږ امید لرو چه تاسو مونږ د حقیقته د حال نه خبر کړی او په مقاصدو د قولونو سره او مونږ سوال کوو د هغه امورو نه په هغه د وهابیه وو او اهل السنت والجماعت په مابین کښی اختلاف ډیر مشهور وی.

★★★★★

## «السوال الاول والثانی»

(۱) ماقولکم فی شد الرحال الی زیارت سید الکائنات علیه افضل الصلوات والتحیات وعلی اله وصحبه؟

(۲) ای الامرین احب الیکم وافضل لدی اکابرکم للزاهر هل ینوی وقت

الارتحال للزيارة زيارته عليه السلام او ينوى المسجد ايضا وقد قال الوهابية ان المسافر الى المدينة لاينوى الا المسجد النبوى ؟

## ﴿ اول او دوهم سوال ﴾

څه قول كوى علماء كرام په مسئله د شد رحال كښى زيارت د سيد الكائنات عليه افضل الصلوات ته يعنى كم امر خوښ ده ستاسو په نزد او ستاسو د اكابرينو په نزد باندى د پاره د زيارت كونكى د سفر په وخت كښى خاص دَ جناب كريم د زيارت نيت به كوى او كه د مسجد نبوى دا هم او وهابيان وائى چه مسافر مدينة المنورة ته لاړ شى د بل څه نيت به نه كوى خاص د مسجد نبوى نيت به كوى۔

## ﴿الجواب﴾

بسم الله الرحمن الرحيم ومنه نستمد العون والتوفيق وبيده ازمة التحقيق حامداً ومصليًا ومسلمًا ليعلم اولًا قبل ان نشرع فى الجواب انا بحمدالله ومشائخنا رضوان الله تعالىٰ عليهم اجمعين وجميع طائفتنا وجماعتنا مقلدون لقدوة الانام وذروة الاسلام امام الهمام الامام الاعظم ابى حنيفة النعمان رضى الله تعالىٰ عنه فى الفروع ومتبعون للامام الهمام ابى الحسن الاشعرى والامام الهمام ابى المنصور الماتريدى رضى الله تعالىٰ عنهما فى الاعتقاد والاصول منتسبون من طرق الصوفية الى الطريقة العلية المنسوبة الى السادة النقشبندية والطريقة الزكية المنسوبة الى السادة الچشتية والى الطريقة البهية المنسوبة الى السادة القادرية والى الطريقة المرضية المنسوبة الى السّادة السهروردية رضى الله تعالىٰ عنهم اجمعين.

**ترجمه** :۔شروع كوم په نامه د الله تعالىٰ سره چه هغه ډير مهربانه او رحم كولو والا دى او د هغه الله تعالىٰ نه مدد او توفيق غواړم او د دهٔ په قبضه كښى دئ هغه تلل د حقيقت د حمده او د صلاة او سلام نه وروسته دجواب

شروع کولو مخکښې چه مونږ اول ځل معلومه کړو چه مونږ او زمونږ مشائخین او زمونږ ټول جماعت الحمدلله مقلدون یو د هغه مقتداء د خلکو حضرت امام اعظم ابوحنیفه نعمان رضی الله تعالیٰ عنه په فروعو کښې او په اصولو او اعتقاداتو کښې اتباع کونکی یو د امام ابوالحسن الاشعری او د امام المعزز ابی منصور الماتریدی رضی الله تعالیٰ عنهما او په هغه صوفیة طریقه کښې هم مونږ نسبت کړی شوی یو هغه عالیه اولوړې سلسله ته چه هغه منسوبه ده هغه سادات د نقشبندیه ته او د هغه زکیه طریقه چه هغه منسوبه ده هغه سیدانو د چشتیه ته او د هغه مکرمه طریقه چه هغه منسوبه ده هغه سیدانو د قادریه ته او هغه مرضیه طریقه چه هغه منسوبه ده ساداتو سهروردیه ته رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین۔

(ثم ثانیًا انا لا نتکلم بکلام ولا نقولو قولًا فی الدین الا وعلیه عندنا دلیل من الکتاب والسنة او اجماع الامة او قول من ائمة المذهب ومع ذالك لا ندعی انا لمبرؤن من الخطاء والنسیان فی ضلة القلم وزلة اللسان فان ظهر لنا انا اخطانا فی قول سواء کان من الفروع او الاصول فیما یمنعنا الحیاء ان نرجع عنه ونعلن بالرجوع کیف لا وقد رجع ائمتنا رضوان الله علیهم اجمعین فی کثیرٍ من اقوالهم حتی ان امام حرم الله تعالیٰ المحترم امامنا الشافعی رضی الله تعالیٰ عنه لم یبق مسئلة الاوله فیها قول جدید ولصحابة رضی الله تعالیٰ عنهم رجعوا فی مسائل الی اقوال بعضهم کما لا یخفی علی متتبع الحدیث فلو ادعی احد من العلماء انا غلطنا فی حکم فان کان من الاعتقادیات فعلیه ان یثبت بنص من ائمة الکلام وان کان من الفرعیات فیلزم ان یبنی بنیانه علی القول الراجح من ائمة المذاهب فاذا فعل ذالك فلا یکون منّا ان شاء الله تعالیٰ الا الحسنیٰ القبول بالقلب واللسان وزیادة الشّکر بالجنان وارکان.

**ترجمه** :۔دوهمه خبره دا ده چه مونږ ده دین په باره کښې داسې خبره نه کوو چه په هغه باندې د قرآن کریمه او یا د حدیث نبوی او یا د اجماع د امت نه او یا د مذهب د یو امام د اقوالو نه یو قول نه وی او سره د همدغه تولو هم مونږ داسې دعوه نه کوو چه مونږ پاک یو د خطاء د قلم نه او یا د هیروالے نه او یا د خطائی ژبی نه که چیرته مونږ ته ښکاره شی چه مونږ په یو قول کښې خطا شوی یو عام د دینه که هغه قول د اصولو نه وی او که د فروعو نه وی مونږ رجوع کوو د خپله قوله څخه دا مونږ ته هیڅ د حیاء او شرم کار نه ده او مونږ د همدغه رجوع اعلان کوو او په تحقیق سره ز مونږ امامانو رضوان الله تعالیٰ عنهم اجمعین د هغه خپلو بهترینو ښو ښو اقوالو نه هم رجوع کړی ده حتی چه د حرم شریف امام محترم امام شافعی رضی الله تعالیٰ عنه نه یو داسې مسئله نه ده نقل شوی چه په هغه کښې یو نوی جدید قول نه وی او یو قدیم نه وی او صحابۀ کرامو هم په ډیر مسائلو کښې د نورو صحابۀ کرامو طرف ته رجوع کړی ده لکه چه د حدیثو په تابعدارانو دا خبره واضح او ظاهره ده که چیرته یو عالم دعوه وکړی چه مونږ په یو قول کښې غلط شوی یو که چیرته د اقول د اعتقادیاتو نه وو په هغه عالم دا لازمه ده چه دغه مسئله ثابته کړی په تصریح د علماء کلام سره او که دا مسئله د فرعیاتو نه وه نو لازمه ده په هغه عالم باندې چه دغه مسئله بناء کړی په هغه اساس او بنیاد د قول راجح د امامانو د مذهب نه که دغه عالم دا فعل وکړو مونږ به ئې په ډیر ښائست سره قبول کړو انشاء الله تعالیٰ او زیادت د شکر به ئې په زړه او ارکان سره وکړو۔

**وثالثا ان فی اصل اصطلاح بلاد الهند کان اطلاق الوهابی علی من ترك تقلید الائمة رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین ثم اتسع فیه وغلب استعماله علی من عمل بالسنة السنیة وترك الامور المستحدثة الشنیعة والرسوم**

القبيحة حتى شاع في بمبئي ونواحيها ان من منع عن سجدة قبور الاولياء وطوافها فهو وهابی بل ومن اظهر حرمة الربوا فهو وهابی وان كان من اكابر اهل الاسلام وعظمائهم ثم اتسع فيه حتى صار سبًا فعلى هذا لو قال رجل من اهل الهند لرجل انه وهابی فهو لايدل على انه فاسد العقيدة بل يدل على انه سنّی حنفی عامل بالسنة مجتنب عن البدعة خائف من الله تعالىٰ في ارتكاب المعصية ولما كان مشائخنا رضی الله عنهم يسعون في احياء السنة ويشمّرون في اخماد النيران البدعة غضب جندابليس عليهم وحرفوا كلامهم وبهتوهم وافترو عليهم الافتراآت ورموهم بالوهابية وحاشاهم عن ذالك بل وتلك سنة الله التی سنها فی خواص اوليائه كما قال تعالىٰ في كتابه ( وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُوْرًا وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ) .

**ترجمه** :۔دريمه خبره همدا ده چه په هندوستان كښی دا اصطلاح وه چه د وهابی لفظ د هغه چا د پاره استعماليدو چه هغه د ائمه رضی الله تعالىٰ عنهم تقليد پريښی وو او د تقليد نه به ناست وو او په وروسته كښی دا لفظ داسی عام شو غالب استعمال ئی په هغه چاكښی وو چه هغه به په سنت محمدی باندی عمل كاوو او هغه سيئه بدعتونه او هغه بد رواجونه به ئی پريښی وو غالب استعمال ئی په همدغه نامه كښی وو خو اخر تر داسی اندازه دا نوم شائع شو چه په بمبئ او په هغه اطرافو د هغه كښی به بدعتی هغه چاته ويل كيدو چه هغه به د اولياؤالله وو د قبرونو د سجده او طوافونو نه خلک راگرځول او هغه چاته ويل كيدو چه هغه به د ربا او سود حراموالی ظاهره كاوو هغه به وهابی بلل كيدو كه څه هم هغه د اكابرينو علماؤ نه وو او داسی عام شو دغه لفظ چه اخر كښی د ښكنځلو يو لفظ وو

په دغه بناء که چیرته یو سړی د اهل الهند نه بل هند والا ته وویل چه دغه وهابی ده دغه خبری په دې دلالت نه کاوو چه د دغه په عقیده کښې فساد ده بلکه په دی ئی دلالت کاوو چه دغه سنې حنفی په سنت باندی عمل کونکی ده او د بدعت نه پرهیز کونکی او د الله تعالیٰ نه ویریدونکی ده په کولو د ګناه کښی او هرکله چه علماء کرام زمونږ په ژوندی کولو د سنتو کښی سعیه او کوشش کوی او د بدعت د اور په مړه کولو کښې ډیر کوشش کونکی دی نو هغه د ابلیس علیه لعنة لښکر په دوی باندی غضب کوی او دَ دوی مبارکو په کلام کښی تحریف کوی او رنګا رنګ تهمتونه باندی ئی رنګوی او د وهابیت لقبونه ورکوی او دوی مبارکان ډیر لری او ازاد دی د داسې باطلو خرافاتو نه بلکه دوی په هغه طریقه دی چه هغه طریقه خاص د اولیاؤ کرامو د تللو ده او الله تعالیٰ په خپل کلام مبارک کښی داسی فرمائی چه هُمدغه رقم مونږ ګرځولی دی د هر نبی د پاره دښمنان د انسانانو او پیریانو نه دوی غورځوی یو د هغه بل طرف ته د دروغو قولونه ده دهوکی د پاره ای (محمدﷺ) که ستا رب جل جلاله وغواړی دا خلک منعه کړی بیا دا خلک دا کار نشی کولای نو پریږده دوی او دَ دوی افتراء او دروغ۔

فلما کان ذالك فی الانبیاء صلوات الله تعالیٰ علیهم اجمعین وسلامه وجب ان یکون فی خلفائهم ومن یقوم مقامهم کما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم نحن معاشر الانبیاء اشد الناس بلاءً ثم الامثل فالامثل لیتوفر حظهم ویکمل لهم اجرهم فالذین ابتدعوا البدعات ومنا لوالی المشهوات واتخذوا الههم الهوی والقوانفسهم فی هاویة الردی یفترون علینا الاکاذیب والاباطیل وینسبون الینا الاضالیل فاذا نسب الینا فی حضرتکم قول یخالف المذهب فلا تلتفتوا الیه لا تظنوبنا الاخیرا وان اختلج فی صدورکم فاکتبوا الینا فاناناخبرکم بحقیقة الحال والحق من

المقال فانکم عندنا دائرة الاسلام .

**ترجمه** :۔ هرکله چه دغه معانده د انبیاؤ په مقابل کښی ثابته شوه نو لازمه دا ده چه د انبیاؤ د خلیفه ګانو سره او د هغه چا سره چه دَ دوی په ځای قائم وی د مخالفی ډلی دغه عناد او فساد به همیشه وی لکه چه د دارینو سردار صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی چه مونږ د انبیاؤ ټولی د خلکو هغه ډیر سخت د تکلیفونو د واوریدلو ځای یو د مونږ نه بعد په درجه درجه دی دپاره دَ دی چه دَ دوی حصه پراته او اجرئی هم کامل شی او هغه کسان چه دوی خوښونکی دَ بداعتونو وی او میلان او محبت د شهوات کوی او هواونفس ئی خدایان ګرځولی وی او دوی ځانونه په هغه ورطوده رد کښی اچولی وی او مونږ باندی افتراء دَ دروغو او باطلو کوی او نسبت کوی مونږ ته د ګمراهانو نو کله چه دوی نسبت کوی مونږ ته دَ داسی شیانو ستاسو په حضور کښی چه هغه شیان مخالف د مذهب نه وی نو تاسو دوی ته نظر مه کوی او مونږ باندی ګمان مه کوی بلکه د خیر ګمان کوی او که چیری تاسو ته په خپلو زړونو کښی څه پیدا شی نو تاسو مونږ ته ولیکی مونږ تاسو ته خبر درکوو په حقیقت د حال سره او هغه د حقیقت د قولونو حال درکوو او تاسو زمونږ د اسلام دَ مرکز دائره یېئ۔

## ﴿ توضیح الجواب ﴾

عندنا وعند مشائخنا زیارة قبر سیدالمرسلین (روحی فداه) من اعظم القربات واهم المثوبات وانجح لنیل الدرجات بل قریبة من الواجبات وان کان حصوله بشد الرحال وبذل المهج والاموال وینوی وقت الارتحال زیارة علیه افضل الصلواة وعلیه الف الف تحیة وسلام وینوی معها زیارة مسجده صلی الله علیه وسلم وغیره من البقاع والمشاهد الشریفة بل الاولی ماقال العلامة الهمام ابن الهمام ان یجرد النیة لزیارة

قبره علیه الصلاة والسلام ثم یحصل له اذا قدم زیارة المسجد لان فی ذالك زیارة تعظیمه واجلاله صلی الله علیه وسلم ویوافقه قوله صلی الله علیه وسلم من جاء نی ذائراً لا تحمله حاجة لا زیارتی کان حقًا علیّ ان اکون شفیعًا له یوم القیامة .

## ﴿ د جواب توضیح ﴾

**ترجمه** :۔ زمونږ په نزد او زمونږ دَ مشائخو په نزد ده علیه السلام (زما روح دی تري قربان وی ) دَ قبر زیارت د هغه لوړو درجو دَ قربت نه ده او له هغه اخری درجو دَ ثواب نه ده او سبب د حصول دَ درجو ده بلکه نزدی ده د واجبو نه که څه هم دغه حصول د دۀ په تړلو د کجاوی او په خرچ کولو د مال سره او په بذل دَ روح سره ده او نیت به کوی په وخت دَ سفر کښی دَ زیارت د علیه السلام او د هغه سره به نیت د زیارت د مسجد نبوی هم کوی او دَ داسی نورو متبرکو ځایونو او د هغه مشرفو مکانونو او بهتره خبره په طریقه د زیارت کولو کښی هغه د علامه ابن الهمام قول ده هغه وائی چه خاص به نیت د پاره د زیارت د قبر د علیه السلام کوی وروسته تاته حاصلیږی دَ مسجد نبوی زیارت په همدغه طریقه کښی عظمت او اجلال د علیه السلام ده او بل موافقه ده د قوله د جناب کریم سره هغه وائی که څوک زما د زیارت کولو د پاره بغیر د بل څه حاجته راغلو د هغه سړی په ما باندی دا حق دي چه زه د محشر په ورځ د دۀ دَ پاره شفاعت کونکی جوړ شم ۔

وکذا نقل عن العارف السامی الملا جامی انه افرز الزیارة عن الحج وهو اقرب الی المذهب المحبین واما ماقالت الوهابیة من ان المسافر الی المدینة المنورة علی ساکنها الف الف تحیة لا ینوی الا لمسجد الشریف استدلالاً بقوله صلی الله علیه وسلم لاتشد الرحال الا الی ثلاثة مساجد فمردود لان الحدیث لا یدل علی المنع اصلا بل لو تامله ذوفهم ثاقب

لعلم انه بدلالة النص يدل على الجواز فان العلة التى استسنى بها المساجد الثلاثة من عموم المساجد اوالبقاع هو فضلها المختص بها وهو مع الزيادة موجود فى البقعة الشريفة فان البقعة الشريفة والرحبة المنيفة التى ضم اعضائه صلى الله عليه وسلم افضل مطلقًا حتى من الكعبة ومن العرش ومن الكرسى كما صرح به فقهائنا رضى الله تعالىٰ عنهم ولما استسنى المساجد لذالك الفضل الخاص فاولى ثم اولى ان يستسنى البقعة المباركة لذالك الفضل العام .

**ترجمه** :۔او همدارنگه د عارف مولانا جامیؒ نه نقل شویدی چه د حج نه علیحده د علیه الصلاة والسلام زیارت ته نیت کول دغه د محبینو او عاشقانو دَ مذهب طریقه ده او هغه قول چه وهابیانو کړیده چه د علیه الصلاة والسلام روضې ته سفر کونکی دی نیت نه کوی بلکه خاص د مسجد شریف نیت دې کوی دوی دلیل نیولی ده په هغه قول د علیه السلام باندی چه تاسو مه تړی کجاوی بلکه د دغو درو مساجدو د پاره ئی تړی دا مردوده ده رد کړی شوی ده ځکه حدیث خو دلالت په منعه نکوی بلکلیه که چیرته یو ښه تینګ فکر والا فهم ورته وکړی حتما به معلومه کړی چه په دلالت د نص سره جواز ثابت ده ځکه هغه علت چه په ده سره دَ دریو مساجدو استثناء راغلی دا د عمومه د مساجدو او د هغه متبرکو ځایونو ده دغه بهتروالی چه ده دا خاصه په دوی پوری ده او دغه سره د همدغه زیادت موجوده ده په دغه بقعه مبارکه د علیه السلام کښی دلیل دا ده چه دغه مبارکه روضه هغه روضه ده چه د علیه السلام اعضاء مبارک په کښی دی دا په بهتر والی کښی خصوص لړی تر کعبې او تر عرش وکرسی لکه چه فقهاؤ رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین تصریح کړی ده نو کله چه استثناء شول مساجد د دغه خاصی بهتری په خاطر نو بهتره هم دا ده چه

دغه روضه مبارکه استثناء شی د همدغه عامی بهتری په خاطر سره ۔
وقد صرح بالمسئلة كما ذكرناه بل بابسط منها شيخنا العلامة شمس العلماء العاملين مولانا رشيد احمد الجنجوهی قدس الله سره العزیز فی رسالته زبدة المناسك فی فضل زيارة المدينة المنورة وقد طبعت مراراً وايضًا فی هذالمبحث الشريف رسالة لشيخ مشائخنا مولانا المفتی صدر الدين الدهلوی قدس الله سره العزيز اقام فيها الطامة الكبرى على الوهابية ومن وافقهم واتى ببراهين قاطعة وحجج ساطعة سماها احسن المقال فی شرح حديث لا تشد الرحال طبعت واشتهرت فليراجع اليها والله تعالىٰ اعلم.

**ترجمه** :۔او په تحقیق سره تصریح کړی ده په دغه مسئله سره چه مونږ درته ذکر کړه بلکه ښه وضاحت ئی کړی ده زمونږ شیخ العلامه شمس العلماء مولانا رشید احمد الجنجوهی قدس الله سره العزیز په خپله رساله کښی چه ده ( زبدة المناسك فی فضل زيارة المدينة المنورة ) په نامه سره شهرت لری او دغه رنګه په همدغه بحث کښی رساله ده د شیخ د مشائخینو زمونږ ښخه مولانا المفتی صدر الدین الدهلوی قدس الله سره العزیز ده مبارک په دغه رساله کښی په وهابیانو غټه د قیامت ورځ جوړه کړی ده او په هغه چا چه د وهابیانو سره موافق وی او په هغه قاطعه براهینو او ځلیدونکو دلائلو باندی ئی راتګ کړی ده او نامداره دَ دغه رساله په نامه د (احسن المقال فی شرح حديث لا تشد الرحال) سره چهاپ شوی او مشهوره ده رجوع کول ورته بهتره ده ۔ والله تعالىٰ اعلم

## السوال الثالث والرابع

(۳) هل للرجل إن يتوسل فی دعواته بالنبی ﷺ بعد الوفاة ام لا؟

(٤) ايجوز التوسل عندكم بالسلف الصلحين من الانبياء والصديقين والشهداء واولياء رب العالمين ام لا .

## ﴿ دریم او څلورم سوال ﴾

**ترجمه** :۔(۱) ایا د وفات نه وروسته په دعاوو کښې الله جل جلاله ته نبی علیه السلام واسطه او وسیله جوړول د یوشخص د پاره شته او کنه؟

(۲) ستاسو په نزد باندی سلف صالحین یعنی انبیاء او صادقین او شهداء او اولیاء وسیله جوړول جواز لری او که نه ؟

## ﴿ الجواب ﴾

عندنا وعند مشائخنا یجوز التوسل فی الدعوات بالانبیاء والصالحین من الاولیاء والشهداء والصدیقین فی حیاتهم وبعد وفاتهم بان یقول فی دعائه اللهم انی اتوسل الیك بفلان ان تجیب دعوتی وتقضی حاجتی الی غیر ذالك ...

## ﴿ جواب ﴾

**ترجمه** :۔زمونږ په نزد او زمونږ د مشائخو په نزد په دعاؤ کښې واسطه جوړول په انبیاؤ او شهداؤ او صلحاؤ او اولیاؤ په ژوند کښې او بعد د مرګه دَ دوی نه جائز او روا ده په داسې طریقه سره چه ته ووائې په دعاؤ کښې چه یاالله پاکه زه وسیله جوړوم تاته په فلانی سره دغه ستا نازولی انسان می تاته واسطه ده ته زما دعا قبوله کړې او زما هرڅه احتیاج راپوره کړه او داسې نور نور لکه چه تصریح کړې ده په دغه سره مولانا شاه محمد اسحاق الدهلوی مهاجرمکی بعدکې بیان کړیده په خپله فتاوی کښې شیخ او مولانا زمونږ رشید احمد الګنګوهی رحمة الله تعالیٰ علیهما او په دغه اوس زمانه کښې مشهوره ده ډیره شائع ده په لاسونو د خلکو کښې او دغه مسئله په دغه فتاوی کښې په صفحه ۹۳ کښې په اول جلد کښې ده که ستاخوښه وی رجوع ورته وکړه ۔

☆☆☆☆☆

☆

## ﴿ السوال الخامس ﴾

ماقولكم فی حياة النبی عليه الصلاة والسلام فی قبره الشريف هل ذالك امرمخصوص به ام مثل سائر المؤمنين رحمة الله عليهم حيوته برزخية ؟

## ﴿ الجواب ﴾

عندنا وعند مشائخنا حضرة الرسالة صلی الله عليه وسلم حی فیِ قبره الشريف وحيوته صلی الله عليه وسلم دنيوية من غير تكليف وهی مختصة به صلی الله عليه وسلم وبجميع الانبياء صلوات الله عليهم والشهداء لا برزخية كما هی حاصلة لسائر المؤمنين بل لجميع الناس كما نص عليه العلامة السيوطی فی رسالته : ابناءِ الاذكياء بحيوة الانبياء حيث قال قال الشيخ تقی الدين السبكی حيوةَ الانبياء والشهداء فی القبر كحيوتهم فی الدنيا ويشهد له صلاة موسیٰ عليه السلام فی قبره فان الصلاة تستدعی جسداً حياً الی اخر ماقال فثبت بهذا ان حيوته دنيوية برزخية لكونها فی عالم البرزخ ولشيخنا شمس الاسلام والدين محمد قاسم العلوم علی المستفدين قدس الله سره العزيز فی هذه المبحث رسالة مستقلة دقيقة المآخذ بديعة المسلك لم ير مثلها قد طبعت وشاعت فی الناس واسمها آب حيات : ای ماء الحيوة .

## ﴿ پنځم سوال ﴾

**ترجمه** :۔د عليه الصلاة والسلام د قبر په ژوند کښې تاسو او ستاسو علماء څه وايې دَ دۀ مبارک د پاره يو خاص ژوند ده که د نورو مسلمانانو په شان د قبر ژوند لری ؟

## ﴿ جواب ﴾

زمونږ په نزد او زمونږ دَ علماؤ په نزد جناب کريم ژوندی ده په خپل قبر مبارک کښې او ژوندئی لکه ژوند د دنيا داسی ده بغير ڼه تکليفه او دا حالت مختص په جناب کريم پورې ده او په ټولو انبياؤ او شهداؤ پوری نه هغسی د قبرونو ژوند لکه چه ټولو مسلمانانو بلکه ټولو انسانانو ته حاصل ده لکه

چه تصریح کړی ده په دې سره علامه سیوطی په رساله خپله کښې چه په نامه د ابناء الاذکیاء بحیوة الانبیاء دارنګه ده نقل کړی ده چه شیخ تقی الدین السبکی ژوند دَ انبیاؤ او دَ شهداؤ په قبرونو کښې لکه ژوند ده دوی په دنیا کښې داسې ده او دلیل ئی هم هغه لمونځ د حضرت موسی علیه السلام ده ځکه لمونځ نه ادا کیږی بلکه په ژوندی جسد سره ادا کیږی الخ د همدغه دلیل نه دا ثابته شوه چه دَ دوی ژوند په قبرونو کښې لکه ژوند په دنیا کښې داسې ده او شیخ مولانا محمد قاسم صاحب قدس الله سره العزیز په دغه بحث کښې یو مستقله رساله په نهایت باریکی سره او په ډیرو باریکو مآخذونو سره منوره ده چه مثل هم نه لری چهاپ کړی ده او ډیره شائع او مشهوره ده په خلکو کښې په نامه د ( آب حیات ) یعنی اوبه د ژوند سره یادیږی۔

## ﴿السوال السادس﴾

هل للداعی فی المسجد النبوی ان یجعل وجهه الی القبر المنیف ویسئل من الموالی الجلیل متوسلاً بنبیه الفخیم النبیل ؟

## ﴿شپږم سوال﴾

ایاجائز ده په مسجد نبوی کښې هغه دعا کولو والا ته داسې طریقه چه دِ قبر مبارک طرف ته مخ وګرځوی او ودریږی او د جناب کریم په واسطه سره د الله تعالیٰ نه د حاجت طلب وکړی ؟

## ﴿الجواب﴾

اختلف الفقهاؤ فی ذالك كما ذكره الملاعلی قاری رحمه الله تعالیٰ فی المسلك والمنقسط فقال ثم اعلم انه ذكر بعض مشائخنا كابی اللیث ومن تبعه كالكرمانی والسروجی انه یقف الزائر مستقبل القبلة كذا رواه الحسن عن ابی حنیفة رضی الله تعالیٰ عنهما ثم نقل عن ابن الهمام بان ما نقل عن ابی اللیث مردود بما روی ابو حنیفة عن ابن عمر رضی الله عنه

قال من السنة ان تآتی قبر رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم فتستقبل القبر بوجهك ثم تقول : السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبركاته :ثم ایده بروایة اخری اخرجهما مجدالدین اللغوی عن ابن المبارك قال سمعت ابا حنیفة رحمه الله یقول قدم ابو ایوب السختیانی وانا بالمدینة فقلت لانظرن مایصنع فجعل ظهره مما یلی القبلة ووجهه مما یلی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم وبکی غیر متباك فقام مقام فقیه ثم قال العلامة القاری بعد نقله وفیه تنبیه علی ان هذا هو مختار الامام بعد ما کان متر ددا فی مقام المرام ثم الجمع بین الروایتین ممکن الخ کلام الشریف فظهر بهذا انه یجوز کلا الامرین لکن المختار ان یستقبل وقت الزیارة مما یلی وجهه الشریف صلی الله علیه وسلم وهو المآخوذ به عندنا وعلیه عملنا وعمل مشائخنا وهکذا الحکم فی الدعاء کما روی عن مالك رحمه الله تعالیٰ لما ساله بعض الخلفاء وقد صرح به مولانا الگنگوهی رحمه الله تعالیٰ فی رسالته : زبدة المناسك : واما مسئلة التوسل فقد مرت فی نمرة (٤:٣) ص ٦ .

## ﴿ د شپږم سوال جواب ﴾

فقهاؤ رحمهم الله تعالیٰ علیهم اختلاف کړیده په همدغه مسئله کښی لکه چه ذکر کړی دی ملا علی قاری رحمه الله تعالیٰ په مسلک منقسط کښی فرمائلی ئی دی چه پوه شی شان دا ده چه مشائخو زمونږ لکه ابواللیث سمرقندی او هغه تابعین د ده لکه کرمانی او سروجی او داسی نورو نورو ذکر کړیدی چه د زیارت کولو والا دی مخامخ قبله شریفی ته ودریږی دغه رنګه روایت کړیده حسن د امام ابو حنیفه رضی الله تعالیٰ عنهما نه وروسته نقل شویده د ابن الهمام نه هغه وائی چه د ابواللیث نه چه کوم روایت د هغه مردود ده په هغه سبب سره چه امام ابو حنیفه رضی

الله تعالىٰ عنه روايت کړيده د ابن عمر رضی الله تعالىٰ عنه نه ، دې مبارک وائی چه د سنتو نه دا ده چه يو څوک قبر دَ عليه السلام ته راشی او مخامخ دې ورته ودريږی او ودې وائی چه ( السلام عليک ايها النبی ورحمة الله وبرکاته )او د دغه تائيد په بل روايت سره هم شويده د دغو رواياتو خروج مجدالدين د ابن المبارک نه کړيده دې وائی چه ما د ابو حنيفه رضی الله تعالىٰ عنه نه واوريدل ده داسی ويل چه ابوايوب السختيانی راغو مدينې منورې ته زه په مدينه کښی وم ماداسی وويل چه زه به ټينګ نظر کوم هغه ته چه دی کوم فعل کوی نو دهٔ مبارک د شا طرف قبلې ته وګرځوو او مخ ئی طرف د قبر مبارک ته کړو او ډير بې اختياره ئی وژړل او دې ودريدو په هغه ځای د فقهاؤ او بعد د دغه نقل نه ملاعلی قاری وائی چه په همدغه کښی تنبه او اګاهی ده چه د امام صاحب مبارک هم دغه رايه او فعل خوښ ده او جمع والا د روايتينو په مابين کښی هم ممکنه ده الخ نو د همدغه نه دا ظاهره شوه چه جواز دواړه صورته لری لکن هغه مختار صورت ئی دغه اخری صورت ده چه ابوايوب السختيانی کړيده دا زمونږ مأخوذ ده او په دغه سره زمونږ عمل ده او عمل زمونږ د مشائخو ده او دغه رنګه دَ حکم په دعا کښی لکه چه له مالک صاحب نه هم روايت شويده کوم وخت چه خليفه ګانو د دهٔ نه پوښتنه وکړه او په دی سره مولانا الګنګوهی رحمه الله هم تصريح کړی ده په خپله رساله زبدة المناسک کی او دغه د توسل مسئله په حاشيهٔ نمبر۴: ۳ ص ٦ کښی تيره شوه ـ

## ﴿ السوال السابع ﴾

**ماقولکم فی تکثير الصلاة علی النبی صلی الله تعالىٰ عليه وسلم وقرائة دلائل الخيرات والاوراد ؟**

☆☆☆

## ﴿اووم سوال﴾

څه قول کوی علماء کرام ستاسو په ډیرویلو دۀ درود کښبی په جناب کریم ﷺ باندی او دَ دلائل الخیرات او نورو وردونو په ویلو کښبی ؟

## ﴿الجواب﴾

يستحب عندنا تكثير الصلاة على النبى صلى الله تعالىٰ عليه وسلم وهو من ارجى الطاعات واحب المندوبات سواءٌ كان بقرائة الدلائل ولا وارد الصلوتية المؤلفة فى ذالك او بغيرها ولكن الافضل عندنا ماصح بلفظه صلى الله تعالىٰ عليه وسلم ولو صلى بغير ما ورد عنه صلى الله عليه وسلم لم يخل عن الفضل ويستحق بشارة من صلى على صلوة صلى الله عليه عشرا وكان شيخنا العلامة الگنگوهى يقرءُ الدلائل وكذالك المشائخ الاخر من ساداتنا وقد كتب فى ارشاداته مولانا ومرشدنا قطب العالم حضرت الحاج امدادالله قدس الله سره العزيز وامر اصحابهٗ بان يخربوه وكانوا يروون الدلائل رواية وكان يجيز اصحابه بالدلائل مولانا الگنگوهى رحمة الله عليه ؟

## ﴿جواب﴾

**ترجمه** :۔ زمونږ په نزد باندی په حضرت محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم باندی درود ویل مستحب ده او په اخره درجه سره د اجر او ثواب او طاعت وسیله او سبب ده دغه درود که په ویلو د دلائل الخیرات سره وی که دَ درود شریف ده نورو تصنیف شویو رسالو په ویلو سره وی او که په نورو وردونو سره وی لکن بهترین هغه درود ده چه په لفظ د علیه السلام سره صحی شوی وی او که یو څوک هغه درود وائی چه له علیه السلام نه وارد نه وی هم د هغه زیری مستحق ده چه علیه السلام وائی چه هغه څوک په ما باندی یو درود وائی یو وار الله جل جلاله په ده باندی لس واره درود وائی او

زمونږ شیخ حضرت مولانا گنگوهی دلائل شریف وایو او دغه رنګه هغه اخری مشائخو زمونږ له سیدانو نه او دارنګه په ارشاداتو د حضرت الحاج امدادالله مهاجر مکی قدس الله سره العزیز کښی هم نوشته دی او خپل ملګری ئی هم په دغه سره امر کړی دی چه ده دلائل ورود کوی او زمونږ مشائخو همیشه دَ دلائلو رد کاوو او مولانا ګنګوهی هم خپل مریدان په دی سره امر کړیدی چه ورد وکړی۔

## ﴿السوال الثامن والتاسع والعاشر﴾

هل یصح لرجل ان یقلد احدا من الائمة الاربعة فی جمیع الاصول والفروع ام لا وعلی تقدیرا لصحة هل هو مستحب ام واجب ومن تقلدون من الائمة فروعًا واصولًا ؟

## ﴿الجواب﴾

لابد للرجل فی هذه الزمان ان یقلداحدا من الائمة الاربعة رضی الله تعالیٰ عنهم بل یجب فانا جربنا کثیراً ان مال ترك تقلید الائمة واتباع رای نفسهٖ وهو ها السقوط فی حفرة الالحاد والذندقة اعاذناالله منها ولاجل ذالك نحن ومشائخنا مقلدون فی الاصول والفروع لامام المسلمین ابی حنیفة رضی الله تعالیٰ عنه اماتناالله علیه وحشرنا فی زمرته ولمشائخنا فی ذالك تصانیف عدیدة شاعت واشتهرت فی الافاق

## ﴿سوال اتم او نهم او لسم﴾

په ټولو اصولو او فروعو کښې دیو شخص ته داصحې ده چه په څلورو امامانو کښې دَ یوتقلید وکړې اوکنه اوکه ئې وکړې دامستحب ده اوکه واجب ده اوتاسو دکم امام تقلید کونکې یيۍ؟

## ﴿جواب﴾

په دغه اوسنی زمانه کښی واجب ده تقلید کول اوهیڅ چاره نشته ضروری

ده چه په امامانو کی به دَ یو تقلید کوی اوموږ ډیر خلک تجربه کړی دی چه دائمه وو تقلید ئې پریښې دی اودنفس وهوااتباع ئې کړی ده هغه دالحادپه کندو اودزندقه وویه کړی کښې بند دی اعاذنا الله منها اود همدغه سبب نه موږ اوزموږ مشائخین په اصولو اوفروعو کې دامام ابو حنیفه رضی الله تعالی عنه مقلدین یو الله جل جلاله دې مرګ اوبیا حشر په همدغه تولی کښې رانصیب کړی اوزموږ دَ مشائخو په همدغه بحث کښې ډیر تصنیفونه اوپه وطنونو کښی ډیر مشهور دی.

## «السوال الحادی عشر»

وهل یجوز عندکم الاشتغال باشغال الصوفیة وبیعتهم وهل تقولون بصحة وصول الفیوض الباطنیة عن صدور الاکابر وقبورهم وهل یستفید اهل السلوك من روحانیة المشائخ الاجله ام لا؟

## «الجواب»

یستحب عندنا اذا فرغ الانسان من تصحیح العقائد وتحصیل المسائل الضروریة من الشرع ان یبایع شیخاراً سخ القدم فی الشریعة زاهداً فی الدنیا راغبا في الآخرة قد قطع عقبات النفس وتمرن في المنجیات وتبتل عن المهلکات کاملا مکملاً ویضع یده في یده ویحبس نظره في نظره ویشتغل باشتغال الصوفیة من الذکر والفکر والفناء الکلي فیه ویکتسب النسبة التي هي النعمة العظمي والغنیمة الکبري وهي المعبر عنها بلسان الشرع بالاحسان وامامن لم یتیسرله ذالك ولم یقدر له ماهنالك فیکفیه الانسلاك بسلکهم ولانخراط في حزبهم فقد قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المرء مع من احب اولئك قوم لایشقي جلیسهم وبحمد الله تعالی وحسن انعامه نحن ومشائخنا قد دخلوا في بیعتهم واشتغلوا باشغالهم وقصدواللارشاد والتلقین والحمد لله علیّ ذالك واما لا ستفادة من

روحانية المشائخ الاجلة ووصول الفيوض الباطنية من صدورهم اوقبورهم فيصح على الطريقة المعروفة في اهلها وخواصها لابما هو شائع في العوام.

## ﴿یوولسم۱۱سوال﴾

**ترجمه:** ایا ستاسو په نزدجائزده دصوفیه کرامو په شغل سره مشغولیدل اوبیعت ورکول دوې ته اودَ باطنې فیضان دَوصول په صحت سره چه داکابرینود سینو اوقبرونو نه تاسو قائلین یئ؛ اوکنه اودبزرگانو مشائخود روحانیت نه اهل سلوک طلب د فائده کوې اوکنه ستاسو قول په دې کښې څه ده؟

## ﴿جواب﴾

زمونږ په نزد باندی مستحب دی چه یو انسان ذعقائدوډ صحته اود حصوله دشریعت دهغه ضروري مسائلو فارغ شی نودَ یوداسی متشرع محکم قدمه شیخ چه په دنیاکښې زاهد اوداخرت دحالاتو په صحت کښې رغبت کوونکې وی اوپه تحقیق سره دَ قطعه کړی وی هغه خواهشات دنفس اود ډیرومهلکاتو نه په نجات وی پخپله کامل اودَ بل شخص دپاره هم مکمل وې دمرشد لاس ئی په لاس کښی وی اونظر ئی په نظر ددهٔ کښی بندوی اومشغول وی په شغل دَ صوفیه کرامو کښی ذکر او فکر اوبالکلیه فنائی په دوی کښی وی اوکسب دهغه نسبت کوی چه هغه نعمت باعزمته اوکبری غنیمت ده اوپه شرعی ژبه د دوی نه تعبیرپه احسان سره کیږې اوکه چیرته یوچاته دااسانه نه وی اوقدرت وریاندی هم نه لری دهٔ لره تلل په لاره داسې اشخاصو اودهٔ لره ګډون په داسې ډله کښې کافې ده په تحقیق سره رسول الله صلیٰ الله علیه وسلم ویلی دی چه سړی له هغه کسانو سره ده چه هغه څوک د همدغه ډلی سره محبت لری اودغه همداسی ډله ده چه هر محبت کونکی اوکښینستلووالائی محروم نه پاتیږی په حمد دالله تعالی سره اوپه احسان دَ

تـعـمـت داللہ تعالی سرہ مونږ اوزمونږ مشائخین رحمهم اللہ تعالی په بیعت دَ دوی کښـې داخـل اوپـه شـغـل دَ دوی کښې مشغول یو اومونږ دَ ارشاد اوتلقین قـصد لرونکی یو او اللہ تعالی لره دې په دغه باندی حمدوی اوهغه استفاده له روحانیـته دبزرګانو مشائخو نه اودباطنی فیض وصول دَ سینو اوقبرونو دَ دوی نـه پـه هـغـه معلومه طریقه سره چه په خاوندانودَ دغی طریقه کښی ده جائزده نه په هغه رقم لکه چه په عوامو کښې رواج ده.

## ﴿السوال الثانی عشر﴾

قـدكـان مـحـمـد بن عبـدالـوهـاب الـنـجـدی يستحل دماء المسلمين واموالهم واعـراضهـم وكـان ينسـب الناس كلهم الى الشرك ويسب السلف فكيف ترون ذالك وهل تجوزون تكفير السلف والمسلمين واهل القبلة ام كيف مشربكم؟

## ﴿دوولسم سوال﴾

پـه تـحـقیق سره محمد بن عبدالوهاب النجدی دمسلمانانو وینی او مالونه اوسامانونه حلال بلل اودټولو انسانانو نسبت ئی شرک ته کاوواوسلفوته ئی بـنـکـنـځـل کـول داخبـره تـاسو څنګه بولی اوسلفو اومسلمانانو اواهل قبله ووپه کفر کښی تاسو څه وایئ اوستاسو مشرب څه ده؟

## ﴿الجواب﴾

الـحـكـم عـنـدنا فيهم ماقال صاحب الدر المختار وخوارج هم قوم لهم منعة خرجوا عليه بتاويل يرون انه على باطل كفر او معصية توجب قتاله بتاويلهم يستـحـلـون دمائنا واموالنا ويسبون نسائنا الى ان قال وحكمهم حكم البغاة ثم قال وانما لم نكفرهم لكونه عن تاويل وان كان باطل خالد احمد.

## ﴿جواب﴾

زمـونـږ پـه نـزد حـكـم دَ دغه مسئلی هغه رقم ده لکه دَ درمختار مؤلف چه وائـی چـه خـوارج يـوه مـحـكـمـه او مضبوطه ډله ده چه په سر د عوامو ئی

خپل رعب اچولی ده په هغه تاویل سره چه هغه معصیة او باطل یعنی کفر ده په دغه تاویل زمونږ وینی او مالونه حلال بولی او زمونږ ښځی دَ جیلونو خاوندانی کرځوی او حکم دَ دوی حکم دَ باغیانو ده او وروسته دا هم وائی چه مونږ دَ دوی تکفیر په دی سبب نه کوو چه ددغه فعل تاویل نشته که څه هم باطل ده۔

وقال الشامی فی حاشیته کما وقع فی زماننا فی اتباع عبدالوهاب الذین خرجوا من نجد وتغلبوا علی الحرمین وکانوا ینتحلون مذهب الحنابلة لکنهم اعتقدوا انهم هم المسلمون وان من خالف اعتقادهم مشرکون واستباحو بذالك قتل اهل السنة وقتل علمائهم حتی کسر الله تعالی شوکتهم ثم اقول لیس هو ولا احد من اتباعه وشیعته من مشائخنا فی سلسلة من سلاسل العلم من الفقه والحدیث والتفسیر والتصوف واما استحلال دماء المسلمین واموالهم واعراضهم فاما ان یکون بغیر حق او بحق فان کان بغیر حق فاما ان یکون من غیر تاویل فکفر وخروج عن الاسلام وان کان بتاویل لایسوغ فی الشرع ففسق واما ان کان بحق فجائز بل واجب واما تکفیر السلف من المسلمین فحاشا ان نکفر احداً منهم بل هو عندنا رفض وابتداع فی الدین وتکفیر اهل القبلة من المبتدعین فلانکفرهم مالم ینکروا حکمًا ضروریًا من ضروریات الدین فاذا ثبت اِنکارا مرضروری من الدین نکفرهم ونحتاط فیه وهذا دابنا وداب اباء نا وداب مشائخنا رحمهم الله تعالیٰ علیهم.

﴿جواب﴾

او علامه شامی په خپله حاشیه کښی داسی وائی لکه چه زمونږ په زمانه کښی واقع ده په اتباع ده عبدالوهاب کښی هغه کسان چه د (نجد) نه ووتل او په حرمینو ئی غلبه وکړه او خپل ځانونه ئی حنبلی مذهبه شمیرل مګر دَ

دوی عقیده داسی وه چه مونږ صرف مسلمانان یو او په تحقیق سره هغه ثوک چه زمونږ د عقیده مخالف وی هغه مشرکین دی نو په همدغه بناء دوی د اهل السنت والجماعت د مسلمانانو قتل او دَ دوی د علماؤ قتل جائز بالوتر هغه وخته چه الله تعالیٰ دَ دوی رعب او شوکت کمزوری کړو او په وروسته کښی زه دا وایم چه عبدالوهاب او هغه د تابعینو او شعیه ګانو د دۀ نه یو هم زمونږ د مشائخو په سلسله د هغه سلسلو د علم د فقه د حدیثو او د تفاسیر او تصوف څخه نه دی او هغه د مسلمانانو د وینو او مالونو او اعراضو جواز چه نجدی ورکړیده هغه به د دوو حالو نه خالی نه وی یا به بغیر د حق نه وی یا به په حق وی که بغیر حق وی بیا به خالی نه وی یا به بغیر د تاویل نه وی دا خو کفر ده او خروج د اسلام نه ده او که په هغه قسم تاویل سره وی چه شرعا جائز نه ده دا خو فسق ده او که په حق سره وی خو جائز بلکه واجب ده او دا خبره چه کافر ویل اسلافو د اهل اسلام ته بعیده ده چه هغه یو ته کافر وایم او یا ئی د تولی د کافرانو نه شمیرم بلکه دا فعل زمونږ په نزد پرینبودل دَ دین او پیدا کول دَ نوی کار په دین کښی ده بلکه علاوه په دی مونږ اهل القبله ته مبتدعین کافران نه وایو ترڅو چه دَ دین د ضروری حکم نه دوی منکر نه وینو په کوم وخت کښی چه دَ دین د ضروریاتو نه ده دوی انکار مونږ ثابت ووینو کفار ورته وایو او مونږ په دی کښی احتیاط کوو دا زمونږ او زمونږ د بزرګانو او شیوخو رحمهم الله تعالیٰ علیهم طریقه ده ۔ والسلام ۔

## ﴿السوال الثالث عشر والرابع عشر﴾

ماقولکم فی امثال قوله تعالیٰ الرحمن علی العرش استوی هل تجوزون اثبات جهة ومکان للباری تعالیٰ ام کیف رایکم فیه ؟

## ﴿الجواب﴾

قولنا فی امثال تلك الایات انا نؤمن بها ولا یقال کیف ونؤمن بالله سبحانه وتعالیٰ متعال ومنزه عن صفات المخلوقین وعن سمات النقص والحدوث کما هو رای قدمائنا واما ما قال المتاخرون من ائمتنا فی تلك الایات یاولونها بتاویلات صحیحة سائغة فی اللغة والشرع بانه یمکن ان یکون المراد من الاستواء الاستیلاء ؤمن الید القدرة الی غیر ذالك تقریبًا الی افهام القاصرین فحق ایضًا عندنا واما الجهة والمکان فلا نجوز اثباتهما له تعالی ونقول انه تعالیٰ منزه ؤمتعال عنهما وعن جمیع سماة الحدوث.

## ﴿دیارلسم او څوارلسم سوال﴾

**ترجمه** : څه امر کوی علماء ستاسو په دی قول د الله تعالیٰ کښی (چه رحمن په عرش مستوی ده) ایا تاسو جائز بولی ثبوت دَ جهت او مکان الله تعالیٰ لره ستاسورایه په دې قول کښی څه ده ؟

## ﴿جواب﴾

زمونږ قول په مثل دَ داسی ایاتونو کښی دا ده چه مونږ په داسی ایاتونو ایمان لرو او په کیفیت کښی ئی قول نه کوو او مونږ ایمان لرو په دی خبره چه الله تعالیٰ متعال ده پاک ده د صفاتو دَ مخلوق نه او د نقص او نجسو علامو نه پاک ده دغه زمونږ دَ مقدمینو علماؤ رایه هم ده او هغه زمونږ دَ متأخرینو علماؤ کم قول چه په دغه ایاتو کښی ده دوی تاویل ورکوی په صحیح او د شرعی او لغت سره برابر تاویلاتو باندی په داسی شکل سره چه امکان شته چه د استواء نه غلبه مراد شی او د لاس نه قدرت مراد شی دا هم زمونږ په نزد حقه ده البته ثابتول د طرف او مکان الله تعالیٰ لره دا مونږ جائز نه بولو دا وایو چه الله تعالیٰ منزه پاک ده د دوارو نه او دټولو نجسو صفاتو پاک ده

## ﴿ السوال الخامس عشر ﴾

هل ترون احدا افضل من النبی صلی اللہ علیہ وسلم من الکنایات ؟

## ﴿ الجواب ﴾

اعتقادنا واعتقاد مشائخنا ان سیّدنا ومولانا وحبیبنا وشفیعنا محمدا رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم افضل الخلائق کافة وخیرهم عنداللہ تعالیٰ لا یساویه احد بل ولایدانیه صلی اللہ علیہ وسلم فی القرب من اللہ تعالیٰ والمنزلة الرفیعة عنده وهو سید الانبیاء والمرسلین وخاتم الاصفیاء والنبیین کما ثبت بالنصوص وهو الذی نعتقده وندین اللہ تعالیٰ به وقد صرح به مشائخنا فی غیر ما تصنیف .

## ﴿ پنځلسم سوال ﴾

**ترجمه** :۔ ایا تاسو تر محمد ﷺ بل څوک په کائناتو کښې بهتر وینئ ؟

## ﴿ جواب ﴾

زمونږ او زمونږ د مشائخو مذهب او عقیده دا ده چه سردار دَ دارینو محمد مصطفی صلی اللہ تعالیٰ علیه وسلم تر ټول مخلوق بهتر ده او د اللہ تعالیٰ په نزد تر ټول مخلوق اعلی ده د اللہ تعالیٰ سره په قرب او مرتبه کښې د دهٔ سره څوک نشیٔ برابریدلای بلکه د ده مرتبه ته څوک ورنژدې کیدلای هم نشی او هغه لوړې مرتبې هم د دهٔ سره دی دیٔ ده انبیاؤ او رسولانو سردار او د دغه غوره او مختاره ډلې ختم کونکی ده لکه چه په ایاتونو مصرحو سره ثابته ده او هغه باندې زمونږ عقیده او همدغه دین ده په تحقیق سره زمونږ علماؤ د دغه دین وضاحت په ډیرو کتابو کښې کړیده ۔

## ﴿ السوال السادس عشر ﴾

اتجوزون وجود نبی بعد النبی علیه السلام وهو خاتم النبیین وقد تواتر معنی قوله علیه السلام لانبی بعدی وامثاله وعلیه انعقد الاجماع وکیف

رایکم فیمن جوز وقوع ذالك مع وجود هذه النصوص وهل قال احد منکم او من اکابرکم ذالك ؟

## ﴿شپاړسم سوال﴾

ایا تاسو دَ جناب کریم محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم نه وروسته دَ بل نبی راتګ سره د هغه چه علیه السلام وایی : ( انا خاتم النبیین لانبی بعدی) او نور داسی امثال د دغه حدیث په ثبوت باندی اجماع هم منعقده شوی ده جائز بولی او کنه او هغه څوک چه د همدغه حدیث باوجود د بل نبی راتګ جائز بولی د همدغه شخص په اړه ستاسو څه رایه ده او د تاسو او ستاسو د اکابرینو نه یو هم دَ داسی قول ویونکی ده ؟

## ﴿الجواب﴾

اعتقادنا واعتقاد مشائخنا ان سیدنا ومولانا وحبیبنا وشفیعنا محمدا رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم خاتم النبیین لا نبی بعده کما قال الله تبارك وتعالیٰ فی کتابه ولکن رسول الله وخاتم النبیین وثبت باحادیث کثیرة متواترة المعنی وباجماع الامة وحاشا ان یقول احدمنا خلاف ذالك فانه من انکر ذالك فهو عندنا کافر لانه منکر النص القطعی الصریح نعم شیخنا ومولانا سید الاذکیاء المدققین المولوی محمد قاسم النانوتوی رحمه الله تعالیٰ اتی بدقة نظره تدقیقًا بدیعًا اکمل خاتمیته علی وجه الکمال واتمها علی وجه التمام فانه رحمه الله تعالیٰ قال فی رسالته المسماة :: بتحذیر النّاس .

## ﴿جواب﴾

**ترجمه** :۔زمونږ او زمونږ د مشائخو عقیده هم دا ده چه سیدنا وحبیبنا محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم ختم کونکی د انبیاؤ ده هیڅ نبی دَ ده نه بعد نشته لکه چه الله تعالیٰ په خپل کلام مجید کښی وائی لکن محمد

صلی الله تعالیٰ علیه وسلم رسول د الله پاک ده او د انبیاؤ ختم کونکیُ ده او په ډیرو متواترو احادیثو سره دا خبره ثابته شوی ده او په اجماع دَ امت سره ثابته ده او بعیده ده دا خبره چه یو څوک له مونږ نه دَ داسی قول په خلاف قول کوی شان دا ده که څوک منکر شی د همدې قول نه هغه زمونږ په نزد باندی کافر ده ځکه دا د قطعی صریح نص نه منکر ده او زمونږ شیخ او مولانا دَ مدققینو او اذکیاؤ سردار مولوی محمد قاسم نانوتوی صاحب په ډیره باریکی او په ډیر عمیق نظر سره په خپله رساله (تحذیر النّاس) کښی په یو عجب کتابت په ښه مضمون سره لیکلی دی:

ماحصله ان الخاتمية جنس تحته نوعان احدهما خاتمية زمانية وهو ان يكون زمان نبوته صلى الله تعالىٰ عليه متاخراً من زمان نبوة جميع الانبياء ويكون خاتمًا لنبوتهم بالزمان والثانى خاتمية ذاتية وهى ان يكون نفس نبوته صلى الله تعالىٰ عليه وسلم ختمت بها وانتهت اليها نبوة جميع الانبياء وكما انه صلى الله عليه وسلم خاتم النبيين بالزمان كذالك هو صلعم خاتم النبيين بالذات فان كل مابالعرض يختم على ما باالذات وينتهى اليه ولا تتعداه ولما كان نبوته صلى الله عليه وسلم بالذات ونبوة سائر الانبياء بالعرض لان نبوتهم عليهم السلام بواسطة نبوته صلى الله عليه وسلم وهو الفرد الاكمل الاوحد الابجل قطب دائرة النبوة والرسالة وواسطة عقدها فهو خاتم النبيين ذاتًا وزمانًا وليس خاتمية صلى الله عليه وسلم منحصرة فى الخاتمية الزمانية.

**ترجمه**:۔دَ نانوتوی صاحب د رسالی خلاصه دا ده) چه خاتمیة یو جنس ده تر دهٔ لاندی دوه نوعی دی یوه نوعه خاتمیة زمانی ده هغه دا ده چه زمانه د نبوت د محمد علیه السلام وروسته او اخره ده تر زمانه د ټولو انبیاؤ او دی ختم کونکی دهٔ د پاره د نبوت دَ دوی په زمان کښی او دوهم خاتمیة ذاتی ده

هغه دا ده چه نفس نبوت د صلی الله علیه وسلم په دۀ سره ختم شویده او دَ تولو انبیاؤ دَ نبوت انتها د دۀ په نبوت شوی ده لکه څنګه چه علیه السلام خاتم النبیین ده په زمان کښی دغه رنګه علیه السلام خاتم النبیین ده په ذات کښی هر هغه څه چه په عرض سره وی ختمیږی په هغه چه هغه په ذات سره وی او انتهائی دۀ ته راځی او د دغه ذات نه بغیر بل طرف ته تعدانشی کولای نو هرکله چه نبوّت د محمد صلی الله علیه وسلم بالذات شو او نبوت دَ نورو انبیاؤ علیهم السلام بالعرض شو ځکه نبوت دَ دوی علیهم السلام په واسطه دَ نبوت د محمد علیه السلام ده ځکه دی یو فرد واحد اکمل او د نبوت او رسالت دَ دائره یو ستوری ده او واسطه د ټرلو د نبوت ده او دی خاتم النبیین ده ذاتا وزمانا او خاتمیت ئی هم منحصر په خاتمیت زمانئ کښی نه ده ـ

فانه لیس کبیرة فضل ولا زیادة رفعة ان یکون زمانه صلی الله علیه وسلم متاخرا من زمان الانبیاء قبله بل السیادة الکاملة والرفعة البالغة والمجد الباهر والفخر الظاهر تبلغ غایتها اذا کان خاتمیة صلی الله علیه وسلم ذاتا وزمانا واما اذا اقتصر علی الخاتمیة الزمانیة فلا تبلغ سیادته ورفعته صلی الله علیه وسلم کمالها ولا یحصل له الفضل بکلیته وجامعیته وهذا تدقیق منه رحمه الله تعالیٰ ظهر له فی مکاشفاف فی اعظام شانه واجلال برهانه وتفصیله وتبجیله صلی الله علیه وسلم .

**ترجمه** :ـ ځکه چه لوی فضل او زیادت بلندی خو په هغه صورت کښی نشته چه زمانه د علیه السلام تر زمانه د انبیاؤ علیهم السلام متاخره وی بلکه هغه کامل سیادة او هغه د بلاغة بلندی او هغه روښانه بزرګی او هغه ښکاره فخر رسیږی هغه اخری غایه ته په دې شرط چه خاتمیة د علیه السلام ذاتا او زمانا دواړه وی او که چیرته په خاتمیت د زمان کښئ قصرشی

بیا نو سیادة او رفعة د علیه السلام کمال ته نه رسیږی او ده لره بالکلیة او جامع فضل نه رسیږی او دغه عمیق مضمون په بیان د جلالت او لوړی مرتبه او عظمت د شان د علیه السلام کښی له ده رحمه الله تعالیٰ نه ده۔

کما حققه المحققون من ساداتنا العلماء کالشیخ الاکبر والتقی السبکی وقطب العالم الشیخ عبدالقدس الگنگوهی رحمهم الله تعالی لم یحم حول سرادقات ساحته فیما نظن ونری ذهن کثیر من العلماء المتقدمین والاذکیاء المتبحرین وهو عند المبتدعین من اهل الهند کفر وضلال ویوسوسون الی اتباعهم واولیائهم انه انکار الخاتمیه صلی الله علیه وسلم فهیهات وهیهات ولعمری انه لافری الفری واعظم زور وبهتان بلا امتراء ماحملهم علی ذالك الا الحقد والشحناء والحسد والبغضاء لاهل الله تعالیٰ وخواص عباده وکذلك جرت السنة الالهیة فی انبیائه واولیائه .

**ترجمه** :۔ لکه څنګه چه محققینو علماؤ د ساداتو زمونږ نه دا ثابته کړی ده لکه شیخ اکبر اوتقی سبکی او قطب العالم شیخ عبدالقدس الگنگوهی رحمهم الله تعالیٰ دوی وائی چه مونږ د متقدمین علماؤ او د متبحرینو اذکیاؤ په ذهنونو هم دا ګمان نه کوو چه داسی د حقیقت مضمون راوکاړی او بل څوک بالکل د همداسی حقیقت ساحه ته نشی راتللای او په نزد دهٔ مبتدعینو د هند دغه کفر او ضلالت ده او دغه مبتدعین خپلو تابعدارانو او مریدانو ته په زړونو کښی داسی وسوسی وراچوی چه دا خوله خاتمیت د علیه السلام نه انکار ده افسوس او سخت افسوس په خپل عمر سره قسم کوم چه دا رقم ته ویل څه اندازه بی مفهومه او بی معنی الزام ده بلکه کذب او بهتان عظیم ده او سبب ئی خاص کین او بغض او دښمنی د اهل الله او مخلصو بندګانو د الله تعالیٰ سره ده او دغه رنګه طریقه الهیة جاری شوی ده په انبیاؤ او اولیاء کرامو د الله تعالیٰ کښی والسلام۔

## ﴿السوال السابع عشر﴾

هل تقولون ان النبی صلی الله علیه وسلم لا یفضل علینا الا کفضل الاخ الاکبر علی الاخ الاصغر لا غیر وهل کتب احد منکم هذا المضمون فی کتاب؟

## ﴿اوه لسم سوال﴾

**ترجمه** :۔ایا د نبی علیه السلام فضیلت په مسلمانانو په داسی اندازه ده لکه مشر ورور چه ئی په کشر لری او د تاسو نه یو وهم په خپلو کتابو کښی دغه مضمون لیکلی ده او کنه؟

## ﴿الجواب﴾

لیس احدمنا ولا من اسلافنا الکرام معتقداً بهذا البتة ولا نظن شخصا من ضعفاء الایمان ایضًا یتفوه بمثل هذه الخرافات ومن یقل ان النبی علیه السلام لیس له فضل علینا الا کما یفضل الاخ الاکبر علی الاصغر فنعتقد فی حقه انه خارج عن دائرة الایمان وقد صرحت تصانیف جمیع الاکابر من اسلافنا بخلاف ذالك وقد بینوا وصرحوا وحرروا وجوه فضائله واحساناته علیه السلام علینا معشر الامة بوجوه عدیدة بحیث لا یمکن اثبات مثل بعض تلك الوجوه لشخص من الخلائق فضلا عن جملتها.

## ﴿جواب﴾

مونږ او زمونږ مشائخینو کښی یو هم داسی عقیده نلرو او په هغه بعضو ضعیف ایمانو باندی هم مونږ دا گمان نه کوو چه داسی بیهوده الفاظ دی د دوی د خولی نه خارج شی او که څوک داسی قول وکړی چه نبی علیه السلام په مونږ بهتری نلری بلکه داسی بهتری لری لکه مشر ورور په کشر باندی د هغه شخص په حق کښی مونږ داسی عقیده لرو چه دا له دائره د اسلام نه خارج ده او زمونږ اکابرین علماؤ د همدغه قول په خلاف کښی په خپلو

تصانیفو کښې تصریح کړې ده او د علیه السلام په فضائلو او احساناتو ئې په خپلو کتابو کښې تصریح کړې ده او ټولې د فضیلت وجهې ئې بیان او تحریر کړې دي په ټول امت باندې ئې د علیه السلام فضیلت په ډیره زیاته اندازه سره بیان کړې ده په قسم قسم وجوهو سره او دا ئې هم لیکلې دي چه د علیه السلام د بعضو فضائلو د مثل اثبات هم په مخلوق کښې چاته نشي کیدلای چه د مثل ثبوت نه وي د عین فضیلت ثبوت خو بالکل نشته۔

وان افترى احد بمثل هذه الخرافات الواهية علينا او على اسلافنا فلا اصل له ولا ينبغي ان يلتفت اليه اصلا فان كونه عليه السلام افضل البشر قاطبة واشرف الخلق كافة وسيادته عليه السلام على المرسلين جميعا وامامته النبيين من الامور القطعية التي لا يمكن لادنى مسلم ان يتردد فيه اصلا ومع هذا ان نسب الينا احد من امثال هذه الخرافات فليبين محله من تصانيفنا حتى نظر على كل منصف فهيم جهالته وسوء فهمه مع الحاده وسوء تدينه بحوله تعالى وقوته القوية .

**ترجمه** :۔او سره د دې که چیرې یو کس په مونږ او زمونږ په مشائخینو داسې بې اساسه او بیهوده الزامونه لګوي بالکل مناسبه نه ده چه هغه شخص ته نظر وشي ځکه علیه السلام د ټول بشر افضل ده او اشرف د تمام مخلوق ده او د علیه السلام سیادت په ټولو انبیاؤ علیهم السلام باندې شته او امامت د محمد علیه السلام د انبیاؤ علیهم السلام د پاره د هغه قطعي امور نه ده چه ودانې مسلمان ته هم ممکنه نه ده چه شک او تردد پکښې وکړي او سره د دې که یو کس بیا هم دَ داسې خرافاتو نسبت زمونږ طرفته کوي نو دې معلوم کړي خپل ځای زمونږ په کتابونو کښې چه مونږ وریښکاره کړو هر انصاف دار فهم لرونکي ته جهالت د هغه کس او بدواله ده دیانت د دهٔ او غلط فهمي او ګمراهي په توفیق د رب العالمین سره ( والسلام)

## ﴿ السوال الثامن عشر ﴾

هل تقولون ان علم النبی علیه السلام مقتصر علی الاحکام الشرعیة فقط ام اعطی علوما متعلقة بالذات والصفات والافعال للباری عزاسمه والاسرار الخفیة والحکم الالهیة وغیر ذالك ممالم یصل الی سرادقات علمه احد من الخلائق کائنا من کان ؟

## ﴿ اتلسم سوال ﴾

**ترجمه** :۔ ایا تاسو په دی سره قول کونکی یيئ چه د نبی علیه السلام علم خاص په احکامو شرعیه وو قاصر وو او که دۀ لره ورکړ شوی وو هغه علم چه تعلق ئی په ذات او صفات او په افعالو د الله تعالیٰ او په خفیه اسرارو او الهی احکامو او داسی نورو پورې لرلو د هغه جملې نه وو چه د هغه د علم غبار دند ته هم څوک نه شوی رسیدلای په کائناتو کښې ۔

## ﴿ الجواب ﴾

نقول باللسان ونعتقد بالجنان ان سیدنا رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلم الخلق قاطبة بالعلوم المتعلقة بالذات والصفات والتشریعات من الاحکام العملیة والحکم النظریة والحقائق الحقة والاسرار الخفیة وغیرها من العلوم مالم یصل الی سرادقات ساحته احد من الخلائق لاملك مقرب ولا نبی مرسل ولقد اعطی علم الاولین والاخرین وکان فضل الله علیك عظیما.

## ﴿ جواب ﴾

مونږ په خوله سره دا قول کوو او په زړه کښې وریاندی عقیده لرو چه محمد صلی الله علیه وسلم د ټولو مخلوق نه زیات عالم وو په هغه علومو چه هغه تعلق په ذات او صفات او هغه عملی شرعی احکامو او په حکم نظری او په هغه حقه حقائقو او په خفی اسرارولرلو او په نورو هغه علومو عالم وو

چه هغه دند ته ئی هم څوک نشی رسیدلای د مخلوقاتو نه او نه مقرب ملائکه او نه هغه مرسل نبی او په تحقیق سره د اولینو او اخرینو علم ورکړل شویدی او د الله تعالیٰ عظیم فضل په دهٔ باندی وو۔

ولکن لا یلزم من ذالک علم کل جزئی جزئی من الامور الحادثة فی کل ان من اوانه الزمان حتی یضر غیبوبة بعضها عن مشاهدته الشریفة ومعرفة المنیفة باعلمیته علیه السلام ووسعته فی العلوم وفضله فی المعارف علی کافة الانام وان اطلع علیها بعض من سواه من الخلائق والعباد کما لم یضر با علمیة سلیمان علیه السلام غیبوبة ما اطلع علیه الهدهد من عجائب الحوادث حیث یقول فی القرآن قال: اِنِّی اَحَطْتُّ بِمَالَم تُحِطْ بِهٖ وَجِئْتُکَ مِنْ سَبَاٍ بِنَبَاٍ یَّقِیْنٍ .

**ترجمه** :۔د همدغه نه دا لازمه نه ده چه په عموماً جزئیاتو باندی به هم عالم وی هغه لکه نوی حادثات چه ساعت په ساعت واقع کیږی حتی چه د بعضو شیانو پته واله له لیدل مبارک د دهٔ نه او د پیژندلو د دهٔ څخه د ده د علم زیات واله ته ضرر ورسوی او د دهٔ په علومو کښی ساعت او بهتری ته نقصان وی داسی نه ده که څه هم په مخلوقاتو او عبادو کښی یو څوک هم په عالم وی لکه د سلیمان علیه السلام علم ته چه د هدهد (بیوکی) علم نقصان نه رساوو دا هم داسی ده لکه په قرآن کریم کښی چه د تعجب حدیثه ده چه هدهد سلیمان علیه السلام ته راغووول ما یو امر پیدا کړی ده چه تا لره په هغه اطلاع نشته او ما راوړی ده د ښهر د سبا نه تاته یو خبر صادق (والسلام)۔

## ﴿السوال التاسع عشر﴾

اترون ابلیس اللعین اعلم من سید الکائنات علیه السلام واوسع علمًا منه مطلقًا وهل کتبتم ذالک فیء تصنیف ما تحکمو ن علی من اعتقد ذالک؟

## ﴿ نولسم سوال ﴾

**ترجمه** :۔ ایا نظر ستاسو دا ده چه د شیطان لعین علم تر علم د سردار د کونینو محمد صلی الله علیه وسلم زیاد ده او وساعت لری او تاسو هم دغه مضمون په خپلو کتابو کښی لیکلی ده :: او هرڅوک چه داسی عقیده لری د هغه په باره ستاسو نظر څه ده ؟

## ﴿ الجواب ﴾

قد سبق منا تحرير هذه المسئلة ان النبی صلی الله علیه وسلم اعلم الخلق علی الاطلاق بالعلوم والحکم والاسرار وغیرها من ملکوت الافاق وتیقن ان من قال ان فلانا اعلم من النبی علیه السلام فقد کفر وقد افتی مشائخنا بتکفیر من قال ان ابلیس اللعین اعلم من النبی علیه السلام فکیف یمکن ان توجد هذه المسئلة فی تالیف مامن کتبنا غیرانه غیوبة بعض الحوادث الجزئیة الحقیرة عن النبی علیه السلام لعدم التفاته الیه لا تورث نقصًا مافی اعلمیته علیه السلام بعد ما ثبت انه اعلم الخلق بالعلوم الشریفة اللائقة بمنصبه الاعلی کمالایورث الاطلاع علی اکثر تلک الحوادث الحقیرة لشدة التفات ابلیس الیها شرفًا وکمالا علمیا فیه فانه لیس علیها مدار الفضل والکمالؔ .

## ﴿ جواب ﴾

مونږ دغه مسئله مخته هم ذکر کړه چه نبی علیه السلام بنمه تره عالم د مخلوقاتو ده مطلقا علم او حکم او اسرار د علیه السلام تر تمام مخلوق زیات دی او مونږ دا یقین لرو چه که څوک ووائی چه فلانی تر علیه السلام عالم ده هغه کافر ده او مشائخو زمونږ فتوی په تکفیر د هغه ورکړی ده چه دی ووایی چه ابلیس علیه اللعنه تر نبی علیه السلام عالم ده څرنګه به امکان ولری چه دغه مسئله په کتابونو زمونږ کښی پیدا شی لکن دا هغه

صورت ده چه د عليه السلام علم په بعضو حوادثو جزئيه وو حقيره وو باندی نشته د جهته د عدم التفات نه په اعلم والا د عليه السلام کښې نقص نه پيدا کيږی وروستـه د هغـه چه دا ثابتـه شوه چه دی مبارک اعلم د مخلوقاتو ده په هغه علومو شريفه وو کښې چه لائق د هغه عالی منصب د دۀ سره وی د ابليس عليه اللعنه ډير نظر دغه حوادثو غريبه وو ته او د دۀ علم راوستـل په هغه باندئ دا ده دی سبب نه ده چه په علم کښې تر عليه السلام فوق ده ابليس عليه لعنه د داسې فضل او کمال مدار نه ده ۔

ومن ههنا لا يصح ان يقال ان ابليس اعلم من سيدنا رسول الله صلى الله عليه وسلم كما لا يصح ان يقال لصبى علم بعض الجزئيات انه اعلم من عالم متبحر محقق فى العلوم والفنون الذى غابت عنه تلك الجزئيات ولقد تلونا عليك قصة الهدهد مع سليمان على نبينا عليه السلام وقوله إِنِّي أَحَطتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِ ودواوين الحديث ودفاتر التفاثير مشحونة بنظاهرها المتكاثرة المشتهرة بين الانام وقد اتفق الحكماء على ان افلاطون وجالينوس وامثالهما من اعلم الاطباء بكيفيات الادوية واحوالها مع علمهم ان ديدان النجاسة اعرف باحوال النجاسة وذوقها وكيفيها تها فلم تضر عدم معرفة افلاطون وجالينوس هذه الاحوال الردية فى اعلميتهما ولم يرض احد من العقلاء والحمقى بان يقول ان الديدان اعلم من افلاطون مع انها اوسع علما من افلاطون باحوال النجاسة .

**ترجمه** :۔او د همدغه ځای نه دا نه صحی کيږی چه څوک ووائی چه ابليس عليه اللعنه اعلم ده تر سردار د کونينو لکه چه نه صحی کيږی دا خبره چه څوک ووائی يو هلک ته چه هغه په بعضو جزئياتو عالم وی چه دغه اعلم ده تر هغه عالم چه هغه متبحر محقق په علومو او فنونو کښې وی او دغه جزئيات د دۀ نه پټ وی او مونږ درته بيان کړه دۀ ملا چرګک

(بیوکی) قصه د سلیمان علیه السلام سره چه ده ویل انی احطت بمالم تحط به د احادیثو او تفاسیرو دفترونه او کتابونه په داسی قسم واقعاتو باندی ډک دی چه هغه د خلکو په مابین کښې مشهور دی او ډیر دی او حکماؤ په دی اتفاق کړیده چه افلاطون او جالینوس او امثال دۀ دوی د هغه اعلمو طبیبانو نه دی په کیفیاتو او احوالو ده دوا وو کښې.او هغه د مرداری چنجی په پیژندلو د حالاتو او کیفیاتو او خوند د مرداری کښې تر افلاطون او جالینوس عالم ده نو د افلاطون او جالینوس دغه نه علم د مرداری په ذوق او حالاتو دلالت په نقص دا علمیت ده دوی نه کوی او نه دی راضی په دې سره هغه څوک که عقل والا دی او که کم عقل دی چه ده (چنجی) علم د افلاطون جالینوس تر علم زیات ده سره له دی چه چنجی اعلم ده په حالاتو او ذوق دَ نجاست تر افلاطون او جالینوس۔

ومبتدعة دیارنا یثبتون للذات الشریفة النبویة علیها الف الف تحیة وسلام جمیع الاسافل الارازل والافاضل الاکابر قائلین انه علیه السلام لما کان افضل الخلق کافة فلا بد ان یحتوی علی علومهم جمعیها کل جزئی جزئی وکلی کلی ونحن انکر نا اثبات هذا الامر بهذا القیاس الفاسدة بغیر نص من النصوص المعتدة بها الا تری ان کل مؤمن افضل واشرف من ابلیس فیلزم علی هذا القیاس ان یکون کل شخص من احد الائمة حاویا علی علوم ابلیس ویلزم علی ذالك ان یکون سلیمان علی نبینا وعلیه السلام عالمًا بماعلمه الهدهدوان یکون افلاطون وجالینوس عارفین بجمیع معارف الدیدان واللوازم باطلة باثرها کما هو المشاهد.

**ترجمه** :۔اوزمونږ ده دیار او منطقه مبتدعین وه ذات د علیه الصلاة والسلام ته هغه شریف او ادنی او هغه بیکاره علوم ټول ثابتوی او دوی وائی چه علیه السلام چه هر کله افضل د مخلوقاتو شو نو باید چه دی احاطه په

تولو علومو ولری کـه جزئی وی کـه کلی وی او مونږ منکریو د ثبوته د همدغـه امره پـه دغـه قیاس فاسد سره بغیر د یو نصوص د هغه نصوصو معتدبها وو نـه دی ته نظر نه کوی چه هر مؤمن افضل او اشرف تر ابلیس علیه لعنت ده نو خو لازم ده د همدغه قیاس نه چه هر کس د ائمه وو نه دی احاطه کونکی وی په علومو د ابلیس باندی او د همدغه نه دا لازمیږی چه سلیمان علیـه السلام دی په هغه څه سره عالم وی کوم چه ملا چرګک په عالم وو او افلاطون او جالینوس دی هم په هغه ټولو پیژندونکو شیانو عالمان وی کوم چه چنجی باندی عالم وو او په هغه لوازمو باطله وو باندی لکه چه ښکاره دی .

وهـذا خلاصة ما قلناه فی البراهین القاطعة لعروق الاغبیاء المارقین القاصمة لاعناق الدجاجلة المفترین فلم یکن بحثنا فیه الاعن بعض الجزئیات المستحدثة ومن اجل ذالك اتینا فیه بلفظ الاشارة حتی تدل ان المقصود بالنفی والاثبات هنالك تلك الجزئیات لاغیر لکن المفسدین یحرفون الکلام ولا یخافون محاسبة الملك العلام وانا جازمون ان من قال انا فلانًا اعلم من النبی علیه السلام فهو کافر کما صرح به غیر واحد من علمائنا الکرام ومن افتری علینا بغیر ماذکرناه فعلیه بالبرهان خائفا عن مناقشة الملك الدیان والله علی ما نقول وکیل.

**ترجمه** :۔دغـه زمونږ خلاصه ده کوم چه په براهین قاطعه وو کښی بیان شوی ده چه له هغو بدو اذهانو ذینونو نه د وینو رګونه بند شی او چه قطعه شی د هغه غاړو د دجاجله مفترین نه زمونږ بحث په دی کښی نه وو بلکه د بعضو جزئیاتو نه چه هغه نوی پښیدونکی دی د دغه وجه نه مونږ راتګ وکړو په دی کښی په لفظ د اشاره سره د پاره د دې چه دلالت وکړی چه مقصود په نفی او اثبات سره دلته صرف دغه جزئیات دی بل شی نه ده لکن

مفسدین په کلام کښې تبدیل کوی او د محاسبه د الله تعالیٰ نه هیڅ وهم نه کوی او مونږ داسې پخه او ټینګه اراده لرو د داسې چا په حق کښې که هغه ووائي چه فلانئ سړی د علیه السلام نه عالم ده مونږ هغه کافر ګڼړو لکه چه په دا خبره په کراتو مراتو زمونږ علماؤ کرامو تصریح کړی ده او که څوک یو دروغ او کذب په مونږ پوری ووائي بغیر د هغه چه مونږ ویلی وی نو هغه دی خپل دلیل وړاندی کړی د دیان رب جل جلاله نه دی وهم وکړی او الله تعالیٰ زمونږ په بیانات عالم او وکیل ده (والسلام)۔

## ﴿ السوال العشرون ﴾

اتعتقدون ان علم النبی صلی الله علیه وسلم یساوی علم زید وبکر وبهائم ام تتبرؤن عن امثال هذا وهل کتب الشیخ اشرف علی التهانوی فی رسالته (حفظ الایمان) هذا المضمون ام لا وبم تحکمون علي من اعتقد ذالك ؟

## ﴿شلم ۲۰ سوال ﴾

**ترجمه** :ایا تاسو عقیده لری چه علم د علیه السلام د علم د زید او بکر او حیواناتو د علم سره برابر دی او که تاسو د همدغه بی بنیاده او بی اساسه خبرو نه منکر او بیزار ییئ: او مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله دغه مضمون پخپله رساله کښی چه په نامه د حفظ الایمان سره یادیږی نوشته کړی ده او کنه: او تاسو ده داسې عقیده لرونکی باره کښې څه حکم کوی۔

## ﴿ الجواب ﴾

اقول وهذا ایضًا من افتراء ات المبتدعین واکاذیبهم قد حرفوا معنی الکلام واظهروا بحقدهم خلاف مراد الشیخ مدظله فقاتلهم الله انی یوفکون قال الشیخ العلامة التهانوی فی رسالته المسماة بحفظ الایمان وهی رسالة صغیرة اجاب فیها عن ثلاثة (۱) الاولی منها فی سجدة التعظیمیة للقبور (۲) والثانیة فی الطواف بالقبور (۳) والثالثة فی اطلاق

لفظ عالم الغيب على سيدنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال الشيخ ما حاصله انه لا يجوز هذا الاطلاق وان كان بتاويل لكونه موهمًا بالشرك كما منع من اطلاق قولهم راعنا فى القرآن ومن قولهم عبدى وامتى فى الحديث اخرجه مسلم فى صحيحه فان الغيب المطلق فى الاطلاقات الشرعية مالم يقم عليه دليل ولا الى دركه وسيلة وسبيل فعلى هذا قال الله تعالىٰ قل لايعلم من فى السموات والارض الغيب الا الله ولو كنت اعلم الغيب وغيرذالك من الايات ولو جوز ذالك بتاويل يلزم ان يجوز اطلاق الخالق والرازق والمالك والمعبود وغيرها من صفات الله تعالىٰ المختصة بذاته تعالىٰ وتقدس على المخلوق بذالك التاويل .

## ﴿جواب﴾

**ترجمه** :زه وایم چه دغه هم د افتراء ات او دروغو ده مبتدعینو نه دی ۔ دوی په کلام کی تغیر او تبدیل کوی او د مولانا د مطلب خلاف ښکاره کوی الله جل جلاله دی دوی هلاک کړی او شیخ علامه تهانوی رحمه الله پخپله رساله چه نامداره ده په نامه د حفظ الایمان سره ده وایو مختصره رساله ده دۀ دریو سوالونو جوابونه ئی کړی دی (١) اول له هغه سوالونو نه دا وو چه څوک د عظمت د پاره قبر ته سجده ؤلګوی حکم ئی څه ده ۔ (٢) دویم په قبرونو باندی طواف کول (٣) د عالم الغیب د لفظ اطلاق کول په علیه السلام باندی نو شیخ رحمه الله تعالیٰ ویلی دی حاصل دا ده چه د عالم الغیب د لفظ اطلاق نه صحی کیږی که څه هم په تاویل سره وی ځکه په دی کښی د شرک واهمه شته لکه چه منعه راغلی ده د اطلاقه ده لفظ د راعنا په قرآن کریم کښی او لکه منعه چه راغلی ده د قول ده عبدی وامتی نه په احادیثو کښی خروج ئی مسلم شریف کړی ده فی صحیحه : خبره دا ده چه غیب مطلق په شرعی اطلاقاتو کښی تر هغه وخته چه په ده قیام ده

دلیل نه وی او پیدا کیدلو ته ئی وسیله او لاره هم نه وی په دغه بناء الله تعالیٰ وائی (ووایه چه هغه څوک چه په اسمانونو او ځمکو کښی دی هیڅ په علم غیب سره علم نه لری بلکه تنها الله تعالیٰ په علم غیب سره عالم ده) او که چیرته زه په علم غیب سره عالم وای ما به ډیری نیکی جمعه کړی وای او داسی نور نور او که چیرته د عالم الغیب ده لفظ اطلاق په تاویل سره په علیه السلام جائز شی لازم به شی جواز د اطلاق د لفظ ده (مالک) (رازق) (معبود) او داسی نور د هغه صفاتو چه هغه خاص په الله تعالیٰ پوری دی په مخلوق باندی په دغه تاویل سره ۔

وایضاً یلزم علیه ان یصح نفی الاطلاق لفظ عالم الغیب عن الله تعالیٰ بالتاویل الاخر فانه تعالی لیس عالم الغیب باالواسطة والعرض فهل یاذن فی نفیه عاقل متدین حاشا وکلا ثم لو صح هذا الاطلاق علی ذاته المقدسة صلی الله علیه وسلم علی قول السائل فنستفسر منه ماذا اراد بهذا الغیب هل اراد کل واحد من افراد الغیب او بعضه ای بعض کان فان اراد بعض الغیوب فلا اختصاص له بحضرة رسالة صلی الله تعالیٰ علیه وسلم .

**ترجمه** :۔او دغه رنګه له هم دی نه دا لازمیږی چه نفیه د اطلاق د عالم الغیب لفظ دی الله تعالیٰ لره ثابته شی په تاویل اخر سره ځکه الله تعالیٰ خو عالم الغیب په واسطه او عرض سره نه ده نو ایا یو دیندار متدین عاقل په همدی نفیه سره اذن ورکولای شی حاشا وکلا ډیره بعیده او ډیره بعیده ده : او وروسته که دا اطلاق صحی شی په هغه ذات مقدس د علیه السلام باندی په قول د سائل سره نو بیا مونږ پوښتنه کوو د هغه سائل نه چه مراد د غیب نه هر فرد ده غیب ده که بعض افراد ده غیب دی کم بعض دی که بعض غیوب مراد شی خو اختصاص نی په علیه السلام پوری نشته ۔

فان علم بعض الغیوب وان کان قلیلاً حاصل لزید وعمرو بل لکل صبی

ومجنون بل لجميع الحيوانات والبهائم لان كل واحد منهم يعلم شيئًا لا يعلم الاخر ويخفى عليه .

**ترجمه** :۔ ځکه علم ده بعضو غيوبو که څه هم کم وی زيدا وعمر بکر لره هم شته بلکه هرهلک او ليونی حتی ټولو حيواناتو او بهائموته هم ثابت ده ځکه هريو له دوی نه په يو څه عالم وی هغه بل نه وی باندی عالم او پټ وی په هغه بل باندی ۔

فلو جوز السائل اطلاق عالم الغيب على احد لعلمه بعض الغيوب يلزم عليه ان يجوز اطلاقه على سائر المذكورات ولو التزم ذالك لم يبق من كمالات النبوة لانه يشرك فيه سائرهم ولولم يلتزم طولب بالفارق ولن يجد اليه سبيلا انتهى كلام الشيخ التهانوى فانظروا يرحمكم الله فى كلام الشيخ لن تجد ومما كذب المبتدعون من اثر فحاشا ان يدعى احد من المسلمين المساوات بين علم رسول الله صلى الله عليه وسلم وعلم زيد وبكر وبهائم بل الشيخ يحكم بطريق الالزام على من يدعى جواز اطلاق علم الغيب على رسول الله صلى الله عليه وسلم لعلمه بعض الغيوب انه يلزم عليه ان يجوز اطلاقه على جميع الناس والبهائم فاين هذا عن مساوات العلم التى يفترونها عليه فلعنة الله على الكاذبين : ونتيقن بان معتقد مساواة علم النبى عليه السلام مع زيد وبكر وبهائم ومجانين كافر قطعًا وحاشا الشيخ دام مجده ان يتفوه بهذا وانه لمن عجب العجائب.

**ترجمه** :۔ که چيرته سائل د عالم الغيب اطلاق په يو چا جائز وبولی خامخا به دغه عالم په بعضو غيوبو سره وی نو لازم شو د اطلاق جواز په ټولو ذکر شويو باندی که دا لازم شی نوو کمالاتو ده نبوت ته خو څه نه شو پاتې ځکه خو ټول پکښی شريک شول او که دغه هم قبوله نه کړی نو بيا له ده نه پوښتنه ده سبب ده فرق کيږی او دی لره هم لاره پيدا نشوه اخرته ورسيدو

کلام د شیخ تهانوی رحمه الله تعالیٰ نظر ورته وکړئ په تاسو دې الله جل جلاله رحم وکړی په کلام د شیخ رحمه الله کښی هغه څه اثر پیدا نه شو کوم چه مبتدعینو کذب او دروغ پوری ویل چه کله امر داسی شو نو دا بالکلیه بعیده ده چه یو مسلمان په مابین ده علم ده علیه السلام او بهائم او زیدوبکر کښی مساوات راولی بلکه شیخ رحمه الله تعالیٰ په طریقه د الزام سره حکم کوی په هغه چا باندی چه هغه دعوه د جواز ده اطلاق د علم غیب په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی کوی علم د دهٔ بعضو غیوبو لره شان دا ده لازم شو ده باندی جواز ده اطلاق د علم غیب په ټولو انسانانو او څهارپایانو نو چیرته ده دغه د مساواتو ده علم نه هغه چه دوی دروغ ویل په دهٔ پوری لعنت ده الله تعالیٰ دی وی په کاذبینو باندی مونږ یقین لرو په دې سره چه هغه څوک چه د علیه السلام د علم او بکر وعمر او د لیونو په علم کښی مساوات غوښتونکی وی هغه کافر ده قطعا او بعیده ده دا خبره چه مولانا رحمه الله داسی خرافات وائی ده رحمه الله هیڅ کله داسی خرافات د خپلی خولی مبارکی نه نه دی خارج کړی په مولانا رحمه الله پسی دا افترا یو تعجب د عجائبو نه ده (والسلام)۔

## ﴿السوال الواحد والعشرون﴾

اتقولون ان ذکرولادته ﷺ مستقبح شرعا من البدعات السيئة المحرمة ام غير ذالك ؟

## ﴿یوویشم سوال﴾

**ترجمه** :۔ تاسو څه قول کوی په ذکر د ولادت د علیه السلام کی (یعنی چه په اوس وخت کښی ئی مسلمانان په مولود شریف تعبیره وی) دا شرعا قبیح کارده د بدعتونو سیئه وو محرمه وو نه ده او که نه ده ۔

**﴿الجواب﴾**

حاشا ان يقول احد من المسلمين فضلا ان نقول نحن ان ذكر ولادته الشريفة عليه الصلاة والسلام بل وذكر غبار نعاله وبول حماره صلى الله عليه وسلم مستقبح من البدعات السيئة المحرمة فالاحوال التى لها ادنى تعلق برسول الله صلى الله عليه وسلم ذكرها من احب المندوبات واعلى المستحبات عندنا سواءً كان ذكر ولادته الشريفة او ذكر بوله وبرازه وقيامه وقعوده ونومه ونبهته كما هو مصرح فى رسالتنا المسماة ( بالبراهين القاطعة ) فى مواضع شتى منها.

**﴿جواب﴾**

**ترجمه** :۔دا ډيره بعيده ده چه د مسلمانانو نه يو كس دا كار قبيح گنړى علاوه په دى مونږ دا وايو چه يو مسلمان هم ذكر د ولادت د عليه السلام او بلكه ذكر ده دند او غبار د محپنو او ذكر ده بولو د خره د عليه السلام سره ادنى تعلق لرى يادول ذكر كول د هغه د هغه خوښو مستحباتو او مندوباتو نه دى زمونږ په نزد باندى دا برابره خبره ده كه د عليه السلام د ولادت شريفه ذكروى كه دَ بولو د دۀ او گندگو او كه د عليه السلام د ناستى ولاړى او د خوب او بيدارى ذكر وى لكه چه زمونږ په رساله چه نامداره په (البراهين القاطعه ) سره ده تصريح پرى شوى ده ۔

وفى فتاوى مشائخنا رحمهم الله تعالى كما فى فتوى مولانا احمد على المحدث السهارنپورى تلميذ الشاه محمد اسحق الدهلوى ثم المهاجر مكى ننقله مترجما لتكون نمونة عن الجميع سئل هو رحمه الله تعالى عن مجلس الميلاد باى طريق لا يجوز فاجاب بان ذكر الولادة الشريفة لسيدنا رسول الله صلى الله تعالىٰ عليه وسلم بروايات صحيحة فى اوقات خالية عن وظائف العبادات الواجبات وبكيفيات لم تكن مخالفة عن

طریقة الصحابة واهل القرون الثلاثة المشهود لها بالخیر وبالاعتقادات التی موهمة بالشرك والبدعة وبالاداب التی لم تكن مخالفة عن سیرة الصحابة التی هی مصداق قوله علیه السلام ماانا علیه واصحابی وفی مجالس خالیة عن المنكرات الشرعیة موجب للخیر والبركة بشرط ان یكون مقرونا بصدق النیة والاخلاص واعتقاد كونه داخلا فی جملة الاذكار الحسنة المندوبة غیر مقید بوقت من الاوقات .

**ترجمه** :۔او په فتاوی د مشائخو زمونږ کښې رحمهم الله تعالیٰ علیهم لکه په فتوی ده مولانا احمد علی المحدث السهارنپوری چه د شاه محمد اسحٰق دهلوی مهاجر مکی شاګرد وو مونږ ئې په ترجمه سره رانقل کوو د پاره ده دی چه دا یو نمونه شی د مولانا صاحب مذکور نه سوال وشو چه میلاد النبی علیه السلام په کومه طریقه سره جائز او په کومه طریقه سره ناجائز ده دهٔ مبارک په جواب کښې ورته ووېل چه یادول د میلاد نبی صلی الله علیه وسلم په روایاتو صحیحه وو سره ثابت او په هغه وختونو کښې چه هغه د وظیفو او واجبه عباداتو نه خالی وی او په هغه کیفیت سره به وی چه د طریقه د صحابه کرامو او اهل د ثلاثه قرونو نه چه هغه ظاهره او ښکاره کونکی په خیر سره وی او په هغه عقیده سره چه هغه شرک او بدعت ته وهم ورکونکی وی او په هغه ادابو سره به وی چه هغه مخالف د هغه سیرت او خوی د صحابهٔ کرامو نه نه وی چه هغه مصداق د هغه قول د علیه السلام وی چه ( ماانا علیه واصحابی ) په هغو مجالسو کښې چه هغه خالی وی د هغه منکراتو شرعیه وو نه سبب د پاره د خیر او برکت وی په دا شرط سره چه هغه به د صدق او اخلاص دَ نیت سره پیوسته وی او د هغه اعتقاد سره به پیوسته وی چه هغه داخل وی په جمله د اذکارو حسنه وو مندوبه غیر مقیده په یو وقت د اوقاتو کښې ۔

فاذا كان كذالك لانعلم احدا من المسلمين ان يحكم عليه بكونه غير مشروع او بدعة الى اخر الفتوى فعلم من هذا انا لا ننكر ذكر ولادته الشريفة بل ننكر على الامور المنكرة التى انضمت معها كما شفتموها فى المجالس المولودية التى فى الهند من ذكر الروايات الواهيات الموضوعة واختلاط الرجال والنساء والاسراف فى ايقاد الشموع والتزيينات واعتقاد كونه واجبا بالطعن والسب والتكفير على من لم يحضر معهم مجلسهم وغيرها من المنكرات الشرعية التى لا يكاد يوجد خاليا منها فلو خلا من المنكرات حاشا ان نقول ان ذكر ولادة الشريفة منكر وبدعة وكيف يظن بمسلم هذا القول الشنيع فهذا القول علينا ايضا من افتراء ات الملاحدة الدجالين الكذابين خذلهم الله تعالىٰ ولعنهم برا وبحرا سهلا وجبلا.

**ترجمه** :۔ چه امر هم داسی شو نو مونږ یو داسی مسلمان نه پیژنو چه د ولادت د ذکر په غیر مشروعیت او بداعة سره حکم ورکړی د دې نه معلومه شوه چه مونږ منکرین د ذکر د ولادت شریفه نه نه یو بلکه منکر یو د هغه منکراتو امورو نه چه د زکر ولادت سره ګډ دی لکه چه په مجالسو د ذکر ولادت شریفه د هندوستان کښې تاسو ولیدل چه هغه موضوعه روایتونه او واهیات بیانیدل نارینه او زنانه سره ګډ او د شمعه چراغان بل او نور داسی ډول ډول فضول خرچی کیدل او په دی مجلس کښې ګډیل به لازم او په هغه نه ورحاضر شوی کس به ملامتیا او د کفر نسبت به ورته کیدو او نور داسی منکر غیر شرعی اعمال هغه چه مجلس به ورنه خالی نه وو که چیرته د همدغسی منکراتو نه دا مجلس خالی وی بالکل منکر نه یو او بدعت ئې نه شمیرو او څنګه په یو مسلمان باندی دَیو داسی شنیع بد قول ګمان کیږی د دغه شنیع قول نسبت مونږ ته دا هم د دروغو د هغه کاذبینو او مبتدعینو

ضالین مضلینو نه ده الله تعالیٰ دې دوی خراب کړی او لعنت د الله تعالیٰ دې
په دوې په وچه او دریابونو او غرونو او هوارو ځکمو کښې وی ۔ والسلام ۔

## ﴿ السوال الثانی والعشرون ﴾

هل ذکرتم فی رسالته ما ان ذکر ولادته صلی الله علیه وسلم کجنم
اسٹمی کنهیا ام لا ؟

## ﴿ دوه ویشتم سوال ﴾

**ترجمه** :۔ ایا تاسو په یو رساله کښې هم ذکر کړی دی چه ذکر دَ ولادت دَ
علیه السلام په مثال دَ (جنم اسٹمی کنهیا) ده او که هم نه دی ذکر کړی؟

## ﴿ الجواب ﴾

هذا ایضا من افتراءات الدّجالة المبتدعین علینا وعلی اکابرینا وقد بینا
سابقا ان ذکره علیه السلام من احسن المندوبات وافضل المستحبات
فکیف یظن بمسلم ان یقول معاذ الله ان ذکر الولادة الشریفة مشابه بفعل
الکفار وانما اخترعوا هذه الفریة عن عبارة مولانا الگنگوهی رحمة الله
تعالیٰ علیه التی نقلناها فی البراهین علی صحیفة (١٤١) وحاشا الشیخ
ان یتکلم ومراده بعید بمراحل عما نسبوا الیه کما سیظهر عن ماذکره
وهی تنادی باعلی نداء ان من نسب الیه ما ذکروه کذاب مفتر.

## ﴿جواب﴾

**ترجمه** :۔دا هم دغه رنګه دروغ او افتراءات د ضالینو مبتدعینو دی په
مونږ باندی او زمونږ په اکابرینو شیوخو باندی او مونږ مخکښې هم دا
خبره ذکر کړه چه یادول د علیه السلام د هغه احسن مندوباتو او د هغه
بهترو مستحباتو نه ده نو څرنګه ګمان وشی په یو مسلمان باندی ده دی چه
دی ووائی معاذالله تعالیٰ چه ذکر د ولادت شریفه مشابه ده د هغه فعله د

کفارو سره او دوی اختراع د همدغه چل کړی ده د عباراتو د مولانا گنگوهی رحمه الله تعالیٰ نه هغه چه مونږ ذکر کړی ده په براهین قاطعه کښی په صفحه (۱۴۱) باندی او لری ده د شیخ نه دا چه دی تکلم وکړی او مراد او مقصود د دهٔ لری ده په ډیرو مرحلو کښی د هغه څه نه چه مبتدعینو نسبت ورته کړی ده لکه چه زر ده دا خبره درته معلومه به شی د ما بعد بیان نه انشاء الله تعالیٰ او دغه زمونږ بیان په لوړ اواز سره دا نعره کوی چه هر هغه څوک چه ده دا ذکر شویو بیانونو نسبت کوی هغه دروغجن او کاذب ده۔

وحاصل ما ذکره الشیخ رحمه الله تعالیٰ فی مبحث القیام عند ذکر الولادة الشریفة ان من اعتقد قدوم روحه الشریفة من عالم الارواح الی عالم الشهادة وتیقن بنفس الولادة الماضیة الحقیقة فهو مخطئ متشبه بالمجوس فی اعتقادهم تولد معبودهم المعروف (بکنهیا) کل سنة ومعاملتهم فی ذالك الیوم ما عومل به وقت ولادة الحقیقة او متشبه بروافض الهند فی معاملتهم بسیدنا الحسین واتباعه من شهداء کربلا رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین حیث یاتون بحکایة جمیع مافعل معهم فی کربلاء یوم قولا وفعلا فیبنون النعش والکفن والقبور ویدفنون فیها ویظهرون اعلام الحرب والقتال ویصبغون الثیاب بالدماء وینوحون علیها وامثال ذالك من الخرافات کما لا یخفی علی من شاهد احوالهم فی هذه الدیار ونص عبارته المتعربة هکذا.

**ترجمه** :۔او حاصل دَ بیان د شیخ رحمه الله تعالیٰ په بحث دَ ودریدلو دَ ذکر ولادت شریفه کښی دا ده چه په تحقیق سره هغه څوک چه دا عقیده لری چه روح د علیه السلام د عالم ارواح نه وعالم دنیا ته او په وخت د مجلس دَ مولود مبارک کښی په نفس ولادت مشرفه سره یقین لری او دوی عمل کوی داسی عمل لکه په اول حالت د ولادت ماضیه حقیقیه کښی چه دوی باندی

لازم وونو دغه کس خطا ده او مشابه ده په اعتقاد کښې د مجوسیانو سره هغه معبود دَ مجوسیانو چه مشهور په (کنهیا) سره ده دَ دوی په عقیده ئې هرکال تولد کیږی او معامله دَ دوی په دغه ورځ داسې وی لکه معامله دَ دوی په هغه اول حالت او ساعت دَ ولادت حقیقه کښې او بل ئې مشابهت راځی د هغه رافضو د هندوستان سره په معامله کښې دَ دوی د امام حسین رضی الله تعالیٰ عنه او په کربلا کښې د دهٔ د تابعینو سره رضی الله تعالیٰ عنهم اجمعین هرڅه فعل چه د دوی مبارکانو سره په هغه ورځ ده کربلا کښې شوی وی دغه مجوسیان د هندئې قولا او فعلا په لسمه ورځ دعا شورا سره لمانځنه کوی لکه چه دوی په دغه ورځ تابوتان جنازی جوړوی او کفنونه قبرونه جوړ کړی او دفن په دی کښې کوی او د جنګ وقتال بیرغونه پورته کوی او جامی رنګوی په وینو سره او چغې وغم کوی په دغه حالت باندی او د دغه رقم بیهوده افعالو او اقوالو نور هم دوی فعل کونکی دی هغه چاته دا معلومیږی چه هغه په دا علاقه او دیار کښې ژوند کړی وی ( اصلی عربی د عباراتو ده اردو نه د مولانا صاحب دغه دی ).

واما توجیه ( ای القیام ) بقدوم روحه الشریفة صلی الله علیه وسلم من عالم الارواح الی عالم الشهادة فیقومون تعظیما له فهذا ایضا من حماقاتهم لان هذا الوجه یقتضی القیام عند تحقق نفس الولادة الشریفة ومتی تکرر الولادة فی هذه الایام فهذه الاعادة للولادة الشریفة معبودهم (کنهیّا) او مماثلة للروافض الذین ینقلون شهادة اهل البیت رضی الله تعالیٰ عنهم کل سنة ( ای فعلا وعملا ) فمعاذالله مافعلهم هذا حکایة للولادة المنیفة الحقیقة وهذه الحرکة بلا شك وشبهة حریة باللوم والحرمة والفسق بل فعلهم هذا یزید علی فعل اولئك فانهم یفعلونه فی کل عام مرة واحدة وهؤلاء یفعلون هذه المخرفات الفرضیة متی شاؤا او

ليس لهذا نظير فى الشرع بان يفرض امر ويعامل معه معاملة الحقيقة بل هو محرما شرعا آه ۔

**ترجمه** :۔او وجه د قيام وه راتگ ده روح شريفه ته د عالم ارواح وعالم دنيا ته دوى تعظيما ورته ولاړيږى دا هم دغه رنګه د هغه بيعقليو ده دوى نه ده ځکه دا وجه خو تقاضا کوى ده ولاړيدلو په وخت د ثبوت ده نفس ولادت شريفه کښى نو کله چه ولادت مکرر شى په دغو ورځو کښى دغه اعاده د ولادت شريفه مشابه ده د فعله د مجوسيانو د هندوستان سره دغه رنګه دوى راتگ کوى په عين حکايت د هغه معبود ده دوى (کنيها) سره او مشابه شو دوى په فعل دَ مجوسو د هندوستان سره هغه چه دوى نقل کوى شهادت دَ اهل بيت رضى الله تعالىٰ عنهم هرکال په عمل او په فعل دواړو سره مونږ پناه غواړو په الله تعالىٰ سره د هغه څه نه چه هغه دوى ئى فعل کوى د بدعتيانو دغه فعل حقيقتا نقل د ولادت شريفه جوړ شو او دغه حرکت بغير د کم شک او شبهه نه قابل د ملامتيا او حرمت او فسق ده بلکه فعل دَ دوى د فعل د هغو نه زيات ده ځکه هغه په کال کښى يو وار دا نقل کوى او دغه افراد په کم وخت کښى چه ئى زړه وغواړى کوى ئى او دې لره هيڅ نظير هم په شريعت محمدى کښى نشته چه يو عمل فرضى وى او د هغه سره سلوک دَ حقيقت کوى بلکه دا شرعا حرام ده ۔

فانظروا يا اولى الالباب ان حضرة الشيخ قدس الله سره العزيز انما انكر على جهلاء الهند المعتقدين منهم هذه العقيدة الكاسدة الذين يقومون لمثل هذه الخيالات الفاسدة فليس فيه تشبيه لمجلس ذكر الولادة الشريفة بفعل المجوس والروافض حاشا اكابرنا ان يتفوه ابمثل ذالك ولكن الظالمين على اهل الحق يفترون وبايات الله يجحدون ۔

**ترجمه** :۔اى صاحبانو او خاوندانو د عقل او هنر تاسو فکر او غور وکړى

چه حضرت شیخ قدس الله سره العزیز په دغه عقیده د جاهلانو د هندوستان انکار کړیده دغه کاسده عقیده د هغو کسانو ده چه دوی ولاړ دَ داسی فاسدو خیالاتو د پاره وی په هیڅ ځای کښی ده ذکر ولادت شریفه تشبه ده له نقل د هندوانو روافضو سره نه ده ورکړی او نه په هیڅ ځای کښی زمونږ مشائخین مبارکو داسی رقم بیهوده خبری نکوی مګر ظالمان په اهل حق باندی داسی الزامونه بیځایه لګوی او دغه ظالمان د ایاتونو د الله تعالیٰ نه انکار کوی۔ (والسلام)۔

## ﴿السوال الثالث والعشرون﴾

هل قال الشیخ الاجل علامة الزمان المولوی رشید احمد الگنگوهی رحمه الله بفعلیة کذب الباری تعالی وعدم تضلیل قائل ذالک ام هذا من الافتراءات علیه وعلی تقدیر الثانی کیف الجواب عما یقوله البریلوی انه یضع عنده تمثال فتوی الشیخ المرحوم بفتوگراف المشتمل علیٰ ذالک؟

## ﴿درویشتم سوال﴾

**ترجمه**:۔ ایا علامة الزمان مولوی رشید احمد گنگوهی رحمه الله تعالیٰ دا خبره کړی ده چه نعوذ بالله الله تعالیٰ دروغ وائی او دَ داسی قول کولو والا ګمراه هم نه ده او که دا هم د افتراءاتو دَ ضالینو نه ده په ده باندې او که چیرې دا یو افتراء او دروغ وی نو دَ بریلوی د هغه قول جواب څه ده چه دی وائی زما سره فتوکاپی ده فتوی د شیخ رحمه الله تعالیٰ شته چه هغه مشتمله په دې بحث ده ؟

## ﴿الجواب﴾

الذی نسبوا الی الشیخ الاجل الاوحد الأبجل علامة زمانه فرید عصره واوانه مولانا رشید احمد گنگوهی من انه کان قائلًا بفعلیة الکذب من

الباری تعالیٰ شانه وعدم تضليل من تفوه بذالك فمكذوب عليه رحمه الله تعالیٰ وهو من الاكاذيب التی افتراها الا بالسنة الدجالون الكذابون فقاتلهم الله انی یؤفكون وجنابه بریٔ من تلك الزندقة والالحاد ويكذبهم فتوى الشيخ قدس سره التی طبعت وشاعت فی المجلد الاول من فتاواه الموسومة بالفتاوی الرشيدية على صفحة (۱۱۹) منها وهی عربية مصححة مختومة بختام علماء مكة المكرمة .

**﴿جواب﴾**

**ترجمه** :۔ طرف د علامهٔ زمان یوده زمانی حضرت شیخ رحمه الله تعالیٰ علیه نسبت ده کم شی چه بدعتیانو کړی ده چه هغه نعوذ بالله تعالیٰ قول کونکی ده چه الله تعالیٰ بالفعل دروغ وائی نعوذ بالله تعالیٰ او د داسی قول کونکی ته گمراه هم نه وائی دا بالکل صراحة په هغه مبارک باندی دروغ تړل دی کومه چه ئی د غو جاهلانو اراده کړی ده الله جل جلاله دې دوی تول تباه او برباد کړی امین او جناب شیخ رحمه الله تعالیٰ دَ دوی د بی دینئ او گمراهئ نه بیزاره ده او د هغو دروغ ده شیخ صاحب فتوی پخپله کوی لکه ځنګه چه په فتاوی رشیدیه کښی په اول جلد په صفحه نمبر ۱۱۹ کښی چاپ او مشهوره ده د هغه فتوی تقریر په عربی او تصحیح وتصدیق ئی د مکة المکرمة علماء کرامو کړی ده ( والسلام )۔

**وصورة سواله هكذا**

**(بسم الله الرحمن الرحيم )**

نحمده ونصلی علی رسوله الكريم ما قولكم دام فضلكم فی ان الله تعالیٰ هل يتصف بصفة الكذبا ام الا ومن يعتقد انه يكذب كيف حكم افتونا ماجورين .

**ترجمه** :۔ او صورت دَ سوال ئی داسی ده بسم الله الرحمن الرحيم نحمده ونصلی علی رسوله الكريم ۔ تاسو څه وایئ په دې باره کښی چه ایا الله

تـعالیٰ په صفت د کذب سره موصوف کیږی او کنه او هغه څوک چه داسی عقیده لری چه الله تعالیٰ کاذب ده نعوذ بالله تعالیٰ د هغه حکم څه ده فتوی راکړئ الله تعالیٰ به تاسو ته اجر عظیم درکړی ۔

## ﴿الجواب﴾

ان الله تـعـالـیٰ مـنـزه من ان یتصف بصفة الکذب ولیست فی کلامه شائبة الکذب ابدا کما قال الله تعالیٰ ومن اصدق من الله قیلا : ومن یعتقد ویتفوه بـان الله تـعـالـیٰ یـکـذب فهـو کافر ملعون قطعا ومخالف للکتاب والسنة واجـمـاع الامة نعم اعتقاد اهل الایمان ان ما قال الله تعالیٰ فی القرآن فی فـرعـون وهامان وابی لهب انهم جهنمیون فهو حکم قطعی لا یفعل خلافه ابدا لکنه تعالی قادر علی ان یدخل الجنة ولیس بعاجز عن ذالك ولا یفعل هـذا مـع اختیـاره قـال الله تبـارك وتـعـالیٰ (ولو شئنا لاتینا کل نفس هداها ولـکـن حق القول منی لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین ) فتبین من هـذه الایة انـه تـعالیٰ لو شاء لجعلهم کلهم مؤمنین ولکنه لایخالف ما قال وکل ذالك بالاختیار لا بالاضطرار وهو فاعل مختار فعال لمایرید.

## ﴿جواب﴾

**ترجمه** :۔ الله تعالیٰ بیشـکه او بی شبهه پاک ده د توصیف کیدلو د کذب نه او د الله تـعـالـیٰ په کلام کښی هیڅ شائبه د کذب هم نشته همیشه لکه چه الله تـعـالیٰ وائی [ د الله تعالیٰ نه کوم شخص ډیر ربنتیا ویونکی ده ] او هغه څـوک چـه دا عـقـیـده لـری او یا دا قـول کوی هغه کافر مطلق او قطعا لعنت کـړی شـوی ده او مـخـالف ده د کـتـاب او سـنـت او اجـماع د امت نـه او د اهل ایـمـان د پـاره دا عـقـیـده ضروری ده الله تـعـالـیٰ په قرآن کریم کښی په باره د فـرعـون او هـامـان او ابـی لهب کښی امر کوی چه هغه د جهنم خاوندان دی دوزخیـان دی دا قـطـعـی امـر ده د دغـه خـلاف هیـڅ وخت نه کوی لیکن په

دخول د هغو جنت ته الله تعالیٰ قادر ده قدرت لری عاجز نه ده او دا کار نه کوی سره د اختیاره د دۀ لکه چه الله تعالیٰ په خپل کلام مبارک کښی داسی وائی [ که مونږ وغواړو خامخا به هر نفس ته هدایت وکړو لیکن زما قول ثابت شو چه لازما دوزخ ډکوم د انسانانو او پیریانو نه ] نو د دې ایت مبارک نه ښکاره شوه چه که الله تعالیٰ وغواړی ټول انسانان مؤمنان جوړولای شی خو لکن دی د خپل بیان خلاف نه کوی او دا ټول په اختیار د دۀ کښی دی نه په مجبوری ځکه دی فاعل مختار ده څه چه غواړی هغه کولای شی ۔

**هذه عقیدة جمیع علماء الامة کما قال البیضاوی تحت تفسیر قوله تعالیٰ ان تغفرلهم الخ وعدم غفران الشرك مقتضی الوعید فلا امتناع فیه لذاته والله اعلم بالصواب کتبه الاحقر رشید احمد گنگوهی عفی عنه ۔**

**ترجمه** :۔دغه عقیده د ټول امت د علماؤ کرامو ده لکه څنګه چه بیضاوی شریف کښی لاندی تر دی قول د الله تعالیٰ [ ان تغفرلهم ] نوشته دی چه عدم مغفرت د مشرک تقاضا کونکی د وعید ده په دی کښی د پاره د ذات د ده کم ممانعت نشته الله تعالیٰ ښه تره عالم ده په حق سره (کتبه رشید احمد الګنکوهی رحمه الله تعالیٰ علیه ) ۔

**(خلاصه) تصحیح علماء مکة المکرمة زادالله شرفها الحمد لمن هوبه حقیق ومنه استمدالعون والتوفیق ما اجاب به العلامة رشید احمد المذکور هو الحق الذی لا محیص منه وصلی الله علی خاتم النبیین وعلی اله وصحبه وسلم امر برقمه خادم الشریعة راجی اللطف خفی محمد صالح ابن المرحوم صدیق کمال الحنفی مفتی مکة المکرمة حالا کان الله لهما** | محمد صالح بن مرحوم صدیق کمال | **رقمه المرتجی من ربه کمال النیل محمد سعید بن محمد بصیل بمکة المحمیة غفرالله له ولوالدیه ولمشائخه وجمیع المسلمین** | محمد سعید بن محمد بصیل |

**خلاصه** :. د تصحیح د علماؤ د مکة المکرمة (زادهاالله تعالیٰ شرفها) دا ثناء او صفت ثابت ده دَ پاره د هغه ذات چه هغه مستحق ده او کومک وتوفیق د هغه ذات ته اشد ضرورت ده دغه ذکر شوی جواب دَ علامه رشید احمد گنگوهی رحمه الله تعالیٰ دا حق دی هغه حق ده چه د هغه نه بالکل تیښته او فرار نشته وصلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم او امر کړیده په نوشته کولو سره د شریعت خادم د خفیه مهربانی امیدوار محمد صالح ابن المرحوم صدیق کمال محمد صالح بن مرحوم صدیق کمال الحنفی مفتی د مکه مکرمه فی الحاله الله تعالیٰ دی په دوارو رحم وکړی او نوشته کړی ده د کامل نیل امیدوار محمد سعید بن محمد بصیل په مکه مکرمه کښی الله تعالیٰ دی دۀ او موروپلار د دۀ ته او ټول امت ته عفوه د ګناهونو وکړی . محمد سعید بن محمد بصیل

الراجی العفو من واهب العطیة محمد عابد بن المرحوم الشیخ حسین مفتوی المالکیة ببلدالله المحمیة مصلیا ومسلما هذا وما اجاب العلامة رشید احمد فیه الکفایة وعلیه المعمول بل هو الحق الذی لا محیص عنه رقمه الحقیر خلف بن ابراهیم خادم افتاء الحنابلة بمکة المشرفة والجواب عما یقول البریلوی انه یضع عنده تمثال فتوی الشیخ المرحوم بفتو گراف المشتمل علی ماذکر هو انه من مختلقاته اختلقها ووضعها عنده افتراء علی الشیخ قدس سره ومثل هذه الاکاذیب والاختلاف هین علیه فانه استاذ الاساتذه فیها وکلهم عیال علیه فی زمانه محرف ملبس ودجّال مکار ربما یصور الامهار ولیس بادنی من المسیح القادیانی فانه یدعی الرسالة ظاهرا وعلنا وهذا یستتر بالمجددیة ویکفر علماء الامة کما کفر الوهابیة اتباع محمد بن عبدالوهاب الامة خذله الله تعالیٰ کما خذلهم .

**ترجمه** :۔ د عفو امیدوار له هغه ورکونکی د عفو نه محمد عابد ده مرحوم

شیخ حسین زوی د مالکیه وو مفتی وروسته د درود او د سلامه کوم جواب چه مولانا صاحب ورکړی ده هغه کافی ده او په هغه باندی اعتماد ده بلکه دا حق ده د هغه حق نه چه د هغه نه تیښته او مفر نشته: نوشته کړیده حقیر خلف بن ابراهیم د حنابله وو د فتواوو خاوند په مکة المکرمة کښی (او جواب د هغه نه) چه بریلوی وائی چه زما سره د شیخ صاحب دَ فتوی فوټو کاپی دهٔ په هغه کښی دا نوشته دی نو د هغه جواب دا ده چه په مولانا صاحب دَ دې الزام لګیدل دا یو جعلی کار ده کوم چه د دهٔ سره د خپل ځان پاتې دی او دا رقم دروغ او جوړښت ده دوی د پاره ډیر اسانه کار ده ځکه په دی کښی دی استاذ د اساتذه وو ده او مخلوق د زمانه د دهٔ شاګردان دی ځکه شیطانی دروغ دهوکه فریب او چل دا ده ده خاصه ده اکثر وختونه مهرسازی کوی د مسیح قادیانی نه کم نه ده ځکه چه هغه د رسالت دعوه په اعلان او ښکاره سره کوله او دی په پټه سره وعلماؤ د امت ته کافران وائی لکه شاګردان دهٔ محمد بن عبدالوهاب د امت تکفیر کوی الله جل جلاله دی دوی هم د هغو په رقم رسوا او شرمنده کړی امین (والسلام)

## ﴿السوال الرابع والعشرون﴾

هل تعتقدون امکان وقوع الکذب فی کلام من کلام المولی عزوجل سبحانه ام کیف الامر ؟

## ﴿څلورویشتم سوال﴾

**ترجمه** :۔ ایا ستاسو عقیده دا ده چه په کلام د الله تعالیٰ کښی ده دروغو ده واقع کیدلو امکان شته او یا امر څه رقم ده ؟

## ﴿الجواب﴾

نحن ومشائخنا رحمهم الله تعالیٰ نذعن ونتیقن بان کل کلام صدر عن

الباری عزوجل او سیصدر عنه فهو مقطوع الصدق مجزوم بمطابقته للواقع ولیس فی کلام من کلامه تعالیٰ شائبة کذب ومظنة خلاف اصلاً بلا شبهة ومن اعتقد خلاف ذالك او توهم بالکذب فی شیئٍ من کلامه فهو کافر ملحد زندیق لیس له شائبة من الایمان .

﴿جواب﴾

**ترجمه** :۔ مونږ او زمونږ مشائخین رحمهم الله تعالی یقین لرو چه کوم کلام چه د الله تعالیٰ نه صادر شوی دی او یا ترینه صادریږی الله تعالیٰ صادق ده او بلا شک او شبهه مطابق د واقعه سره ده او نشته په یو کلام د کلامو د الله تعالیٰ کښې هیڅ شائبه د دروغو او ګمان د خلاف هم بالکل نشته پکښې او هر څوک چه خلاف ذ دې نه عقیده لری او یا په یو شی کښې د کلام د الله تعالیٰ نه توهم دَ دروغو کوی هغه کافر ملحد: زندیق ده په دهٔ کښې هیڅ رائحه د ایمان هم نشته ۔ والسلام ۔

## ﴿السوال الخامس والعشرون﴾

هل نسبتکم فی تالیفکم الی بعض الاشاعرة القول بامکان الکذب وعلی تقدیرهما فمالمراد بذالك وهل عندکم نص علی هذالمذهب من المعتمدین بینوا لامرلنا علی وجهه.

## ﴿پنځه ویشتم سوال﴾

**ترجمه** :۔ ایا تاسو په کوم تصنیف کښې دَ دروغو د امکان نسبت بعضو اشاعره ووته کړی دی او که تاسو ورته کړې وی دغه نسبت نو په هغه سره هم څه مراد دی او ایا په دغه مذهب د تاسو سره دَ برګزیده او ښو ښو علماؤ سند شته او کنه مونږ ته امر صحیح بیان کړی حال راکړئ ۔

## «الجواب»

الاصل فیه انه وقع النزاع بیننا وبین المنطقین من اهل الهند والمبتدعة منهم فی مقدوریة خلاف ما وعدبه الباری سبحانه وتعالیٰ او اخبر به او اراده وامثالها فقالوا ان خلاف هذه الاشیاء خارج عن القدرة القدیمة مستحیل عقلا لا یمکن ان یکون مقدورا له تعالی واجب علیه ما یطابق الوعد والخبر والارادة والعلم وقلنا ان امثال هذه الاشیاء مقدور قطعا لکنه غیر جائز الوقوع عند اهل السنت والجماعة من الاشاعرة والماتریدیة شرعًا وعقلًا عند الماتریدیة وشرعًا فقط عند الاشاعرة .

## «جواب»

**ترجمه** :۔ اصلی خبره دا ده چه په مابین زمونږ او د منطقینو د هندوستان او دَ دوی دَ بدعتیانو کښې په دې مسئله باندې جنګ واقع ده چه الله تعالیٰ کومه وعده کړې ده او یائی خبر د هغه ورکړې ده او یا ئی اراده د هغه کړې ده نو په خلاف د هغه باندې الله تعالیٰ لره توان او قدرت شته او کنه : هغه زمونږ مقابل طرف دا وائی چه خلاف د دغه خبرو لره خارج دی د قدرت قدیمه او عقلا محال هم دی په هغو باندې قدرت لرل د الله تعالیٰ ممکن هم نه ده او په الله تعالیٰ باندې واجب هم ده چه مطابق د خپلې وعده او خبر او اراده او علم سره کار وکړي او مونږ داسې وایو چه داسې قسم فعلونه په قدرت کښې یقینا داخل دی لکن په نزد د اهل السنت والجماعت د اشاعره وو او ماتریدیه وو واقع کیدل دَ دوی جائز نه ده شرعا وعقلا په نزد دهٔ ماتریدیه وو او شرعا فقط په نزد د اشاعره وو۔

فاعترضوا علینا بانه ان امکن مقدوریة هذه الاشیاء لزم امکان الکذب وهو غیر مقدور قطعا ومستحیل ذاتا فاجبنا هم باجوبة شتی مما ذکره علماء الکلام منها لو سلم استلزام امکان الکذب لمقدوره خلاف الوعد

والاخبار وامثالهما فهو ایضا غیر مستحیل بالذات بل هو مثل السفه والظلم مقدور ذاتا ممتنع عقلًا وشرعًا او شرعًا فقط کما صرح به غیر واحد من الائمة فلما راؤا هذه الاجوبة عثوا فی الارض ونسبوا الینا تجویز النقص بالنسبة الی جنابه تبارك وتعالیٰ واشاعو هذالکلام بین السفهاء والجهلاء تنفیراً للعوام وابتغاء الشهوات والشهرة بین الاتام وبلغوا اسباب سموات الافتراء فوضعوا تمثالًا من عندهم لفعلیة الکذب بلا مخافة عن الملك العلام .

**ترجمه** :۔او سوال کړی ده په مونږ باندی بدعتیانو که چیرته لاندی تر دغه امورو درلودل د قدرت جائز شی نو امکان ده کذب لازم شو او دا یقینی تر قدرت لاندی نه ده او ذاتا محال هم ده او مونږ دَ دوی د پاره یو څو جوابونه ورکړی دی هغه چه علماؤ د علم کلام ذکر کړی دی چه په هغو کښی دا هم دی چه تسلیمول د امکان د کذب د خلاف وعده او خبر وغیره سره د لاندی والا د قدرت د دۀ بالذات هم محال نه ده بلکه دا په مثل د ناخبری او ظلم ذاتا مقدور ممتنع عقلا وشرعا او یا صرف شرعا ممنوع ده لکه چه څنګه ډیرو علماؤ کرامو د همدی مسئله وضاحت کړی ده نو هرکله چه دوی دغه زمونږ جوابونه ولیدل نو د پاره د فراخیدلو د فساد په ملک کښی زمونږ طرف ته دا نسبتونه وکړل چه طرف د الله تعالیٰ ته نقص جائز بولی د پاره د نفرت پیدا کیدلو په عوامو کښی او د پاره د شهرت په مخلوق کښی د پاره د پوره کولو د مدعی او مطلب خپل ئی په مابین دَ بیعقلانو او جاهلانو کښی دا خبره مشهوره کړه او دغه الزام ئی انتها بلکه داسی حد ته ورسیدی چه د طرفه خپله ئی د فعلیت د کذب فوټو جوړ کړو او د الله تعالیٰ نه ئی هیڅ وهم نه کاوو۔

ولما اطلع اهل الهند علی مکائدهم استنصروا بعلماء الحرمین الکرام

لعلهم بانهم غافلون عن خباثاتهم وعن حقيقة اقوال علمائنا وما مثلهم فی ذالك الاكمثل المعتزلة مع اهل السنة والجماعة فانهم اخرجوا اثابة العاصی وعقاب المطيع عن القدرة القديمة واوجبوا العدل علی ذاته تعالیٰ فسموا انفسهم اصحاب العدل والتنزية ونسبوا علماء اهل السنة والجماعة الی الجور والاعتساف والتشويه فكما ان قدماء اهل السنة والجماعة لم يبالوا بجهالاتهم ولم يجوزوا العجز بالنسبة اليه سبحانه وتعالی فی الظلم المذكور وعمموا القدرة القديمة مع ازالة النقائص عن ذاته الكاملة الشريفة واتمام التنزيه والتقديس لجنابه العالی قائلين ان ظنكم المنقصة فی جواز مقدورية العقاب للطائع والثواب للعاصی انما هو وخامة الفلسفة الشنيعة .

**ترجمه** :۔او هر کله چه خاوندان د هندوستان په چل او فریب دَ دوی خبر شول بیا دوی د علماء کرامو د حرمینو شریفینو نه د کومک طلب وکړو ځکه هغه خبر لرونکی وو چه دغه حضرات د خباثته دَ دوی او د حقیقت نه د قولونو د علماؤ زمونږ بی خبره دی په دغه معامله کنبی مثال زمونږ او دَ دوی داسی ده لکه مثال دَ معتزله وو د اهل السنت والجماعت سره معتزله گنهگار ته په ځای د سزا صواب او مطیع اطاعت والا ته د صواب په ځای سزا ورکول د قدرت قدیمه نه خارج کوی او عدل په ذات د الله تعالیٰ باندی واجب گنړی دوی نامداره کوی خپل ځانونه په خاوندانو د عدل او پاکی سره او د اهل السنت والجماعت علماؤ ته نسبت د ظلم کوی او علماء کرام دَ دوی په جهالت اوبیعقلی هیڅ پروا گیر هم نه دی او په ذکر شوی ظلم کنبی د عجز نسبت الله تعالیٰ ته جائز گنړی بلکه په عامه وینا سره ئی ویلی دی عام کړی نی ده قدرت قدیمه سره د ازاله د نقائص نقصانونو کمال تقدس د الله تعالیٰ سره قائلین وو گمان ستاسو په جواز ده مقدوریت د عذاب اطاعت والا لره او ثواب

ګنهګار لره او ګمان د نقص خاص بی عقلی او حماقت د فلسفه خراب ده۔
کذالك قلنالهم ان ظنكم النقص بمقدوره خلاف الوعد والاخبار والصدق وامثال ذالك مع كونه ممتنع الصدور عنه تعالىٰ شرعا فقط او عقلا وشرعا انما هو من بلاء الفلسفة والمنطق وجهلكم الوخيم فهم فعلوا ما فعلوا لاجل التنزية لكنهم لم يقدروا على كمال القدرة وتعميمها واما اسلافنا اهل السنة والجماعة فجمعوا بين الامرين من تعميم القدرة وتتميم التنزيه للواجب سبحانه وتعالىٰ وهذا الذى ذكرناه فى البراهين مختصرا .

**ترجمه** :۔دغه رنګه مونږ ه دوی ته جوابونه ورکړو چه ګمان ستاسو په خلاف د وعید وخبرو خلاف د وعده صادقه او امثال دَ دوی سره د دی چه ممتنع الصدور دی د الله تعالىٰ شرعا فقط او عقلا وشرعا هر دواړه قسمه وقوع ئی ممتنع ده ګمان کول د نقص دا ثمره د جهالت ستا او تکلیف د منطق او فلسفه ده بدعتیانو چه کم شی چه د پاره د صفائی د خپل ځان ئی کول په هغه کښی ئی لحاظ د قدرت کامل او عام د الله تعالىٰ نه وکړی او هر څه چه اسلام زمونږ د اهل السنت والجماعت دی دوی جمعه والی کړی ده په مابین دَ دواړو امرونو کښی د عمومه د قدرته او د تام والی او پوره کیدلو د تنزیه الله تعالىٰ لره او دا هغه وو چه مونږ په براهین کښی ذکر کړی وو په کوتاه ډول سره ۔ وهاكم بعض النصوص عليه من الكتب المعتبرة فى المذهب (۱) قال فى شرح المواقف اوجب جميع المعتزلة والخوارج عقاب صاحب الكبيرة اذا مات بلا توبة ولم يجوز وان يعفوا الله عنه بوجهين الاول انه تعالىٰ اوعد باالعقاب على الكبائر واخبر به اى باالعقاب عليها فلولم يعاقب على الكبيرة وعفا لزم الخلف فى وعيده والكذب فى خبره وانه محال والجواب غايته وقوع العقاب الذى كلامنا فيه اذلا شبهة فى ان عدم الوجوب مع الوقوع لا يستلزم خلفا ولا كذبا لا يقال انه

یستلزم جوازهما وهو ایضا محال لانا نقول استحالته ممنوعة کیف وهما من الممکنات التی تشتمل هما قدرته تعالیٰ ...آه (۲) وفی شرح المقاصد للعلامة التفتازانی رحمه الله تعالیٰ فی خاتمة بحث القدرة المنکرون لشمول قدرته طوائف منهم النظام واتباعه القائلون بانه لا یقدر علی الجهل والکذب والظلم وسائر القبائح اذ لو کان خلقها مقدوراً له لجاز صدوره عنه واللازم باطل لافضائها لی السفه ان کان عالما بقبح ذالك وباستغنائه عنه والی الجهل ان لم یکن عالما: والجواب لا نسلم قبح الشئ بالنسبة الیه کیف وهو تصرف فی ملکه ولوسلم فالقدرة لاتنافی امتناع صدوره نظرا الی وجود الصارف وعدم الداعی وان کان ممکنا اه ملخصه .

**ترجمه** :۔اوس متعلق د اصل مذهب د معتبرو کتابونو نه بعضی تصریحات کوو ورته متوجه شه (۱) اول دا ده چه په شرح مواقف کښی تولو معتزله وو او خوارجو واجب کړی ده عذاب خاوند د کبیره گناه لره که چیری بغیر د توبه نه وفات شو او دائی جائز بللیه ده چه الله تعالیٰ دی معاف کوی د پاره ده دی خبری ئی دوه وجه ذکر کړی دی اول دا ده چه الله تعالیٰ په گناه کبیره باندی خبر د عذاب او وعید امر کړی ده اوس نو که چیرته عذاب ورنه کړی او دی معاف کړی معافی ورته وکړی نو خو خلاف د وعید او په خبر کښی کذب لازم شو او دا محال ده جواب ئی دا ده چه یو وقوع د عذاب ده او بل وجوب د عذاب ده نو دلته په خبر او وعید صرف صرف وقوع د عذاب لازمیږی نه وجوب د عذاب چه په هغه کښی خبره ده او شک نشته په دی کښی چه د وجوب نیستی والا سره د وقوع د عذاب دا خو لازمیدونکی د پاره ده دواړو نه دی او دا هم دغه رنګه محال ده ځکه مونږ محال کیدل د دغه نه منو او محال څه رقم ته کیږی چه خلف او دروغ

په هغه ممکناتو کښی داخل دی چه په هغو باندی قدرت د الله تعالیٰ شامل ده - (۲) او په شرح المقاصد د علامه تفتازانی رحمه الله کښی په خاتمه د بحث د قدرت کښی نوشته دی چه منکرین ده قدرت څو ډلی دی یو د هغو نه (نظام) دی او هغه تابعین د هغه چه دوی وائی چه الله تعالیٰ په : جهل : او کذب: وظلم : او داسی نور هیڅ په یو قبیح فعل باندی قدرت نه لری نو که چیرته دا قسم افعال په قدرت د دهٔ کښی داخل وی نو خو صادریدل بی هم د دهٔ نه جائز وو او لازم دلته باطل ده د جهته د مفضی کیدلو بیعقلی ته که چیرته عالم وی په بدواله د ده سره او ورځخه بی پروا وی او جهل ته مفضی کیږی که باندی عالم نه وو او جواب ئی دا ده چه نسبت د خرابی د یو شی طرف د الله تعالیٰ ته مونږ نه منو ځکه دی متصرف په خپل ملک کښی د قبیح شی په ملک کښی نه غواړی او که مونږ دا تسلیم کړو چه نسبت د قبیح قبیح ده نو صادریدل او منعه کیدل ده قدرت د الله تعالیٰ سره ضد نه دی نظر کول دی ته چه وجود د صارف دی هم وی او قدرت دی هم وی او د نیستی بلونکی دی هم وی چه د ختم کیدلو په وجه - (۳) قال فی المسائرة وشرحه المسامرة للعلامة المحقق كمال بن الهام الحنيفي وتلميذه ابن ابی شريف المقدسي الشافعي رحمهما الله تعالیٰ مانصه ثم قال ای صاحب العمدة ولا يوصف الله تعالیٰ بالقدرة على الظلم والسفه والكذب لان المحال لايدخل تحت القدرة ای يصح متعلقا لها وعند المعتزلة يقدر تعالى على كل ذالك ولا يفعل انتهی كلام صاحب العمدة وكانه انقلب عليه مانقله عن المعتزلة اذلاشك ان سلب القدرة عما ذكر هو مذهب المعتزلة واما ثبوتها ای القدرة على ما ذكر ثم الامتناع عن متعلقها اختيارا فهو بمذهب الاشاعرة اليق منه بمذهب المعتزلة ولا يخفى ان هذا لاليق ادخل فی التنزيه ايضًا اذ لاشك فی ان

الامتناع عنا ای عن المذکورات من الظلم والسفه والکذب من باب التنزیهات عما لا یلیق بجناب قدسه تعالی فَلیُسبَر بالبناء للمفعول ای یختبر العقل فی ان ای الفصلین ابلغ فی التنزیه عن الفحشاء اهو القدرة علیه ای علی ما ذکر من الامور الثلاثة مع الامتناع ای امتناعه تعالی عنه مختار الذالك الامتناع اوالامتناع ای امتناعه عنه لعدم القدرة علیه فیجب العول بادخل القولین فی التنزیه وهوالقول الیق بمذهب الاشاعرة اه .

**ترجمه** :-(۳) په مسائره او د هغه په شرحه مسامره کښې علامه محقق کمال بن حمام حنفی او د دهٔ شاګرد ابن ابی شریف مقدسی شافعی رحمهماالله تعالیٰ دغه تصریح کړی ده او بیا صاحب د العمدة ویلی دی چه الله تعالیٰ نه شی موصوف کیدلای په دی سره چه په ظلم او کذب قادر ده ځکه چه محال خو تر قدرت نشی لاندی کیدلای یعنی تعلق د قدرت د همدغه سره صحیح نه ده او په نزد د معتزله وو په ذکر شویو شیانو الله تعالیٰ قادر ده او دغه فعلونه نکوی د صاحب العمده بیان پای ته ورسیدو اوس دلته کمال الدین وائی چه کوم څه چه صاحب العمده د معتزله وو نه نقل کړی دی دا ګډوډ شو ځکه چه په دی کښې هیڅ شک نشته چه د ذکر شویو افعالو نه سلب کیدل د قدرت عین مذهب د معتزله وو دی او په ذکر شویو افعالو قدرت شته مګر خو دا نه واقع کیدل ئی په خپل اختیار سره دی دا قول په مذهب د اشاعره وو ډیر مناسب دی د معتزله وو سره او دا خبره دې پته نه وی چه په دی مناسب قول په تنزیه د الله تعالیٰ کښې زیات دخل ده بیشکه ساتل د :ظلم : او کذب: او سفه : نه د بابه د تنزیهات نه ده د هغه قبائحو نه چه هغه د ذات مقدسه سره مناسب نه دی نو د عقل امتحان دی وشی چه په دغه دوو صورتونو کښې زیات دخل ده په تنزیه د الله تعالیٰ کښې د فحشاؤ نه اوس دلته دغه صورت چه په دغه دری واړه ذکر شویو

افعالو قدرت شته مګر په اراده او اختیار ممتنع الوقوع ورته ويل کيږي په دی کښی زیاته تنزیه ده یا په قسم د تسلیمیدلو د ممتنع الوقوع کښی زیاته تنزیه ده چه الله تعالیٰ لره په دی افعالو کښی بالکل قدرت نشته نو په کم صورت کښی چه د تنزیه زیادت وی په هغه سره قول کول په کار دی او هغه مذهب د اشاعره وو ده یعنی هغه امکان بالذات وامتناع بالاختیار۔

(٤) وفی حواشی کلنبوی علی شرح العقائد العضدیة للمحقق الدوانی رحمهماالله تعالیٰ مانصه وبالجملة کون الکذب فی الکلام اللفظی قبیحا بمعنی صفة نقص ممنوع عند الاشاعرة ولذا قال الشریف المحقق انه من جملة الممکنات وحصول العلم القطعی لعدم وقوعه فی کلامه تعالیٰ باجماع العلماء والانبیاء علیهم السلام لاینافی امکانه فی ذاته کسائر العلوم العادیة القطعیة وهو لا ینافی ماذکره الامام الرازی . الخ (٤)

په شرح عقائد عضدیه په حاشیه د کلنبوی د محقق دوانی دا قسم تحقیق ده خلاصه ده دوی دا ده چه قبیح درلودل د کذب په کلام لفظی کښی په دی معنی چه نقص او عیب ده دا په نزد د اشاعره وو ثابت نه ده او د دغه خاطره محقق شریف ویلی دی چه کذب د جمله د ممکناتو نه ده او هرکله چه مفهوم د کلام لفظی د قطعی علم حاصل ده ۔ دا قسم چه په کلام الهی کښی وقوع د کذب نشته او په دی اجماع د انبیاؤ او علماؤ د امت هم شته نشته امکان د ضدیت د ده په ذات کښی لکه نور عادی قطعی علوم او دا نه ده ضد د هغه سره چه امام رازی ذکر کړیده ۔

(٥) وفی تحریر الاصول لصاحب فتح القدیر الامام ابن الهمام وشرحه لابن الامیر الحاج رحمهماالله تعالی مانصه وحینئذ ای وحین کان مستحیـ ـلیه ما ادرك فیه نقص ظهر القطع باستحالة اتصافه ای الله تعالیٰ بالکذب ونحوه تعالی عن ذالك وایضا لو لم یمتنع اتصاف فعله

بالقبح يرتفع الامان عن صدق وعده وصدق خبر غيره اى الوعد منه تعالىٰ وصدق النبوة اى لم يجزم بصدقه اصلا وعند الاشاعرة كسائر الخلق القطع بعدم اتصافه تعالى بشيءٍ من القبائح دون الاستحالة العقلية كسائر العلوم التى يقطع فيها بان الواقع احد النقيضين مع عدم استحالة الاخر لو قدرانه الواقع كالقطع بمكة وبغداد اى بوجودهما فانه لا يحيل عدمهما عقلا.

**ترجمه** :۔(۵) په تحرير الاصول کښې چه د فتح القدير د مصنف امام ابن الهمام ده او په شرحه د هغه کښې چه د ابن امير الحاج رحمهماالله تعالىٰ دا قسم تحقيق ده چه هرکله چه دغه افعال په الله تعالىٰ باندې محال شو په کم کښې چه نقص پيدا کيږی هغه ظاهر ده چه متصف کيدل د الله تعالىٰ په کذب او په نورو سره يقينا محال ده بالفرض که متصف کيدل د الله تعالىٰ په کذب سره محال نه شی نو خو په صدق د وعده او صدق د خبر باندې اعتماد پاته نه شو او ثبوت د صدق په طور د يقين سره نه پاتيږی او په نزد د اشاعره وو نه متصف کيدل د الله تعالىٰ په يوکم قبيح شی سره يقينا په مثل د ټول مخلوق په اختيار ده عقلا محال نه ده لکه چه ټول علوم په کم کښې چه يقين ده چه واقع کيدل د يو نقيض ده په هغه ځای کښې ذاتی واقع کيدنه ده دويم نقيض نشته چه واقع کيدو نه ئی نه مقدوره کيږی مثلا وجود د مکة المکرمة د بغداد يقينی ده مګر عدم ئی عقلا محال ده شی موجود نه ده ۔

وحينئذ اى حين كان الامر على هذا لا يلزم ارتفاع الامان لانه لا يلزم من جواز الشئ عقلا عدم الجزم بعدمه والخلاف الجارى فى الاستحالة والامكان العقلى جار فى كل نقيضه اقدرته تعالىٰ عليها مسلوبة ام هى اى النقيضه بها اى بقدرته مشمولة والقطع بانه لا يفعل اى والحال القطع بدم فعل تلك النقيضة الخ ومثل ما ذكرناه عن مذهب الاشاعرة ذكره

القاضی العضد فی شرح مختصر الاصول واصحاب الحواشی علیه ومثله فی شرح المقاصد وحواشی المواقف للچلپی وغیره وکذالك صرح به العلامة القوشجی فی شرح التجرید والقونوی وغیرهم اعرضنا عن ذکر نصوصهم مخافة الاطناب والسامة والله المتولی للرشاد والهدایة.

**ترجمه** :۔نو هرکله چه امر داسی شو په سبب د امکان د کذب پورته کیدل د اعتماد لازم نه شو ځکه چه عقلا په تسلیم کیدلو د جواز د یوشی په نیستی والا د هغه شی سره یقین کول لازم نه دی او بدلول د وقوع ده دی حالت او خلاف د امکان عقلی (معتزله په اهل السنت کنبی ) په هر نقص کنبی جاری ده چه د پاره د الله تعالیٰ په دغو باندی هیڅ قدرت نشته (لکه چه مذهب د معتزله وو ده ) او یا په نقص د قدرت د الله پاک شمول ضروری ده مګر د دوی سره یقین ده چه نه ئی کوی لکه چه قول د اهل سنت ده یعنی عدم فعل ده دغه نقص یقین ده او مذهب د اشاعره وو چه مونږ بیان کړی ده دغه رقم نه قاضی عضد په شرح د مختصر الاصول او اصحابو د حواشی په حاشیه د ده باندی او دغه قسم مضمون په شرح مقاصد او په حواشی وو د مقاصد کنبی او په نورو کنبی ذکر شوی دی او دغه رنګه تصریح کړی ده علامه قوشجی په شرح تجرید او اوقونوی او نورو هم کړی ده نو مونږ اعراض دَ دوی د ذکره نه وکړو چه په بیان کولو دَ نصوصو دَ دوی د وهمه د دراز واله د کلامه مونږ پریښودل او الله جل جلاله متولی د هدایت ده ( والسلام )۔

## «السوال السادس والعشرون»

ماقولکم فی القادیانی الذی یدعی المسیحیة والنبوة فان انا سا ینسبون الیکم حبه ومدحه فالمرجو من مکارم اخلاقکم ان تبینوا لنا هذه الامور

بیانا شافیا لیتضح صدق القائلین و کذبهم ولا یبقی الریب الذی حدث فی قلوبنا من تشویشات الناس.

## ﴿شپږ ویشتم سوال﴾

**ترجمه** :۔تاسو څه وایئ په هغه قادیانی کښی چه هغه د نبوت او مسیحیت دعوه کړی ده او خلک ستاسو طرفته دا نسبت ولی کوی چه د قادیانی سره دوی محبت لری او تعریفونه د دهٔ کوی د هغو ښو او مزینو اخلاقو ستاسو نه دا هیله کوو چه بیان د فیصله وکړی او مسئلی راته ولیکئ د پاره دَ دی چه قائل د صدق او د کذب واضح شی او کوم شک وشبهه چه زمونږ په زړونو کښی د تشویشاتو د مخلوق نه ستاسو طرف ته لویدلی ده هغه به هم رفعه شی؟

**ترجمه** :۔ جملة قولنا وقول مشائخنا فی القادیانی الذی یدعی النبوة والمسیحیة انا کنا فی بدء امره مالم یظهر لنا منه سوء اعتقاد بل بلغنا انه یؤید الاسلام ویبطل جمیع الادیان التی سواه بالبراهین والدلائل نحسن الظن به علی ما هو اللائق للمسلم بالمسلم ونأول بعض اقواله ونحمله علی محمل حسن.

**ترجمه** :۔په باره د قادیانی چه د نبوت او مسیحیت دعوه لرونکی ده زمونږ او زمونږ د مشائخینو رحمهم الله تعالیٰ قول دا ده چه په ابتداء یعنی تر هغه وخته چه دَ دوی خرابه او فاسده عقیده مونږ ته رامعلومه نه وه بلکه مونږ ته دا خبر ورسیدو چه دی تائید د اسلام کوی او نور تمام مذهبونه په دلائلو او براهینو سره باطله وی لکه څنګه چه دَ مسلمان د پاره په مسلمان حسن ظن یعنی نیک ګمان په کار وو مونږ هم ده باندی داسی نیک ګمان لرلو او د هغه بعضو نالائقه قولونو د دهٔ نه په تاویل باندی مونږ ډیر ښه مطلب راخستی۔

ثم انه لما ادعی النبوة والمسیحیة وانکر رفع الله تعالیٰ المسیح الی

السماء وظهرلنا من خبث اعتقاده وزندقة افتی مشائخنا رضوان الله تعالیٰ علیهم بکفره وفتوی شیخنا ومولانا رشید احمد الگنگوهی رحمه الله تعالیٰ فی کفر القادیانی قد طبعت وشاعت یوجد کثیر منها فی ایدی الناس لم یبق فیها خفاء الا انه لما کان مقصود المبتدعین تهییج سفهاء الهند وجهالهم علینا وتنفیر علماء الحرمین واهل فتیاهما وقضاتهما واشرافهما منا لانهم علموا ان العرب لا یحسنون الهندیة بل لایبلغ لدیهم الکتب والرسائل الهند افتروا علینا هذه الاکاذیب فالله المستعان وعلیه التوکل وبه الاعتصام.

**ترجمه** :۔وروسته د هغه په کوم وخت کښې چه دهٔ دعوه د نبوت او مسیحیت وکړله او د عیسی علی نبینا وعلیه السلام د ختلو اسمان ته دی منکر شو او خباثت د عقیده زندیقیه ده دهٔ مونږ ته ظاهره شو زمونږ مشائخنو رحمهم الله تعالیٰ په دوی باندی د کفر فتوی وکړله فتوی د حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله تعالیٰ د قادیانی په کفر کښې چاپ او مشهوره شوه د ډیرو انسانانو سره موجوده ده کومه داسی د غلا خبره نه ده خو کله چه مطلب او مقصد د بدعتیانو داوو چه هغه جاهلان د هندوستان مونږ ته په غصه او قهر باندی کړی او علماء د حرمینو شریفینو او د مفتیانو او قاضیانو او رئیسانو زمونږ نه نفرت وکړی ځکه چه دوی ته دا معلومه وه چه عرب خلک په هندی ژبه سره نه پوهیږی بلکه هغو ته رساله او کتاب هندی هم نه وررسیږی دی په مونږ باندی الزام لګوی د داسی دروغو د الله تعالیٰ مدد ته ضرورت شته او په الله تعالیٰ اعتماد او تکیه ده۔

هذا والذی ذکرنا فی الجواب هوما نعتقده وندین الله تعالیٰ به فان کان فی رایکم حقا وصوابا فاکتبوا علیه تصحیحکم وزیّنوه بختمکم وان کان غلطا وباطلا فدلونا علی ماهو الحق عندکم فانا ان شاء الله لا نتجاوز عن الحق

وان عن لنا فی قولكم شبهة نراجعكم فيها حتى يظهر الحق ولم يبق فيه خفاء واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين وصلى الله تعالىٰ على سيدنا محمد سيدالاولين والاخرين وعلى اله وصحبه وازواجه وذرياته اجمعين قاله بفمه ورقمه بقلمه خادم طلبة علوم الاسلام كثير الذنوب والاثام.

**الاحقر خليل احمد**

وفقه الله التزدوالفد (يوم الاثنين ثامن عشر من شهر شوال سنة ۱۳۲۵) هجرى تمت بالخير.

**ترجمه**:۔ دغه کوم چه مونږ درته بیان کړو دغه زمونږ عقیده او دین وایمان ده وروسته که چیرته دغه ستاسو په نظر کښې درست او قابل قبول وی نو په لیکلو د تصجیح او مهر خپل باندی ئی زیبا او ښائسته کړئ او که غلط وباطل وی نو کوم چه ستاسو په مذهب حق وی هغه مونږ ته نوشته کړی مونږ انشاء الله تعالیٰ د حق نه تجاوز نه کوو او که چیرته مونږ ته په ارشاد ستاسو کښې یوشک وشبهه پیدا شوه بیا دویم وار پوښتنه کوو د پاره د دې چه حق ښه ښکاره واضح شی او پټ پاتې نه شی او اخری خبره زمونږ دا ده چه ټول تعریفونه الله تعالیٰ لره دی چه پرورش ورکونکی د ټول عالم ده درود او رحمت دی نازل وی په سردار ده دواړو عالمونو او په ال واصحابو او په ازواجو مطهراتو او په اولادونو دهٔ دوی او په ټول امت د دهٔ باندی په ژبه ئی وویل او په قلم ئی نوشته کړو خادم د طالبانو ډیر ګنهګار حقیر خلیل احمد الله تعالیٰ دی ده ته توفیق دَ توبه د اخرت ورکړی، په ورځ دَ دوشبه په ۱۸ تاریخ د شوال په سنه ۱۳۲۵ هجری کښې تمام شو۔

ښکه چه دغه رساله عربیه د هندوستان د علماؤ په تصدیق سره مکمله شوه د هغه وروسته حجاز مصر شام او نورو اسلامی هیوادونو ته ولیږل شو خو په اول کښې د علماؤ دیوبند رحمهم الله تعالیٰ تحریرات درج دی۔

## تصدیق انیق قدوة العارفین زبدة المحدثین حضرت مولانا الحاج المولوی محمود حسن صاحب دامت فیوضاتهم

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله عالم الغیب و الشهادة والصلوة والسلام علی من قال ان احسن الظن من العبادة ولی اله واصحابه هم سادة للامة وقادة وبعد فقد تشرفت بمطالعة المقالة التی رضعها المولی العلام مقدام علماء الانام مولانا المولوی خلیل احمد لازال فیوضه منسجمة علی السهول والاکام.

**ترجمه** :۔ هرقسم ثناء او صفت خاص الله تعالیٰ لره ثابت دی چه په غائب او حاضر باندی علم لری درود او سلام دې په هغه ذات وی چی هغه امر ئی کړیده چه دزړلودل د نیک ګمان هم عبادت ده او په اولاد د اصحابو د دۀ دی وی چه سرداران د امت وی وروسته د دینه عرض دا ده چه زه په لیدلو د هغه رساله سره مشرف شوم چه مولانا العلام پیشوا د علماؤ دمخلوق مولانا خلیل احمد صاحب نوشته کړی وه فیوض او برکات د دۀ مبارک دی په هر ځای کښی جاري وی -

فلله دره ولامثل عشرة قداتی بالحق الصریح وازال عن اهل الحق الظن القبیح وهو معتقدنا ومعتقد مشائخنا جمیعا لاریب فیه فاثابه الله تعالی جزاء عنائه فی ابطال وساوس الحاسد فی افترائه فقط محمود عفی عنه المدرس الاول فی مدرسة دیوبند طبع الخاتم

**ترجمه** :۔ الله جل جلاله دې دۀ ته جزاء د خیر ورکړی بنه والا د ده دا ده چه حق ئی علی الاعلان بیان کړو او د اهل الحق نه ئی بدګمانی لری کړه او دغه عقیده زمونږ او زمونږ د مشائخینو د ټولو ده په دی کښی هیڅ شک نشته الله جل جلاله دې مصنف ته جزاء د محنت ورکړی کوم چه دۀ په باطلولو د وسوسو د حاسدانو کښی زحمتونه کړیدی الله تعالیٰ دی اجر ورکړی امین

محمود عفی عنه المدرس الاول فی مدرسة دیوبند۔

## تحریر منیف سید العلماء صفوة الصلحاء حضرت مولانا الحاج میر احمد حسن صاحب امروهی قدس الله سره

لله در المجیب اللبیب حیث اتی بتحقیقات المنفیة وتدقیقات بدیعة فی كل مسئلة وباب ومیز القشر عن اللباب وكشف قناء الریب والبطلان عن وجوه خرائد الحق والصواب كیف لا والمجیب المحق المحقق هو مورد انعامه وافضاله ومقدام المحققین فی اقرانه وامثاله فالحق انه ادامه الله تعالی وابقاه اصاب فی ما افادو فی كل مااجاب اجادلایآتیه الباطل من بین یدیه ولامن خلفه وهو حق صریح لاریب فیه۔

**ترجمه** :۔د پاره د الله تعالیٰ ده ښه واله د عاقل سی مضبوط تحقیقات او عجبه باریکی په هره مسئله کښی او باب کښی بیان کړی دی او پوست ئی د مغز نه جدا کړی ده او د شک وباطل پرده ئی د حق او رښتیا د مخه نه لری کړی ده ولی به داسی نه وی خو جواب ورکونکی ئی هغه کس ده چه مستحق د فضیلت او انعام د الله تعالیٰ ده او په محققینو د زمانی کښی پیشوا ده او حق دا ده چه الله تعالیٰ دی همیشه باقی ولری هغه شی چه ده نوشته کړی ده څه چه ئی نوشته کړی دی هغه نیکی ده او کوم جوابونه چه ئی ورکړی دی هغه ډیر عمده چه باطل بالكل ده دوی په مخ کښی راتلای هم نه شی او نه د شا د هغه راتلای شی او دا صریح خبره ده هیڅ شک هم پکښی نشته۔

فهذا هو الحق وماذابعد الحق الاالضلال وكل ذالك هو معتقدنا ومعتقد مشائخنا وسادتنا اماتنا الله علیه وحشرنا مع عباده المخلصین المتقین وبوانا فی جوار المقربین من النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین امین فامین فمن تقول علینا اوعلی مشائخنا العظام بعض الاقاویل فكلها

فرية بلا مرية والله يهدينا واياهم الى صراط مستقيم وهو تعالى وتقدس بكل شئ خبير وعليم واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على خير خلقه وصفوة انبيائه سيدنا ومولانا محمد واله وصحبه اجمعين وانالعبد الضعيف النحيف خادم الطلبة احقر الزمن احمد حسن ال حسينی نسباً والامر وهی مولداوموطنا والچشتی الصابری والنقشبندی المجددی طريقة ومشرباً والحنفی الماتريدی مسلكا ومذهبا.

**ترجمه** :-دغه حق ده او هرڅه چه د دغه حق نه وروسته وی هغه ضلالت او ګمراهی ده او دا عقیده زمونږ او زمونږ د مشائخینو رحمهم الله تعالیٰ ده او د الله تعالیٰ نه طلب داریم امید لرم چه په دغه عمل باندی مونږ ته مرګ رانصیب کړی او حشر زمونږ د پرهیزګارانو او مخلصینو بنده ګانو سره وکړی او په څنګ ده انبیاؤ: او صدیقینو: او صالحینو مقرب بنده ګانو کښی مونږ ته ځای رانصیب کړی امین ثم امین او هغه څوک چه په مونږ او زمونږ په مشائخینو مبارکانو باندی ده دروغو الزام لګوی دا بیشکه تهمت ده او الله تعالیٰ دی مونږ او دوی ته مستقیمه لار راوښائی او په حقه لار هم دی برابر کړی او الله تعالیٰ د هرڅه نه خبردار او واقف ده او اخری خبر هم دا ده چه الله تعالیٰ لره ټول تعریفات دی چه ساتونکی ده ټول عالم ده او درود وسلام دی وی په هغه بهترین د مخلوق او خلاصه د انبیاؤ سیدنا ومولانا محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم باندی او په ال او اصحابانو د ده او په تمامو مسلمانانو: زه یم ضعیف بنده د طالبانو خادم هغه خوار د زمانو احمد حسین حسینی نسبا او امروهی می د زده کړی ځای او وطن چشتی: صابری:نقشبندی:مجددی طریقة ومشربا حنیفی ماترید مسلکا ومذهباً(مهر)

:::::::﴿﴾﴿﴾﴿﴾:::::::

## تحریر شریف عمدۃ الفقہاء واسوۃ الاصفیاء حضرت مولانا الحاج المولوی عزیز الرحمن صاحب دامت برکاته

بسم الله الرحمن الرحیم

منسوب دی او دی خپله هم ځانونو ته دیوبندیان وائی د هم دغه شیانو باوجود د عقائد دیوبند د دغه دستاویز سره او د دوی د هر عمل سره خلاف کوی او دا صرف خلاف ئی هم نه وی بلکه دوی د علماؤ دیوبند په خلاف کښی په تقریرونو او تحریرونو باندی اخته دی او سره د دغه هم دوی په خپل دیوبندی واله اصرار کوی په دغه تحریرونو کښی ئی د المهند نه ډیر شیان نقل کړی دی او حواله ئی په المهند ورکړی ده د عقائد علماء دیوبند د ملاحظه نه دا ټولی دنیا ته معلومه ده چه د علماؤ دیوبند عقیده داسی ده لکه د تمام اهل السنت والجماعت او د اهل السنت والجماعت خلاف د علماؤ دیوبند خپل مخصوص عقائد نشته بلکه د اهل السنت والجماعت دوهم نوم عقائد علماء دیوبند دی هیڅ فرق ئی هم نشته د دغه رقم نه دا هم معلومه شوه چه اصلی دیوبندیت کوم ده په دغه زمانه کښی بعض مقررین دغه عقائد خاص علماء دیوبند ته منسوبه وی او داسی نه ده او دغه مقررین د دیوبند تصویر او نقشه د خلکو په مخ کښی ښکاره کوی د دغسی رقم نه ورځ په ورځ توحش او نفرت زیادت کوی د دغه رقم کارنامو د اصل دیوبندیت سره هغه ابعده علاقه لا هم نشته او دغه نقشه او تصویر د حقیقت حال نه بالکل برعکس ده او دواقعه نه بالکل خلاف ده الله تعالی دی مونږ ټولو ته هغه حقه عقائد رانصیب کړی او په خپله خوښه دی الله تعالی مونږ ته د تللو توفیق راکړی امین (وهو الموفق والمعین)

اوس مخکښی د علماؤ دیوبند عقیده لیکل شوی ده ملاحظه ئی کړی ښه په غور سره (والسلام)

سید عبدالشکور ترمذی گمتهلی عفی عنه مهتمم مدرسه عربیه حقانیه ساهی وال ضلع سرگودها ۷ جمادی الاکر سنه ١٣٨٨ هجری.

☆☆☆

## عقائد علماء دیوبند

**بسم الله الرحمن الرحیم**

(**عقیده:۱**) زمونږ په نزد او زمونږ د اکابرینو په نزد د محمد علیه السلام (زمونږ روح دی ترده قربان وی) زیارت د هغه لوړو درجو د نزدیکت او د ثواب او سبب د حصول د درجو ده بلکه واجب ته ورنژدی ده هغه شد رحال یعنی کجاوه تړل او خرچ کول د روح او مال باندی نصیب کیږی (المهندص ۱۰)

(**عقیده:۲**) او په وخت د سفر د مدینه منوره کښی په هغه خاوند د مدینه دی صلاة وسلام وی په هغه سفر کونکی خاص د زیارت د علیه السلام نیت کوی او که به د مسجد نبوی او داسی نورو لوړو مقاماتو او متبرکو زیارتونو نیت هم ورسره کوی بهتره خبره دا ده چه علامه ابن همام امر کړیده چه خاص د قبر اطهر نیت دی کوی بیا چه هلته حاضر شو دَ مسجد نبوی زیارت هم ورته حاصل کیږی په دغه صورت کښی د جناب کریم ﷺ زیات تعظیم ده او د دغه خبری په موافقت سره جناب کریم پخپله داسی ارشاد کوی : ځوک چه خاص زما زیارت ته راشی او بل څه مطلب ئی نه وی حاجت ئی نه وی راوړی د دغه زیارت کونکی په ما داسی حق ده چه زه د قیامت په ورځ د دهٔ شفاعت کونکی ځان جوړ کړم (المهند ص :۱۱)

(**عقیده:۳**) هغه حصه د ځمکی چه د جناب کریم ﷺ اعضاؤ مسه کړی وی علی الاطلاق بهتره ده حتی تر کعبه او عرش وکرسی نه هم بهتره ده المهند ص ۱۱ زبدة المناسک حضرت گنگوهی

(**عقیده:٤**) زموترږ په نزد او زمونږ د مشائخو په نزد په دعاؤ کښی په انبیاؤ او صلحاؤ او شهداؤ او صادقینو سره توسل جائز ده که په ژوند کښی وی او که په مرګ کښی خو په داسی طریقه چه ووائی چه یاالله تعالیٰ د فلانی بزرګ په وسیله سره د تا نه دَ دعا قبلولو او دَ حاجت دَ پوره کولو امید لرم او همدارنګی

نور کلمات جائز دی ۔ (المهندص:١٣: او فتاوی رشیدیه ص:١١٢)

(**عقیده:٥**) د انحضرت محمد ﷺ د قبر په سر حاضریدل او د شفاعت درخواست طلب کول او دا ویل هم جائز دی چه حضرته زمونږ د مغفرت د شفاعت امر وکړه فتاوی رشیدیه ص ١١٢ فتح القدیر جلد اول ص ٣٣٨ او طحطاوی علی المراقی ص ٤٠٠ دغه رنګه حضرت ګنګوهی رحمه الله هم لیکلی دی بیا د حضرت محمد ﷺ په واسطه سره دعا وکړی او شفاعت طلب کړی داسی ووائی (یارسول الله اسئلک الشفاعة واتوسل بک الی الله فی ان اموت مسلما علی ملتک وسنتک (ترجمه: ای د الله تعالیٰ رسوله زه ستا نه د شفاعت سوال کوم او زه وسیله جوړوم په تا سره الله تعالیٰ ته په دی کښی چه زه مړشم مسلمان په ملت او په سنت ستا باندی: ( زبدة المناسک صفحه (٩٠)

(**عقیده:٦**) که یوکس د انحضرت ﷺ د قبر مبارک په سر باندی درود شریف وائی هغه جناب کریم پخپله اوری او تر هغه وخته صلاة وسلام ملائکه وررسوی ( طحطاوی علی المراقی صفحه ٤٤٨ ) حضرت مولانا رشید احمد صاحب ګنګوهی وائی انبیاء علیهم السلام د هغه وجه نه مستثنی دی چه دَ دوی په اوریدلو کښی څوک اختلاف کوی: فتاوی رشیدیه ص ١١٢) حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری امر کړی ده انحضرت ﷺ ژوندی دہ د هغه وجه نه په ټیټ اواز سره سلام کول دی دَ مسجد نبوی په حدودو کښی چه په څومره ټیټ اواز سره سلام وکړی هغه جناب صلی الله تعالیٰ علیه وسلم پخپله اوریدلای شی (تذکرة الخلیل ص ٢٠٦) حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب لیکلی دی چه علیه السلام په نزدی کښی سلام پخپله اوری او درود په ذریعه د ملائکه وو سره او د سلام جواب ورکول همیشه ثابت دی (نشر

الطیب ص ۲۹۷) د حضرت ګنګوهی رحمه الله د لوړو عباراتو نه دا ښه واضح معلومیږي چه حضرات انبیاء علیهم السلام په قبرونو کښې اوریدل کولای شي هیڅ اختلاف په دې کښې نشته۔

حضرت ابو هریرةؓ امر کوي چه علیه السلام داسې قول کړی ده (لیهبطن عیسی ابن مریم حکماواماما مقسطا ولیسلکن فجا حاجا او معتمرا او لیاتین قبري حتی یسلم علي ولاردن علیه وقال صحیح۔

**ترجمه** :۔ ضرور عیسی بن مریم علیهما السلام نازلیږي په داسې حال کښې چه منصف او عادل امام وي او د فج د لارې نه راځي (فج نوم ده د یو ځای) ده حج یا عمره د پاره او بیله شکه زما قبر ته راځي په ما سلام اچوي او زه ضرور دهغه جواب ورکوم (فائده) دغه روایت مسند احمد جلد ۲ صفحه ۲۹۰ او مستدرک حاکم جلد۲ ص ۵۹۵ کښې هم شته او حاکم او علامه ذهبي رحمهما الله تعالیٰ دواړو دغه صحیح بللیه ده دغه اوس وخت کښې محمد علیه السلام ده حضرت عیسی علیه السلام د سلام اوریدل کوي او د ده د سلام جواب ورکوي چه د سلام اوریدل بغیر د جواب نه څه صورت نه لري نو په قبر باندې درود او سلام اوریدل او د هغه جواب ورکول نو ولې ناممکن ده او د حضرت عیسی علیه السلام د سلام اوریدل دا د حضرت عیسی علیه السلام په خصوصیت او اعجاز باندې نه حمل کیږي څکه حدیث ده من صلی علي عند قبري سمعته الخ دا خاص نه ده هر کس ته ده هر څوک چه سلام ووائي هغه علیه السلام پخپله اوري او د دغه حدیث ده سند په باره کښې شیخ ابن حجرؒ فتح الباري ج ٦ په ص ۳۷۹ کښې او حافظ سخاوي القول البدیع ص ۱۱٦ کښې او علامه علي قاري مرقات ج ۲ ص ۱۰ کښې او علامه شبیر احمد عثماني فتح الملهم ج۱ ص ۳۳۰ کښې فرمائیلي دي چه دغه سند جید ده او د محدثین کرامو

په نزد د دغه سند په حجت واله کښې هیڅ خبره نشته خاص بیا د دغه امت اجماع او دَ دوی تعامل ورواج هم د دغه تائید کوی ۔

(**عقیده:۷**) زمونږ په نزد او زمونږ د مشائخو په نزد حضرت محمد ﷺ په خپل قبر مبارک کښې ژوندی ده او د ده ژوند دَ بیله کمه تکلیفه د دنیا په رقم ده او دغه ژوند مخصوص د علیه السلام او نورو انبیاؤ او شهداؤ ده نه ده داسې ژوند لکه برزخی یعنی د قبر ژوند لکه نورو مسلمانانو بلکه تولو انسانانو ته چه شته لکه چه علامه سیوطی رحمه الله پخپله رساله: ابناء الاذکیاء بحیوة الانبیاء کښې داسې په تصریح سره لیکلی دی لکه چه ده دا ویلی دی چه علامه تقی الدین سبکیَ امر کړی ده چه د انبیاؤ او د شهداؤ په قبرونو کښې ژوند داسې ده لکه په دنیا کښې او دلیل ئې دا ده چه موسی علیه السلام په خپل قبر کښې لمونځ کوی که نې ژوند لکه دَ دنیا داسې نه شی نو لمونځ کول مشکل دی ځکه لمونځ ژوندی جسم باندی ادا کیږی نو د دغه نه دا ثابته شوه چه د علیه السلام ژوند په قبر کښې دَ دنیا په رقم ده او دغه معنی برزخی هم ده ځکه په قبر کښې حاصل ده لکن خو دا د هغه مذکورینو خصوصیاٰت دی او زمونږ شیخ حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی صاحب قدس سره په دغه بحث کښې یوه مستقله رساله هم لری چه هغه ډیره په دقت سره جوړه شوی ده ډیره مشهوره ده په نامه د (ابحیاة) یعنی اوبه د ژوند سره یادیږی (المهند ص ۱۴)

په لوړو عباراتو کښې چه(لمونځ دژوندی په جسم پوری تعلق لری)د دغه نه ئې ورسته دالیکلی دی چه د دینه داثابته شوه چه دعلیه السلام ژوندَ دنیاپه رقم ده په صاف رقم سره دادلیل ده چه د دنیوی ژوند نه داکابرینو دامراده ده چه دغه ژوند په هغه دنیوی جسم مبارک کښې ده اوددغه ددنیاد صورت مبارک سره دده دهغه مقدس روح تعلق ده چه د دغه وجه نه په

دغه مبارک بدن کښې ژوند-اوزندګی حاصله ده اودغه صرف دَ روح مبارک زندګی نه ده لیکن د دغه نه داکابرینو رحمهم الله تعالی هیڅکله دامطلب نه چه په عالم برزخ کښې ددغه جسدی ژوند لپاره دَ دنیوی ژوند ټول لوازمات ثابت دی هغه لکه خوراک څښاک اونور دغه رقم په دنیا کښې حاجت شته دغه رقم په قبرکښې هم لیکن څرنګه چه دَ دنیوی ژوند په رقم انبیاء علیهم السلام ته هر څه حاصل دی ددغه قبر شریف په ژوند کښې هم ادراک اوعلم اوشعورورلره حاصل دی دغه رقم ددغه اهموامورو د حاصلو لو په وجه دغه ژوند ته هم دنیوی ژوند ویل کیږی د حضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دی چی نبی علیه السلام وفرمائل(الانبیاؤ احیاء فی قبورهم یصلون::انبیاء علیهم السلام ژوندی دی په قبرونو خپلو کښې لمنځونه کوی)ددغه حدیث امام بیهقی اوعلامه سبکی رحمهما الله نه علاوه امام ابویعلی رحمه الله هم روایت کړیده دابو یعلی رح ددغه حدیث دسند په باره کښې علامه هیثمی امر کړیده داسی وائی:رجال ابی یعلی ثقات:ده ابویعلی په سند کښې ټول راویان ثقه دی(مجمع الزوائدجلد۸ص۲۱۱)اوعلامه عزیزی لیکلی دی وهو حدیث صحیح::دغه صحیح حدیث ده(السراج المنیرج:۲ص۱۳۴)علامه ابن حجر فرمائلی دی :وصححه البیهقی::امام بیهقی تصحیح کړی ده (فتح الباری جلد٦ ص۳۲۵ : حضرت ملا علی قاری رحمه الله تعالی امر کړیده(صح خبرالانبیاء احیاء فی قبورهم:الانبیاء احیاء فی قبورهم)حدیث صحیح ده مرقات جلد::۲:ص۲۱۲)علامه انورشاه صاحب امرکړیده(ووافقه الحافظ فی المجلد السادس)فیض الباری جلد(۲)ص۶۴/دامام بیهقی په تصیح باندی ابن حجرهم اتفق کړید: اوددغه حدیث مرادئی بیان کړیده حضرت علامه انورشاه صاحب

- وائی،ولعل المراد بحدیث الانبیاء احیاء فی قبورهم یصلون انهم ابقوا علی هذه الحالة ولم تسلب عنهم الخ(تحیت الاسلام ص۳٦ ـ)دالانبیاء احیاء فی قبورهم حدیث نه شاید دغه مراد وی چه دوی په دغه دنیاوی حالت باندی پاته وی دغه حال دی دَ دوی څخه نه سلب کیږی::دغه رنګه ئی دا هم ویلی دی چی یرید بقوله الانبیاء مجموع الاشخاص لاالارواح فقط( تحیة الاسلام ص۳٦)د الانبیاء احیاء نه حضرات انبیاء علیهم السلام مجموعه اشخاص مراددی نه فقط ارواحونه یعنی انبیاء علیهم السلام سره د خپلو جسدونو مبارکانو ژوندی دی؟شیخ الاسلام حضرت علامه شبیر احمد عثمانی رح ددغه حدیث مبارک تصحیح ئی دابن حجررح په تائید کړی ده(فتح الملهم ج۱ ص۳۲۹ کښی هم داسی امر کوی: ان النبی صلی الله تعالیٰ علیه وسلم حی کما تقرروانه صلی الله علیه وسلم یصلی فی قبره باذان واقامة (فتح الملهم ج۳ ص ۴۱۹ (ترجمه: حضرت محمد ﷺ ژوندی ده لکه چه په هغه خپل ځای کښی ثابته ده او نبی علیه السلام په خپل قبر مبارک کښی په اذان او اقامة سره لمونځ کوی حضرت علامه انور شاه صاحبؒ هم داسی رقم امر کوی) ان کثیرا من الاعمال قد ثبتت فی القبور کالاذان والاقامة عند الدارمی وقراءة القرآن عند الترمذی ( فیض الباری جلد اول ص ۱۸۳ ) ترجمه ) ډیر د هغه اعمالو نه چه په تحقیق سره ثابت دی په قبرونو کښی لکه اذان او اقامت په نزد د دارمی او قراءت د قران کریم په نزد دَ ترمذی: دغه تر بحث لاندی عقیده کښی دَ دیوبندیانو مسلک د عباراتو د المهند نه ښه ښکاره واضح شو او په لوړو بیتونو کښی دَ دغهِ مسلک دَ دلیل طرف ته یوه اندازه اجمالی طور اشاره هم شوی ده اوس دَ تائید د پاره بعضی علماؤ دَ دیوبند زیات تصریح هم د دغه عقیده د پاره وړاندی کړی ده: حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمه الله تعالیٰ علیه امر کړی ده:

ارواحونه د انبیاؤ د بدن دَ دوی سره موافق او دارک تعلق لری د هر طرف او جانب نه ورسره پیوست کیدلای شی ( جمال قاسمی ص ۱۳ ) او دا ئی هم فرمائلی دی چه رسول الله صلی الله تعالیٰ علیه وسلم اوس هم په قبر مبارک خپل کښی ژوندی ده په مثل د هغه گوښه کښینستونکو او هغه د چهل خانه رقم ته ئی عزلت او گوښه خوښه کړی ده او دغه رنگه دَ دوی مالونه هم نه شی تقسیم کیدلای لکه د ژوند په حال کښی چه ستاسو مال د میراث په رقم نه شی تقسیم کیدلای ( اب حیاة ص ۲ ) دغه رقم ئی امر کړی ده چه انبیاؤ ته دَ دنیا په رقم بدنونو کښی ژوندی ویل کیږی او په حسب د هدایت د هغه ایت کل نفس ذائقة الموت او هغه چه : انک میت وانهم میتون ټولو انبیاؤ او جناب کریم ته د مړه ویلو عقیده هم ضروری ده ( لطائف قاسمیه ص ۴) قطب الارشاد مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله تعالیٰ علیه وائی ولان النبیین صلوات الله تعالیٰ علیهم اجمعین لماکانوا احیاء فلا معنی لتوریث الاحیاء منهم ( الکواکب الدری جلد ۱ ص ۴۴۳ ) ترجمه) لکه چه انبیاء علیهم السلام ټول ټول ژوندی دی د دغه وجه نه دَ دوی دَ وراثت په تقسیم کښی سوال نشته نشی تقسیم کیدلای او دا ئی ویلی دی رسول الله مبارک په خپل قبر مبارک کښی ژوندی ده : نبی الله حی یرزق: د دغه ژوند مضمون مولوی محمد قاسم نانوتوی رحمه الله هم په خپله رساله اب حیات کښی بمالایزید علیه سره ثابت کړی ده ـ هدایة الشیعة ص ۱۸) حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علی تهانوی صاحب امر کړی ده : د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم قبر مبارک ته داسی ډیر شرف حاصل ده لکه ځنگه چه جسد مبارک د دۀ په دغه کښی موجود ده بلکه د حضور صلی الله علیه وسلم پخپله روح سره د جسده موجود ده رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل قبر کښی ژوندی ده ټول اهل حق په دغه متفق دی د صحابۀ کرامو هم دغه عقیده ده

په حدیث شریف کښې هم دَ دغه تصریح شوی ده : ان نبی الله حی فی قبره یرزق : چه رسول الله په خپل قبر مبارک کښې ژوندی ده او دهٔ لره د رزق وصول هم شته ( الحبور ص ۱۴۹ : او په دویم مقام کښې ئې هم داسې ویلی دی د حضور ﷺ د پاره وروسته د پاتـه نـه برزخی ژوند هم ثابت ده او دَ دهٔ برزخی ژوند د شهداؤ تر برزخی ژوند لوړ ده او قوی ده چه هغه ژوند ناسوتی ده یعنې قریب ده د دنیا ژوند ته لکه چه ډیر هغه دَ دنیا دَ ژوند احکام ورله ثابت دی لکه چه دَ ژوندی سړی د ښځی سره نکاح کول جائز نه ده همدا رقم د جناب کریم د هغه ازواج مطهرات سره هم نکاح نه شی کیدلای لکه څنګه چه د ژوندی سړی مال د میراث په طریقه سره نه تقسیم کیږی همدا رقم د جناب کریم مال هم د میراث په رقم نشی تقسیم کیدلای او په حدیثونو کښې د صلاة وسلام اوریدل هم ثابت دی ـ الطهور ص ۴۹) حضرت مولانا سید حسین احمد صاحب مدنیؒ هم داسې نوشته کړی ده چه وهابیان د هغه ظاهری وفات نه وروسته د انبیاؤ علیهم السلام جسمانی ژوند او د هغه بقاء او علاقه په مابین دَ جسم او روح کښې نه منی منکر دی او حضرات مبارکان د دیوبند داسې نه چه صرف دَ دی قول کونکی نه دی بلکه دَ دی د پاره مثبت کونکی دی چه دغه مذکور شیان هر څه وجود لری او لوړ دلائل وربانדי وائی او په متعدد رسائلو کښې ئې په دغه بحث کښې تصنیفونه کړی دی ، نقش حیات ج ۱ ص ۱۰۳) مفتی اعظم د پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب دامت برکاتهم (کراچی) سابق مفتی دارالعلوم دیوبند ) هم داسې نوشته کړی ده چه د جمهورو د امت عقیده په دغه مسئله کښې داسې ده چه محمد ﷺ او تمام انبیاء علیهم السلام په قبر کښې په جسد عنصری سره ژوندی دی دَ دوی هغه د قبر ژوند صرف روحانی نه ده بلکه جسمانی ژوند ده دغه ژوند د دنیاوی ژوند سره

بالکل مماثل ده بغیر د هغه نه چه په قبر کښې په احکامو مکلف نه دے او په راتلونکې کښې داسې وائي چه خلاصه نې دا ده دغه د انبیاؤ علیهم السلام ژوند د مرګه نه وروسته حقیقي جسماني ده لکه ژوند دنیاوی داسې ده دَ جمهور امت دا عقیده ده او زمونږ د مشائخنو د ټولو دا عقیده ده (ماهنامه الصدیق : ملتان جمادی الاولی ۱۳۷۸ هجری)

مخدوم دَ علماؤ د اسلام حکیم حضرت مولانا قاری محمد طیب صاحب مد فیوضهم داسې لیکلي دي چه زما او زما دَ مشائخو مسلک دا دے چه هغه په المهند کښې په تفصیل سره نوشته دي یعنی په قبر کښې علیه السلام او تمام انبیاء علیهم السلام په عنصری جسد سره ژوندی دی هغه حضرات چه د دی نه خلاف دي هغه په دغه مسئله کښې دَ دیوبند د مسلک نه ډیر ازادا ولړی دي (الصدیق مذکور) دَ دارالعلوم دیوبند مفتی حضرت مولانا سید مهدی حسن صاحب دامت فیوضهم : داسې تحریر کړی ده (جناب محمد ﷺ په خپل مزار مبارک کښې په هغه خپل جسد سره موجود او ژوندی ده دَ دهٔ د مزار مبارک کښې په سر چه څوک ودریږی او سلام ودرود ووائی هغه ئې پخپله اوری او د سلام جواب ورکوی : (الصدیق مذکور) د لاهور د اشرفیه جامعه شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب ( رحمة الله تعالیٰ علیه ، داسې لیکلي دي چه د ټول اهل سنت دغه اجماعي عقیده ده چه حضرات انبیاء علیهم السلام د وفات نه وروسته په خپلو قبرونو کښې ژوندی دي او په لمانځه او عباداتو سره مشغول دي او حضرات انبیاء علیهم السلام دغه برزخی ژوند که څه هم مونږ ته محسوس نه ده لیکن بیله کومه شکه ئې دغه ژوند حسی او جسمانی ده له دی وجه نه چه معنوی او روحانی ژوند خو عامو مسلمانانو حتی ارواحو د کفارو ته هم حاصل ده ( حیاة نبوی ص ۲ )

(**عقیده:۸**) اولی او بهتره خبره دا ده چه د قبر شریف دَ زیارت په وخت کښې د مخ مبارک طرف ته خپل مخ کړی او ودریږی دغه رقم زمونږ په نزد معتبر ده او په دغه زمونږ او زمونږ د مشائخو عمل ده او دغه حکم دَ دعا کولو ده لکه چه د امام مالک نه چه هم دغه روایت ده په هغه وخت کښې چه دَ ده خلیفهٔ کانو د دهٔ نه د فتوی طلب وکړو او دَ دغه تصریح مولانا گنگوهی رحمه الله تعالیٰ په خپله رساله : زبدة المناسک کښې کړی ده۔

(**عقیده:۹**) زمونږ په نزد او زمونږ د مشائخینو په نزد محمد صلی الله تعالیٰ علیه وسلم دغه رنگه نور انبیاء علیهم السلام په خپلو قبرونو کښې ژوندی دی لمونځونه کوی او په حسن وعلم باندی موصوف دی او په دوی باندی د امت اعمال وړاندی کیږی او دوی ته صلاة وسلام وررسیږی: طبقات الشافیه جلد ۴ ص ۲۸۲) جناب کریم ﷺ ته د امت د اجابت اعمال دَ فرشتو په ذریعه سره په اجمالی طور سره وروړاندی کیږی ده: مسند بزار په صحیح حدیث سره دا خبره ثابته ده علامه عثمانی رحمه الله تعالیٰ د دغه حدیث په متعلق کښې داسی ویلی دی چه د دغه حدیث سند عمده ده (فتح الملهم ج۱ ص ۲۱۳) حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری براهین قاطعه کښې دغه تصدیق حرف په حرف سره په غور سره ملاحظه کړی ده حضرت مولانا گنگوهی امر کړیده زه وایم صلاة وسلام ملائکه وررسوی او د امت عملونه هم په رسول الله ﷺ باندی وړاندی کیږی (براهین ص ۲۰۰ حکیم الامة حضرت مولانا تهانوی صاحب امر کړی ده چه د تولو روایاتو نه علاوه د فضیلت او اکرامه د ژوند د ملائکه وو نه دا ثابته ده چه په قبر کښې علیه السلام لره دغه شغل شته عملونه د امت ملاحظه کول لمونځ کول او نور (نشر الطیب ص ۲۹۷) د دغه عباراتو نه په وضاحت سره دا معلومه شوه چه د صلاة وسلام نه علاوه علیه السلام ته د امت اعمال هم وړاندی کیږی او د

صلاة وسلام دَ رسیدلو مطلب دا ده چه ملائکه دۀ ته اطلاع ورکوی دغه رنګه لکه دامت د نورو اعمالو حال چه ورکوی په نن صبا کښې د صلاة وسلام د رسولو نه دا معنی حاصلول جاری ده چه د صلاة وسلام ثواب تاته هم رسیږی دغه دا اجماع امت نه خلاف ده ۔

(**عقیده:۱۰**) زمونږ او زمونږ د مشائخینو په نزد محمد ﷺ او داسې نور انبیاء علیهم السلام د وفات نه وروسته هم په خپلو قبرونو کښې دغه رنګه حقیقت نبیان او رسولان دی لکه څنګه چه د وفات نه مخکښې وو علامه شامی رحمه الله تعالیٰ داسې لیکلی دی چه د اهل سنت د امام ابوالحسن اشعری رحمه الله تعالیٰ چه په ۳۳۰ هجری کښې وفات شویده د هغه بعضې دشمنان داسې وائی چه دی مبارک د علیه السلام او داسې نورو انبیاؤ د وفات نه بعد په ژوند باندی قائل نه وو دغه خاص په دۀ باندی یو بهتان دی او خاص دروغ دی امام ابوالقاسم قشیری المتوفی ۴۶۵) هغه ئی د دغه افترا سخت تردید او مخالفت کړی ده ( فائده ) دَ نبوت او رسالت د پاره په علم او حس سره موصوف کیدل لازم دی دغسې عقیده جوړول لازمی ده چه د انبیاؤ علیهم السلام په بدنو مبارکانو کښې د وفات نه وروسته هم دَ روح په تعلق ادراک او شعور کولای شی او که داسې نه وی یعنی په هغو بدنونو کښې چه شعور او ادراک نه وی په دۀ د الله تعالیٰ د حقیقی اعتباری رسول اطلاق نه کیږی په دوی کښې بیا وروسته د وفات نه د نبوت دَ صفت انعزال لازمیږی دغه رنګه په هغه مدفونه بدنونو کښې چه تعلق د روح نه وی او شعور ئی په مثل د جماداتو وی نعوذ بالله ) په دوی کښې احساس او علم نه وی د دغه وجه نه دغه بدنونه په وصف د نبوت او رسالت سره نه شی موصوف کیدلای ( والعیاذ بالله داسې خبره نه ده ).

(**عقیده:۱۱**) زمونږ او زمونږ د مشائخو دا عقیده ده چه سیدنا وحبیبنا

ومولانا وشفیعنا محمد ﷺ د ټولو مخلوق نه افضل دی او د الله تعالیٰ په نزد هم د ټولو بهتر دی د الله تعالیٰ په قرب او نزدیکت کښې بل یو څوک هم دَ دهٔ په رقم نه دی او د الله تعالیٰ سره په تعلق کښې د دهٔ حال ته څوک ورنزدې کیدلای هم نه شی دې سردار د ټولو انبیاؤ او رسولانو دی او خاتم دَ ټولو عمده او برګزیده ډلو دی دغه رنګه د نصوصو نه هم ثابته ده او دغه زمونږ عقیده ده او دغه هم دین وایمان ده او د دغه په تصریح کښې زمونږ علماؤ کرامو مشائخو ډیر خوندور تصنیفونه کړی دی (المهند ص ۲۰)

(**عقیده:۱۲**) زمونږ او زمونږ د مشائخینو عقیده دا ده چه زمونږ سردار او اقا او د قیامت په ورځ شفاعت کونکی زمونږ محمد مصطفیٰ ﷺ خاتم النبیین ده د دهٔ مبارک نه وروسته کم نبی نشته دغه رقم الله تعالیٰ په خپل کلام کښې داسې فرمائی (ولیکن محمد ﷺ د الله تعالیٰ رسول او خاتم النبیین ده) او دغه خبره ثابته ده په ډیرو حدیثونو کښې دَ دغه معنی وحد ده تواتر ته رسیدلی ده او دغه رنګه په اجماع دَ امت سره دا ډیره بعیده ده چه څوک دَ دغه خلاف کوی او یا څوک د دغه نه منکر وی هغه زمونږ په نزد باندی کافر ده ځکه دغه کس د صریح قطعی ایتونو نه منکر ده: المهند ص ۲۱۔

(**عقیده:۱۳**) زمونږ او زمونږ د مشائخو رحمهم الله تعالیٰ دَ ټولو د هغه نبوت او مسیحیت دَ دعوه کونکی قادیانی په باره کښې دغه قول ده دغه قادیانی دَ نبوت دعوه وکړله او د عیسی علیه السلام د اسمان نه دَ راښکته کیدلو نه انکار وکړونو کله چه د قادیانی دغه خبیثه عقیده او زندیق والې مونږ ته معلوم شو زمونږ مشائخو دوی ته د کافر ویلو فتوی صادر کړه قادیانی ته د کافر ویلو په باب کښې زمونږ حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهیؒ فتوی چاپ کړه او شائع ئی کړه د ډیرو خلکو سره موجوده ده (المهند ص ۴۴)

(**عقیده:۱۴**) هغه کس چه دی قول کونکی وی په دې سره چه نبی کریم

ﷺ مونږ باندی داسی فضیلت لرونکی ده لکه مشر ورور چه ئی په کشر ورور باندی لری په دغه باره کښی زمونږ عقیده دا ده چه دغه کس د دائره د ایمان نه خارج ده او زمونږ تول مقدمین علماء کرام په خپلو تصنیفاتو کښی دغه رقم بیهوده عقیده خلاف دی او دغه خلاف ئی په پوره تصریح سره بیان کړی ده ( المهند ص ۲۳) .

(**عقیده:۱۵**)مونږ په ژبه سره قول کوو او په زړه سره دا یقین کوو دا هم عقیده ده چه سردار زمونږ محمد ﷺ ته تر تمام مخلوق زیات علم ورکړل شوی ده د ده ذات او صفاتو او تشریعات یعنی د هغه عملی او نظری حکمونه د هغه حقه حقیقتونو اوله هغه پټو اسرارو سره تعلق لری چه په مخلوق کښی څوک هم دغه حد ته نه شی رسیدلی نه هغه ملائکی مقربی او نه نبی او نه رسول او بیشکه هغه ته علم ده اولینو او اخرینو ورکړل شوی ده او په ده باندی د الله تعالیٰ یو غټ فضل ده او د دغه نه دا نه لازمیږی چه د دهٔ په زمانه کښی که هره جزئی خبره واقع کیدله په هغه باندی به د دهٔ علم وی پری عالم به وی او دا هم نه چه که هره جزئی واقعه وه او د دهٔ علم ورباندی نه وو نو د دهٔ د علم په کاملیت کښی نقص راځی که څه هم په دغه خبر دوهم څوک عالم وی او دی نه وی باندی عالم په علم کښی ئی نقص نه راځی لکه چه د سلیمان علیه السلام دغه یوده تعجب واقعه وه چه ده ته ملا چرګک حال ورکاوو دغه د هد هد یا ملا چرګک ادنی علم د دهٔ په اعلمیت کښی څه تغیر نه ده راوستلی لکه چه هدهد ورته وویل چه زه تاته داسی معلومات درکوم چه تالره په دغه شی باندی څه اطلاع نشته د شهر سبا نه یوصاف خبر تاته ښکاره کوم چه ته ورباندی عالم نه یی ( المهند ص ۲۵)

(**عقیده:۱۶**) زمونږ په نزد باندی په حضرت محمد ﷺ باندی دَ درود شریف زیات ویل مستحب او په اخره درجه سره د اجر او ثواب سبب ده عالم

د دې نه که دلائل شریف وربانـدی ووائـی او کـه یو بل داسی درود وی او یا نـوری هغه په تلاوت کښی تصنیف شوی رساله وی لکن بهتره هغه ده چه هغـه د علیـه السلام درود وی او ددۀ مبارک د نامه ذکر پکښی شوی وی او د دۀ د الـفاظو نه منقول وی او که چیرته هغه غیر منقول درود وربانـدی ووائی هغه هم د فضیلت نه خالی نه ده او هغه هم د هغه بشارت (زیری) مستحق ده لکه چه علیه السلام وائی چه که څوک یو وار درود شریف ماباندی ووائی الله تعالیٰ په دۀ باندی لس واره دَ رحمت لیږل کوی ، المهند )۔

(**عقیده:۱۷**) چـه پـه ټولـو حالاتو کښی د علیـه السلام دَ یوه زره پـه رقم عـلاقـه ورسره وی د هغه حالت ذکر کولو زمونږ په نزد ډیر خوندور ده او په اعـلیٰ درجه سره مستحب ده عام د دې نه که ذکر د ولادت د علیـه السلام وی او کـه د دۀ دناستی ولاړی او خوب بیداری حتی که د دۀ مبارک د بولو کیدلو ذکر پکښـی وی هم مـونـږ ته ډیر محبوب ده لکه څنګه چه مونږ په خپله رسالـه براهیـن قاطعه کښی په متعددو ځایونو کښی په صراحت سره ذکر کړی دی او زمونږ دَ مشائخو فتوی هم پکښی لیکلی ده ( المهند ص ۳۱)

(**عقیده:۱۸**) حـضـرت محمد ﷺ او دغه رنګه نور انبیاء علیهم السلام په خـوب کښـی ئـی صرف سترګی مبارکانی ویده وی زړه مبارک ئی نه وی دَ خـوب پـه حـالت کښی د دغه وجه نه دَ دوی په خوب سره اودس نه ماتیږی ( نشـر الطیب ص ۲۲۷او ص ۱۹۴:) په بخاری شریف کښی دَ نبی کریم ﷺ ارشـاد ده : ان عیـنـی تناماں ولا ینام قلبی : زما سترګی ویده کیږی او زړه می نـه ویده کیږی : وکـذالک الانبیـاء تـنام اعینهم ولا ینام قلوبهم ( دغه رنګه د انبیاؤ علیهم السلام سترګی ویده کیږی او زړوه مبارکان ئی نه ویده کیږی) او پـه یو سفر کښی دَ دغه خوب په وجه د نبی علیه السلام نه د سهار لمونځ قـضـاء شـو داسی شبهه دی څوک نه کوی چه که ئی زړه ویده نه وای نو د دۀ

څنګه د سهار په لمانځه کولو کښې علم نه وو د هغه اشتباه په دغه سره دفعه ده چه د راختلو او داسې نورو تعلق په سترګو پورې ده په زړه پورې ئې څه تعلق نشته نو چه کله په سترګو د خوب اثر وو د دغه وجه نه ئې دَ سفیدو د ختلو ادراک نه وکړو دغه رنګه ده په نووی د مسلم شریف په شرحه کښې په جلد ۱ ص ۲۵۴: او په فتح الملهم کښې ص ۲۴۱ کښې او په امداد الفتاوی ص باندې ئې ملاحظه کړې۔

(**عقیده:۱۹**) د انبیاؤ علیهم السلام خوب هم د وحې په حکم کښې ده په بخاری شریف کښې ده: رؤیا الانبیاء وحی: ده نبیانو خوبونه وحې ده: بخاری: ج:۱: ص ۲۵)

(**عقیده:۲۰**) حضرت محمد ﷺ د شا طرف ته هم داسې لیدل کولای شی لکه څنګه چه د مخ طرف ته لیدل کولای شی (نشر الطیب ص ۲۲۸) د حضرت انس رضی الله عنه نه دا روایت ده چه حضرت محمد ﷺ داسې امر وکړو چه د لمانځه په صفونو کښې سم سیده ودریږئ زه په صفونو کښې ستاسو کوږ والی وینم (بخاری شریف ج۱ ص ۱۰۰)۔

(**عقیده:۲۱**) په دغه زمانه کښې په اخره درجه سره ضروری ده چه په څلورو امامانو کښې دَ یو تقلید وکړې لکه څنګه چه مونږ لره دا تجربه ده چه هر هغه څوک چه د امامانو تقلید ئې پریښې ده او هغه د خپل نفس او هوا اتباع کړې ده د هغه انجام دا ده چه د الحاد او زندیق واله وړندې ته لویدلې ده الله تعالیٰ دې مونږ ته پناه راکړې نو په دغه وجه مونږ او زمونږ مشائخین رحمهم الله تعالیٰ علیهم په ټولو اصولو او فروعو کښې د امام المسلمین حضرت امام ابو حنیفه رضی الله تعالیٰ عنه مقلدین یو الله تعالیٰ دې وکړې چه زمونږ مرګ او زمونږ پاخیدل په دغه حقه ډله کښې وشی او په دغه بحث کښې زمونږ د مشائخو رحمهم الله ډیر ښه تصنیفونه په دنیا کښې مشهور دی۔ (المهند ص ۱۷)۔

(**عقیده:۲۲**)زمونږ په نزد باندی مستحب ده چه انسان د دغه عقائدو او دَ شرع د هغه ضروری مسائلو د حصول نه فارغ شی چه د یو داسی شیخ بیعت وکړی چه هغه په شریعت کښی د محکمه عقیده خاوند وی او په دنیا کښی بی رغبته وی او د اخرت د اصلاح طلب دار وی دَ نفس هغه خرافات او مشکلات ئی پای ته رسولی وی او د هغه بدو حالاتو نه نجات پیدا کونکی وی او د هغه تباه کن افعالو نه محفوظ وی پخپله هم کامل وی او د بل د پاره هم په فضل د خدای جل جلاله د کاملیت جوړیدونکی وی داسی مرشد وی چه لاس ئی ستا په لاس کښی وی او نظرئی ستا د حالاتو د اصلاح طرف ته وی او د صوفیه کرامو په ذکر او فکر کښی وی او په هغه کښی فناه تام سره مشغول وی او د دغه نسبت کسب کول دغه یو عظیم نعمت او غټ غنیمت ده او دغه په شرع کښی په احسان سره تعبیر شوی ده او که یو چاته دغه اسانه نه وی او دغه نعمت پخپله ته شی پیدا کولای د دغه بزرگانو په سلسله کښی چه داخل شی هغه هم کافی ده لکه چه رسول الله ﷺ فرمائی : انسان د هغه چاسره ده د کوم چاسره چه د دهٔ محبت وی او دا دغه رقم دی چه په ناسته کښی ئی څوک نه محروم کیږی او الحمدلله مونږ او زمونږ مشائخ رحمهم الله تعالیٰ د دغو حضراتو په بیعت کښی داخل او دَ دوی په شغل کښی مشغول او په ارشاد او تلقین کښی دَ دوی شا تلونکی یو ۔ (المهند ص ۱۷)۔

(**عقیده:۲۳**) دَ مشائخو او بزرگانو د روحانیت نه استفاده کول او دَ دوی د سینو او قبرونو نه دَ باطنی فیض پیدا کول او دَ دوی د طرف نه ورته رسیدل په دی کښی هیڅ شک نشته دا صحیح دی لکن په هغه طریقه سره کم چه خواصو ته معلومه ده نه په داسی طریقه سره لکه چه اوس په عوامو کښی

رواج ده (المهند ص ۱۸).

**(عقیده:۲٤)** مونږ او زمونږ مشائخ داسی یقین لرو او دا هم عقیده ده چه هغه د الله تعالیٰ نه کوم کلام چه صادر شویده او که صادریږی یقینا صفا ده او بلا شبهه ده په دغه کلام کښی د کذب هیڅ شائبه او د خلاف هیڅ واهمه هم بالکل نشته او د دغه په خلاف که څوک عقیده لری او یا په دغه کلام کښی دَ کذب واهمه کوی هغه کافر ده ملحد او زندیق ده او په دهٔ کښی هیڅ شائبه د ایمان هم نشته (المهند ص) : واخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمین.

وصلی الله تعالیٰ علی سیدنا محمد سید الاولین والاخرین وعلی اله وصحبه وازواجه وذریته اجمعین. احقر العباد سید عبدالشکور ترمذی ابن مولانا مفتی سید عبدالکریم گمتھلیؒ سابق مفتی خانقاه امدادیه تهانه بهون مهتمم مدرسه عربیه حقانیه ساهیوال ضلع سرگودها (٦/ جمادی الاخری ۱۳۸۸ هجری والسلام).

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆☆☆☆

☆☆☆☆☆

☆☆☆

☆☆

☆

# تصدیقات

## اکابر العلماء دیوبند برکاتهم

(۱)(اصابوا بما اجابو) محمد طیب مهتمم دار العلوم دیوبند وارد حال لاهور/ ۱۵/رجب۱۳۸۸هجری/۹: اکتوبر ۱۹۶۸)میلادی

(بسم الله الرحمن الرحیم)

(۲)الحمدلله و کفی وسلام علی عباده الذین اصطفی: امابعد دغه رساله د عقائد علماء دیوبند په نامه سره ده چه تصنیف دَ محترم مولانا عبدالشکور صاحب ده هغه ابتدائی حصه ئی ما وکتله ماته اګر چه په طبیعت کښی خوند نه راکوی په دې خاطر سره ځکه چه د علماؤ دیوبند په عنوان سره یوه رساله جوړه شوی وی اویا د عقائد علماؤ دیوبند په نامه تصنیف شوی وی دغسی ناواقف خلک دا شبهه کوی او دا شک ورته پیدا کیږی چه دغه عقائد خاص د علماؤ دیوبند دی او حال دا ده چه عقائد علماء دیوبند د تمام اهل السنة والجماعة مسلمه عقیده ده تنها ده دیوبندیانو عقیده نه ده او مونږ بغیر د کوم قیل وقال نه داسی ویلی شو چه کتابونه د عقائدو دَ علماؤ دیوبند خاص د اهل السنت والجماعت سره عینیت لري دغه عقائد په تماما کتابونو کښی په صراحت سره ذکر شوی دی علماء دیوبند د هغه عقائدو هغه زبردست حاملین دی او دَ دوی دَ خلاف کولو والا سره په تردید او رد کولو کښی هغه اولین وړاندی کیدونکی دی لیکن هغه خاصه ډله چه عقائد د اهل السنت والجماعت صرف دَ علماؤ دیوبند طرف ته منسوب کوی او دَ دوی په بدنامه کولو کښی کوشښونه کوی دغه هغه خاصه مخالفه ډله ده او دغه رساله د هغه چا د پاره چه د هغه مخالفی ډلی سره مقابله کوی او د هر رد جواب ورکوی د هغه د پاره مفید ده جلالت مآب محترم مولانا عبدالشکور صاحب دَ

دغه غم خوړگی کړی ده الحمدلله دغه يو عام ضرورت ئی پوره کړی ده الله تعالیٰ دی جزاء دَ خير ورلره نصيب کړی ۔ (والله المستعان وعليه التكلان)
۲۱/۸/۸۸ هجری: بنده محمد شفيع دارالعلوم کراچی ۔

(۳)الحمد لله ذى العزة والعظمة والكبرياء والصلاة والسلام على خيرته من خلقه سيدنا محمد خاتم النبيين سيدالانبياء وعلى اله واصحابه البررة الاتقياء وتابعيهم باحسان واتباعهم من العلماء والفقهاء والاولياء وعلى المسلمين والمسلمات الاموات منهم والاحياء وبعد فقد سرحت النظر فى هذه الرسالة خطفة فوجدتها صحيحة نفسيا علقه قد ذكر المؤلف فيها عقائد علمائنا ومشائخنا اخذا من المهند وغيره من مؤلفات اكابرنا من علماء ديوبند جزى الله خيرامؤلفه الكريم واولاه اجرا جزيلا بفضله العميم وانا المفتقر الى رحمته ربه الصمد عبده ظفراحمد العثمانى التهانوى غفر الله له ولوالديه وماؤلاولمشائخه واصحابه واحبابه
(٤ شعبان ١٣٨٨ هجری ابد الابد)

(۴)رساله مې په غور سره وکتله هغه کم حضرت مفتی محمد شفيع صاحب (کراچی) مدظله چه څه ليکلی دی زه هم هغه تصديق کوم:
محمد يوسف بنوری ۲۴ شعبان ۱۳۸۸ هجری عفاالله عنه:

(۵)ای والله الاجوبة كلها لحق والحق احق ان يتبع: :احقر خير محمد عفا الله عنه ۲۵ جمادی الاخری:١٣٨٨ هجری مهتمم مدرسه خير المدارس ملتان

٦ :ذکر شوی تولې په حق دی ۔ جميل احمد تهانوی مفتی جامعه اشرفيه مسلم تاون لاهور۔

۷: العقائد المسطوره کلها حقة اتفق علیها مشائخنا و الله اعلم محمود عفاالله عنه مفتی قاسم العلوم ملتان ٢٥/٦/٨٨هـ

۸: د حضرت مولانا سید عبدالشکور صاحب ترمذی مهتمم مدرسه حقانیه ساهیوال ضلع سرگودها دغه رساله چه مشتمله په عقائدو ده اهل السنت والجماعت ده ما احقر بنده وکتله : فجزی الله المؤلف عنی وعن سائرالمؤمنین په اخره درجه سره عمده او د مسلکه د اسلافو سره بالکل موافقه ده په دغه کښی چه هر څه درج شوی دی زما هم هغه باندی اتفاق ده فقط نیاز مند محمد عبدالله عفاالله‌عنه ۲۴: جمادی الاخری ۱۳۸۸ هجری مفتی د خیرالمدارس ملتان ۔

۹ :بنده عبدالستار عفاالله عنه نائب مفتی خیر المدارس:: ملتان ٢٤ جمادی الاخری١٣٨٨ هجری

۱۰ :عبد الحق مهتمم دار العلوم حقانیه اکوړه ختك.

۱۱: په دغه رساله کښی ټول شیان چه درج دی لیک دی د دغه احقر په ټولو اتفاق ده محمد احمد تهانوی مهتمم مدرسه اشرفیه سکهر ۔

۱۲ :د علماؤ دیوبند عقائد خاص ده اهل السنت والجماعت عقائد دی هیڅ فرق نه سره لری مګر بعض کینه ګر خلک د عقائدو د علماؤ دیوبند نه ده موقع نه خلاف پراپیګنډی جوړوی او دَ دوی د خلاف غږ د هغو شعاروی دَ دارالعلوم خادمان هم د حاسدینو دامونو نه ده عوامو د بچاویدلو د پاره خپل مسلک توضیح کوی دغه رساله په دغه سلسله کښی یو ، کړیده وه مصنف د دغه رساله ته دی الله تعالیٰ د نیک عمل هغه بهتره جزاء ورنصیب کړی : عبدالحق نافع عفی عنه :

۱۳ :بسم الله حامدا ومصلیا دغه بنده د هغه مؤلف سره په ټولو امورو کښی متفق ده الله تعالیٰ دی مؤلف ته دَ خیر جزاء ورکړی : اللهم تقبل منا ومنه انک انت السمیع العلیم : مولانا: عبدالله : بهلوی عفی عنه: مهتمم

مدرسه حبیب اباد اشرف العلوم (شجاع اباد)

۱۴: بسم الله الرحمن الرحیم: حامدا ومصلیا په سنه ۱۳۳۰ هجری کښې حضرت علامه رشید رضا مصری دارالعلوم دیوبند ته تشریف راوړ د علماؤ او طلباؤ په جمعه واری کښې د حضرت شیخ الهند په اجازه او حکم سره حضرت مولانا محمد انور شاه صاحبؒ په عربی زبان کښې ښه پراخه تقریر وکړو او داسې ئې وویل: زمونږ په عقائدو کښې د حضرت مولانا نانوتوی رحمه الله امامت تسلیم کړی ده او په فروعو کښې هم د حضرت حافظ مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله امامت تسلیم کړی ده د دغو دواړو سره تر مونږ ښه صفا او روښانه علم موجود ده دَ دغو دواړو په اتباع کښې دیوبندیت منحصر ده لکه چه مولانا گنگوهی رحمه الله په رساله اب حیات کښې په هدایت الشیعیه کښې امر کړی ده اوس دغه رساله چه حضرت مولانا قاری عبدالشکور صاحب ترمذی تصنیف کړی ده مادغه حرف په حرف سره وویله او د خپلو استاذانو او مشائخو د اصولو سره حرف په حرف مطابقه ده زمونږ د اوله نه دغه رقم عقیده ده الله تعالیٰ دی مصنف علامه ته جزاء د خیر ورکړی او دَ دوی د پاره دی الله تعالیٰ ذریعه دَ نجات د اخرت د تکالیفو جوړه کړی دغه رساله چه وویله شوه ډیره خوندوره وه او د حده د اعتداله سره برابره وه او د افراط او تفریط نه بری وه، فجزاهم الله تعالیٰ خیرالجزاء: فصلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد ن المصطفی وعلی اله واصحابه واهل بیته اجمعین: احقر محمد عفاالله عنه لائل پوری، انوری، قادری، مهتمم مدرسه تعلیم السلام: سنت پوره لائل پور ۲۰ دَ ربیع الاول ۱۳۸۹ هجری۔

۱۵: تصدیق د حضرت مولانا شمس الحق صاحب افغانی رحمة الله تعالیٰ

علیه شیخ التفسیر جامعه اسلامیه بهاولپور۔ الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبی بعده : مادغه رساله په مختلفو حصو سره وکتله په رساله کښی چه کم درج شوی مسائل دی هغه د اهل السنت والجماعت سره متفق دی په دغه کښی علماء دیوبند هم داخل دی او دغه هغه حقیقی مجموعه ده دغه ټول صحی او حق دی او دَ دیوبند دَ اکابرینو د مسلک سره برابر دی الله تعالیٰ دې مصنف ته جزاء د خیر ورکړی چه په داسی محنت سره ئی دارقم د حق ویلو ترتیب کړی ده د اهل السنت والجماعت او دَ دوی د مخالفی ډلی په مینځ کښی ئی حد فاصل جوړ کړی ده الله تعالیٰ دی ترې قبول کړی امین ۔ شمس الحق افغانی عفاالله عنه جامعه اسلامیه بهاولپور صدر شعبه تفسیر ۱۰ رمضان المبارک سنه ۱۳۸۸ هجری۔

۱۶ :بسم الله الرحمن الرحیم ط نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد د حضرت مولانا مفتی عبدالشکور صاحب ترمذی مدظلهم رساله د عقائد اهل السنت والجماعت په نامه وکتل شوه مولانا صاحب داسی عقائد ذکر کړی دی چه هغه زمونږ عقیده او زمونږ د ټولو اکابرینو اسلافو تګ لاره ده علماء دیوبند د اهل السنت والجماعت یو غټه حصه ده دَ دوی طرف ته چه څوک کم د غلطی عقیده نسبت کوی مفتی ترمذی صاحب دَ المهند او نورو عباراتو نه د هغو ډیر په ښه اندازه سره دفعه کړی ده الله تعالیٰ دې قبوله کړی او جزا د خیر دې الله تعالیٰ ورکړی امین ، سید حامد میان ، جامعه مدنیه لاهور ۲۷ رجب سنه ۱۴۰۲ هجری ۲۲ مئی ۱۹۸۲ ؛—

۱۷ : حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب لدهیانوی دارالارشاد کراچی ۔ په دغه رساله کښی درج شوی عقائد صحیح دی ۔ د اهل السنت والجماعت او علماو دیوبند یو عقائد دی ( بنده بشیر احمد دارالافتا والارشاد

ناظم اباد: کراچی ۴ جمادی الاولی ۱۴۰۵ هجری)۔

۱۸: مولانا محمد فرید صاحب: دارالعلوم حقانیه اکوړه ختهک په دغه رساله کښې عقائد د علماؤ دیوبند مسطور دی ټول حق دی د قرآن او حدیث او فقه حنفی سره موافق دی او هغه دَ زیغ خاوندان چه د هغه راسخینو علماؤ طرف ته دَ بدگمانی نسبت کوی د هغو د پاره اکسیراو تریاق ده محمد فرید عفی عنه خادم الافتاء والحدیث بدارالعلوم الحقانیه: اکوړه ختهک۔

۱۹: مولانا مفتی احمد سعید صاحب، سراج العلوم سرگودها الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد محترم ورور حضرت مولانا عبدالشکور ترمذی صاحب دغه یو اهم ضروری کار کړی ده عقائد د علماؤ دیوبند د اهل السنت والجماعت عقائد دی په دغه باره کښې ئی دغه رساله جوړه کړی ده د هغه فساد والا خلکو د پاره دغه رساله د توفانچه په مثل ده (هذا هو الحق وماذا بعدالحق الا الضلال، حقیر مفتی احمد سعید عفی عنه جامعه عربیه سراج العلوم سرگودها ۲۸/۱/۸۵۔

۲۰: حضرت مولانا مفتی محمد وجیه صاحب دارالعلوم الاسلامیه، ټنډوالله یار سنده) الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی: د حضرت مولانا قاری المفتی الحافظ سید عبدالشکور ترمذی صاحب دام مجدهم رساله د عقائد علماؤ دیوبند په غور سره وکتل شوه ټول مسائل ئی صحیح او حق دی مصنف رحمه الله د وخت هغه مهمه تقاضا پوره او په موجوده حال کښې ئی د هغه فریبونو او تلبیس ازاله وکړله او دَ واقعی او غیر واقعی دیوبندی په مابین کښې ئی امتیاز او فرق وکړو فجزاه الله احسن الجزا عنا وعن سائر المؤمنین: محمد وجیه غفرله دارالعلوم الاسلامیه ټنډوالله یار: ۲۵/ جمادی الاولی ۱۴۰۵ هجری۔

۲۱: [حضرت مولانا علی محمد صاحب دارالعلوم کبیرواله ] بسم الله الرحمن الرحيم ط بعد الحمد والصلا ۃ : دغه رساله احقر مطالعه کړه ډیره مفیده وه په دغه کښی هغه عقائد حقه صحیح دی دغه عقائد بیله شکه زمونږ او زمونږ د مشائخینو دی : نفع بها ایانا وایاهم وجمیع المسلمین ووفقنا باشاعتها وجعلها الله زاد المؤلفها: احقر الانام علی محمد عفالله عنه خادم الحدیث بدار العلوم کبیروالاملتان۔

۲۲: حضرت مولانا مفتی عبدالقادر صاحب دارالعلوم کبیر والا۔ حامدا ومصليا ، دغه بنده د حضرت مولانا عبدالشکور ترمذی صاحب رساله په خلاصه د عقائدو د علماؤ دیوبند مطاله کړه دغه رساله یو د هدایت مقاله ده چه د هغه په قامت کهتراو په قیمت بهتر مصداق لری دغه په صحیح عقائدو مشتمله ده د هغو حضراتو د پاره د بصیرت سترګی دی او هغه چا چه دَ دیوبند نه تنهاد شذوذ لاره خوښه کړی وی د هغه اختیار باوجود هم دوی د دغه مقدسی ډلی سره د انسلاک اصرار کونکی دی : تقبل الله تعالیٰ هذه الرسالة وجزی المؤلف عناوعن المسلمین جزاء یلیق بشانه، بنده عبدالقادر عفی عنه خادم حدیث وفقه جامعه دارالعلوم عیدګاه کبیروالا ملتان ۱۹ جمادی الاولی ۱۴۰۵ هجری۔

۲۳: حضرت مولانا محمد شریف صاحب کشمیری مدظله جامعه خیرالمدارس

۲۴: حضرت مولانا فیض احمد صاحب جامعه قاسم العلوم ملتان نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد: په دغه رساله چه (خلاصه عقائد علماء دیوبندده کم عقائد چه پکښی درج شوی دی هغه بعینه عقائد د علماؤ د اهل السنت والجماعت دی د دغه نه د انحراف کولو والا د اهل السنت والجماعت د ډلی نه خارج دی ( محمد شریف غفرله ۲۰ دربیع الثانی سنه

۱۴۰۵ هجری بنده فیض احمد غفرله مهتمم جامعه قاسم العلوم ملتان ۱۴۰۵ هجری ۲۶.۴ ـ

۲۵: حضرت مولانا سید صادق حسین صاحب فاضل دیوبند جهنگ صدر د عارف بالله عالم سره د عمله حضرت مولانا عبدالشکور ترمذی صاحب رساله چه په عقائدو دَ اهل السنت والجماعت باندې مشتمله وه ما مطالعه کړه په دې کښې ټول عقائد په ښه انداز سره ملاحظه شوي دي او دغه واقعي د اهل سنت عقائد دي ما دغه تول درج شوي عقائد د خپلو اسلافو سره تابع ویلل (سید صادق حسین غفرله مهتمم مدرسه علوم الشرعیه جهنگ صدر ۱۴۲۵ هجری ۵:۱۹)۔

۲٦: حضرت مولانا عبدالحی صاحب مدظله شجاع اباد ملتان العقائد التی کتب شیخی ومکرمی السید المولانا عبدالشکور الترمذی کلها موافقة لعقائد اهل السنة والجماعة وحققه عندی، الفقیر عبدالحی غفرله الساکن فی قریة فاروق اباد قریب من بلدة شجاع اباد ـ

۲۷: حضرت مولانا محمد عبدالله صاحب رائپوری جامعه رشیدیه ساهیوال، ماقال الاستاذ العلام حضرت مولانا خیرمحمد جالندهری رحمه الله فهو کاف لنا، عبدالله رائپوری غفرله ۲۵ جمادی الاولی ۱۴۰۵ هجری۔

۲۸: حضرت علامه مولانا محمد عبدالستار صاحب تونسوی صدر تنظیم اهل سنت والجماعت ملتان، نحمده ونصلی علی رسوله الکریم اما بعد، د حضرت مولانا مفتی سید عبدالشکور صاحب رساله د ابتدا نه بیا تر اخره پوري ما په ښه غور سره مطالعه کړه په دغه کښې هغه نوشته شوي عقائد د اهل سنت علماؤ دیوبند د کتاب او سنت نه ماخوذ وو د الله تعالیٰ په فضل سره دغه دۀ اوسني دور د فتنو ډک عصر د پاره یو حقه مسلک ده او دَ عقائدو

باطلـه وو په رد کښې په اخره درجه سره مؤثر ده الله تعالیٰ دې مصنف علیه الرحمه ته د دغه عظیم دینی خدمت زیات اجر او ثواب ورکړی او په علمی خدمتونو کښې دی الله تعالیٰ نور هم توفیق ورکړی امین دعا کونکی محمد عبدالستار تونسوی عفی عنه صدر تنظیم اهل سنت پاکستان دفتر مرکزیهنوان شهر ملتان ۱۹ جمادی الاخری ۱۴۰۵ هجری ـ

۲۹:حضرت مولانا محمد شریف جالندهری ـ سابق مهتمم د خیر المدارس ملتان احقر محمد شریف جالندهری مدرس ونائب مهتمم خیرالمدارس ملتان

۳۰:حضرت مولانا نظیر احمد صاحب شیخ الحدیث جامعه امدادیه اسلامیه فیصل اباد ناچیز نذیر احمد غفرله۔

۳۱: حضرت مولانا محمد ادریس صاحب بنوری تاون کراچی العقائد کلها صحیحة مسلمة عند اسلافنا احقر محمد ادریس غفرله مدرسه عربیه اسلامیه کراچی،

۳۲:حضرت مولانا محمد علی جالندهری امیر مجلس مرکزی مجلس تحفظ ختم نبوت پاکستان لاشک فیه وانه لحق ـ

۳۳:حضرت مولانا محمد ایوب بنوری مهتمم دارالعلوم پشاورالاجوبة کلها صحیحة : محمد ایوب بنوری غفرله مهتمم دارالعلوم پشاور۔

۳۴:حضرت مولانا فضل غنی صاحب ، بنون فضل غنی عفی عنه مدرس مدرسه معراج العلوم ـ

۳۵:حضرت مولانا فیض احمد صاحب مهتمم جامعه قاسم العلوم ملتان دَ رحمت للعلمین محمد صلی الله علیه وسلم ارشاد ده یحمل هذه العلم من کل خلف عدوله ینفون عنه تحریفا لخالین وانتحال المبطلین وتاویل الجاهلین ، د پاکستان او هندوستان په حصو کښې د دغه حدیث مبارک هغه اولین مصداق په اوس موجوده دور کښې علماء کرام دَ دیوبند دی د

یوی صدی نه زیات عمر کیږی دغه علماء دَ کتاب او سنت وفقه اسلامیه او د نورو علومو اسلامیه وو او دَ ټولو دینی خدمتونو په کار بوخت دی عربی فارسی اردو او په داسی نورو متعددو ژبانونو کښې ئی په زرهاوو تصنیفونه او په زرهاوو دینی مدارس او دَ دوی اصلاحی او تبلیغی سیاسی فکری او عملی کوششونه دَ دوی داسی ښکاره شاهدان دی چه دغه اکابر دَ دین اسلام کامیاب مخلصین او خادمان او په فکروعمل کښې د اهل السنت د اسلافو په حق او صحی ترجمانان دی د محترم مولانا عبدالشکور ترمذی صاحب دغه رساله ده (عقائد علماء دیوبند) په نامه په دغه روښانه سلسله کښې یو کړی ده ترمذی صاحب د حق په وخت کښې د خاوندانو دَ حق صحیح ترجمانی وکړله (جزاهم الله عنا وعن سائر الاسلام) بنده فیض احمد غفرله مهتمم جامعه قاسم العلوم ملتان ۲۵ جمادی الاولی ۱۴۰۵ هجری۔

۳۶: حضرت مولانا ابوالزاهد سرفراز خان صاحب، صفدر شیخ الحدیث۔ نصرت العلوم گوجرانوله۔ مبسلا ومحمدلاومصلیا ومسلما امابعد:

قیامت نږدی راتلونکی ده هر د عقل خاوند دی د خپل حقانه فکر اظهار وکړی خو لیکن کامیابی خاص په دی کښې ده چه لن یصلح اخر هذه الامة الا بما صلح به اولها په دغه مسائلو کښې یوه مسئله په قبرونو کښې ده انبیاؤ ده ژوند او دَ درود وسلام دَ اوریدلو هم ده په دغه کښې د ۱۳۷۴ هجری نه هم مخکښې د مشرق بیا تر مغرب د شماله بیا تر جنوبه په یوه فرقه کښې یو عالم هم ده دی سره اختلاف نه ده کړی لکه چه په فتاوی رشیدیه او امداد الفتاوی او نورو کښې بالکل ظاهره ده او په تسکین الصدور کتاب کښې هم شته پراخ بحث لری د دغه تائید او تصدیق په حاضر دور کښې دَ پاکستان او هند هغه مسلمو علماؤ کړی ده او دَ علماؤ دیوبند دغه مسلک

هم ده الله تعالیٰ دی جزاءِ دَ خیر ورکړی حضرت علامه ترمذی صاحب دغه د المهند علی المفند نه جوړه کړی رساله او په اخر کښی ئی دَ موجوده زمانه دَ دیوبند د علماؤ تصدیقونه او داسی دَ نورو نورو دَ عوام الناس په مخ کښی ئی وړاندی کړی ده الله تعالیٰ دې جزاءِ دَ خیر ورته نصیب کړی امین۔ وصلی الله تعالیٰ علی خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین احقر ابوالزاهد محمد سرفراز خطیب جامع مسجد گکهړو صدر مدرس مدرسه نصرت العلوم گوجرانواله، ۲۳، جمادی الاولی ۱۴۰۵ هجری ۳۷

۳۸: حضرت مولانا قاضی عبداللطیف صاحب جهلمی حضرت مولانا ترمذی صاحب الله تعالیٰ دې عمر ورزیات کړی دَ المهند خلاصه ئی اسانه په اردو ژبه سره لیکلی ده غټ خدمت ئی کړی ده په هندوستان او پاکستان کښی د اهل السنت والجماعت صحیح ترجمان ده د علماؤ دیوبند رحمهم الله په کتاب المهند علی المفند باندی دَ حرمینو شریفینو او مصروشام دمشق او دَ نورو اسلامی ښارونو د څلورو فقو مفتیانو تصدیقونه کړی دی او د هغه وجه نه دغه یو دستاویز ده دغه د ترمذی صاحب رساله د هغه ښه ښکاره وضاحت کړی ده د ترمذی صاحب محترم په مونږ تولو باندی عظیم احسان ده۔

فجزاهم الله احسن الجزاء: خادم اهل السنت عبداللطیف غفرله ۲۳ جمادی الاخر ۱۴۰۵ هجری۔

تمت بالخیر